Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

ناول

# توربنګړی

اجمل پسرلی



Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

**تور بنګړی**

**ناول**

**اجمل پسرلی**

**۲۰۱۹**

بسم الله الرحمن الرحیم


**د کتاب ځانګړنې:**

---

د کتاب نوم: **تور بنګړي**

لیکوال: **اجمل پسرلی**

خپرندوی: **سروش کتابپلورنځی**

پښتي: **عبدالواسع هېوادمل**

د خپرونو لړ: ۴۰

شمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: ۲۰۱۹

ISBN 978-9936-647-22-0



**د دې کتاب د چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی او لیکوال سره خوندي دي**



ادرس:سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې،میرویس میدان (کوټه سنګي) کابل – افغانستان.

Sorosh Bookstore ۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲



**جلال آباد:** مومند، ختیځ او مازیګر کتابپلورنځي **کندهار:** کروړ او صداقت کتابپلورنځي **پکتیا:** روحاني بابا، ماشاءالله اوعلمي کتابپلورنځي **پکتیکا:** مجاهد او شال کتابپلورنځي **خوست:** ژوندون، رحیمي او رڼا کتابپلورنځي **هلمند:** تاج منورکتابپلورنځی **غزني:** انصاري او جدید کتابپلورنځي **زابل:** خیرخواه کتابپلورنځی **مزارشریف:** ثقافت کتابپلورنځی **کابل، احمدشاه بابا مېنه:** بدلون کتابپلورنځی، **لوګر:** مدقق کتابپلورنځی

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

## ډالۍ

د شهدای صالحین د زیارت په پښو کې مې سږکال اوړی د محمد هاشم میوندوال گور ته لاسونه لپه کړل، استاد غضنفر راته ویل، څلویښت کاله یې گور ورک و. ورته ومې ویل د موسی شفیق قبر پیدا شو؟ ویل یې ورک دی. موسی شفیق لا د ژوند پنځوس بهاره نه و تېرکړي چې ووژل شو او میوندوال نوی له پنځوسو تېر شوی و چې ویې واژه. دا کتاب د هیواد د دغو دوو سترو شخصیتونو ارواوو ته ډالۍ کوم.

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

## څوارلس کلنه کیسه

۲۰۰۵ کال و. نژدې پنځه کاله وروسته د اوبو وړي له ناوله مې داسې څه نه و لیکلي چې ذهن مې کرار کړي. یوه پنډه تشې پاڼې مې راواخیستې چې څه ولیکم، لیکل مې لیکل مې نه پوهیدم چې څه ترې جوړیږي. زړه مې ورته په تنګ شو. څو ورځې وروسته مې بیا هڅه وکړه چې څه ولیکم، تیره لیکنه مې په ذهن کې وه ما غوښتل چې هغه له سره ولیکم بل څه ولیکل شول. دا پاڼې مې هم د مخکنیو پر سر کیښودې. څو اونۍ تیرې شوې. لکه له تښتیدلې خوبه چې پښې سوځې داسې ناارامه وم. لیکلي پاڼې مې راواخیستې ومې لوستې خوند یې راکړ ورته کښیناستم تر هغو مې ولیکل چې ستړی شوم، خو پوهیدم چې په سمه نه یم روان. ځان مې محاکمه کړ:

«ولې څه نه شې لیکلی؟»

«ډیر وخت دې منظم څه نه دې لیکلي؟»

ځواب راسره نه و. په حل لارې مې فکر وکړ. ما ویل د ناول نقد به ولولم که لارې راته پرانیزي. لوستلو ته مې مخه کړه. فکر مې نقد ته واوښت په دې وخت کې مې پر (اوبو وړې) د يوه لیکوال چې خپله کیسه لیکوال نه و، نقد ولوست. اوبو وړی یې غندلی و. ورته بله لیکنه هم یو چا له کابله پراګ ته راوړه. په دې لیکنو کې د کار څه نه و. ناقد که لیکوال ته لارښوونه نه شي کولی هسې سپینې پاڼې توروي.

تر دې وروسته مې بیا ناول په نیمه لار کې پریښود، که یې پرېښودم خو لوستل مې کول د نقد اصول مې ولوستل، د ناول او لنډې کیسې توپیر ته تم شوم د کیسو د پیل او پای په اړه مې ځیني لیکنې ولوستې د پلاټ په باره کې مې یو غټ کتاب ولوست خو دا اوریدلې خبره مې په ذهن کې پخیده چې کره کتنه ډیر کله لیکوال له لیکلو باسي.

د دې نقدي مطالعې له برکته مې د نجیب محفوظ څرنګه لنډې کیسې لیکي کتاب چاپ ته تیار کړ بیا همې (ماشومانو ته څرنګه کیسه ولیکو) کتاب د ګران اجمل تورمان په برکت چاپ ته چمتو شو. ناول لا پروت و بیخي مې زړه نه کیده چې پاڼې یې واړوم دا هغه وخت و چې لیکل مې په کمپیوټر کې پیل کړل د کمپوز پرمهال به مې موضوع له ذهنه وتله اخر پرې داسې عادت شوم چې د ټایپ په وخت به مې فکر یوازې لیکلو ته اوښت. تر دې تجربې وروسته مې ماتې ګوډې لنډې کیسې ولیکلې خو د ناول د نه لیکلو د درد څپې پسې اخیستی وم:

دا دستور دی چې له درده زګیروی خیژي
کنه څه و د رحمان له شاعری

د شعر لوستلو ته مې مخه کړه د نزار قباني شاعري پسې واخیستم سخت خوند یې راکړ په دې پسې مې د بل عرب شاعر محمود درویش شعرونه ولوستل نو په زړه کې راتیر شول چې کیسې خو لکه کورنۍ کوترې الوتې دي چې ترڅو راګرځي راځه د شعر نقد ته مخه کړه همدا و چې د عربي نوي شعر په اړه مې لیکنې وکړې چې بیا د کتاب په بڼه چاپ شوې. د خپل بابا محمد

صدیق پسرلي له مړینې وروسته مې یو ځل بیا د ده له شاعري خوند واخیست دې لوستو د پسته اور نقد راباندې ولیکه.

د خپل پلار دا خبره په ذهن کې راگرځیده چې هرې خواته لاس مه اچوئ که کیسه لیکئ همدا ټینگه کړئ. دې خبرې بیرته د کیسو په لور روان کړم. د نور خلکځ په نوم مې بهرني کرکټرونه د کیسو په انداز ولیکل چې له دې سره مې د کیسو د چینو شگې لرې شوې په منډه منډه کیسې لیکل کیدې نو له ځانه مې پوښتنه وکړه چې ناول ولې نه شې لیکلی؟

د نیمگړي ناول پاڼې مې راواخیستې ژر ژر بشپړ شو. تر لیکلو وروسته چې مې د نقد له اصولو سره وتاله، بیا هم سم نه و بیا بیا مې هڅه وکړه چې سره سم یې کړم. هرځل چې به مې ناول لیکه له لنډو کیسو به یې ایستلم ذهن به یې بوختاوه. دې ته مې هم زړه تنگیده خو دې هڅې اخر خبره دې ته ورسوله چې تور بنگړی څوارلس کلن مزل کچ کړي او بشپړ شي.

دا دی اوس یې سروش کتابپلورنځی چاپوي له دوی څخه ډیره مننه چې زما دا اثر چې زه یې کلونه کلونه ستومانه کړی یم تر تاسو دررسوي، ما ترې بیغمه کوي چې نور مې ونه ځوروي چې سمون پکې راولم او د لنډو کیسو له دنیاگۍ مې بهر کړي.

درنښت

**اجمل پسرلی**

۲۰۱۹

په هدیره کې د ګور پر لور یوازې رهي وه. شاوخوا څوک نه و، د جمرود د دښتې له لورې د کچه ګړي پر کمپ رامات تاوده سهارني شمال ته یې څادر له سره ښویده خو دې په دواړو لاسو تکیه کړی و.
د ګنو خلکو څرپې یې اوریده چې پر پوټلنه مځکه درانه ګامونه پسې اخلي، شاته یې نه کتل، له لرې یې غبرګې سترګې یوه ګور ته نیولې وې. څرپ څرپ زیات شو. د دې په باور د شمال غږ و، خو داسې څرپې شو لکه ډله خلک چې منډې ورپسې وهي. ګور ته لا څو ګامه پاتې و، په وارخطایي یې شاته وکتل. دې خوا هاخوا د خلکو سیوري دریدلي وو، سترګې یې پټې کړې، سر یې وڅانډه، ژر یې بیرته سترګې پرانیستې هیڅوک نه و. غوني یې زیږه شول، په شا شا د ګور خواته ولاړه، د ګور پر شناخته یې لاس تکیه کړ. پخوا یې هم په هدیره کې څو ځله داسې احساس کړی و چې څوک یې څاري خو بیا یې زړه ته لویدلې وه چې دا هسې یوه واهمه ده. له ګور سره کښیناسته. څادر یې پر سر سم کړ، لاسونه یې لپه کړل:
« میونده زویه! شهیده زویه!...مور دې ورکه شه کاشکي ځواني مرګ نه وای ...د جنتونو سردار شې...»
څڅیدلو اوښکو ته یې پلو ونیو. د ګور پر خاورو یې رغوی تیر کړ. په ناستو یې له شاوخوا څو وړې ډبرې ورواخیستې، د ګور پر سر یې کتار کړې. ټیکونه یې په لاسونو ټینګ کړل. له یوه سره تر بل سره یې پر هدیرې نظر تیر کړ، تر پخوا لویه ورته ښکاره شوه. لاسونه یې پرمخ راکاږل. سر پرې وګرځید، د ګور پر جنډه یې مخ کیښود، د جنډې پر سر شنه ټوټه رپ رپ باد ته ورپیده. دې

سترګې ورپورته کړې بیا ورو ورو روانه شوه. درې ځله یې د هدیرې لور ته مخ واړاوه، بل ځل چې یې شاته کتل د کډوالو نویو خیمو هدیره ترې پناه کړې وه.
په کوڅه کې یې زوی د پاچاکور ته سترګې نیولې وې. د هغوی پر وره د ګونی راځوړنده پرده خوځیده، شاته یې په سره کمیس کې ځوک ښکاریدل. مومن پر خپلو تازه رابوټیدلیو ماتو لاس واهه چې له لرې یې پر مور سترګې ولګیدې شا یې ورواړوله. هغه یې ځنګ ته چټکه تیره شوه، پلو یې مخې ته نیولی و، چې د خپل کور ور یې پورې واهه. مومن ورپسې منډه کړه له ځرېي سره یې د مور مخ ته نیولی پلو ولوید، پر تټر یې لاس کیښود:
- اوف زویه زړه دې بوټ راوایست
مومن ورته وویل:
- ادې څه شوې ابا مې پسې غوښتې
په نیولي غږ یې ورته وویل:
- هدیرې ته تللې وم
- څه دې کول
- که ولاړو بیا به مې یادیږي
- بیا به دې فشار جګ شي
مور یې پر خپلو شونډو لاس کیښود:
- غږ مه لره اوس به دې پلار هم بیا نصیحتونه راته کوي دا کوډګر خو په کوڅه کې نه و، دا پاچا چې بیا شیطاني وکړي
- ادې هغه بیچاره مه ملامتوه تر دوی ښه خلک والله که په دا کوڅه کې وي
مور یې خپلې شنې پلاستیکي چپلکې د کوټې مخې ته سره ورو ورو وجنګولې چې خاورې یې وڅنډي. د مومن د پلار ټوخی شو، غږ یې کړ:
- راغلې پاچا صاحب دوی ته ورغلې وې
د مومن مور مومن ته وکتل، مومن سر ورته وخوځاوه چې همدا خبره ورته وکړي. دې په ټیټ غږ وویل:
- هو

روزي خان د جالی سپینه خولی له سره لرې کړه:
- په دغې پسې مې کور لټ په لټ کړ، نرور دې هم له هلک سره ما د پاچا دوی خواته ولیږله، ودې لیده
د مومن مور د خپل زوي لور ته شونډې بوڅې کړې چې څه خبره ده. میره یې ورته وویل:
- څرنګه ژر ترې راغلې
- نور مې څه کول
- ته هم زړه شوې تر تا دې هغه نرور ښه ده غم ورسره ژاړي، فشار خو به دې بیا نه وي پورته شوی
د مومن مور تر ژبې لاندې وویل:
- غم ژاړي... غم ژاړي
له همدې سره وپوړیده. مومن ورمنډه کړه دوا یې له رېکي ورواخیسته د دې تر ژبې لاندې یې ګولی کیښوده.
پلار یې د خپلې میرمنې پر سر څادر سم کړ. د پښو په څوکو تر دروازې ولاړ، ور یې ورپسې پورې کړ. مومن ورته کښیناست. د مور یې خرهاری شو.
ښځې چې سترګې وغړولې، د مومن لاس یې ونیو:
- پر پاچا دوی څه شوي
- ترور یې مړه شوې
دې سترګې پټې ونیولې:
- اوف، خدای دې وبښي مرګ یې پرده و
مومن د دې لاس وموښه. مور یې وویل:
- ترور یې ډیره بوډۍ وه، خو ولې دې ماته په دروازه کې نه ویل
- ما ویل فشار به دې جګ شي
- څه مو سره پاتې دي چې فشار مې پرې جګیده
مومن غاړې تازه کړې:
- ادې په دې ټوله کوڅه کې بس همدوی دي

د دروازې کړغ شو. روزي خان و، چې ویې لیدل ښځه یې ویښه ده، مومن ته یې وویل:

- مومنه دا ګیلم د پاچا دوی کور ته یوسه هغه راته ویل چې ټول مال یې کابل ته وړی بس دا ضروري شیان یې پرې ایښې دي

مور یې په زګیروي ټیکری پر سر سم کړ، د دیوال خواته شوه. مومن د دې تر توشک لاندې ګیلم ورکش کړ پر اوږه یې واړاوه.

په کوځه کې نارینه راپنډ شوي وو. د پاچا دوی د کور ور پورې و خو د ګونې پیځکه چا پورته پر میخ ځوړنده کړې وه. مومن د دروازې مخې ته ودرید. یو سړي ور پورې واهه، ده ته یې اشاره وکړه:

- دا کور یې سړیو ته خلاص کړی بیغمه ورځه

مومن کور ته شا واړوله، ګیلم یې پرمځکه واچاوه، پلار یې غاښونه وچیچل، ورپه غوږ شو:

- پورته به دې ایښی و ټوله سره خاورې دي

پر کټ ناست یوه سپین ږیري مومن ته ورغږ کړ:

- دغه ګیلم بیرته کورته یوسه که کټونه لرئ کټونه راوباسئ

پاچا له یوه بل کټه راپاڅید، مومن ته یې وویل:

- بچو دغه زنانه و ته ورووړه، د معلم صاحب دوی کور ته، دلته به کټونه کیږدو.

د پاچا د ترور کور د شا په کوځه کې و. تر هغه ځایه د مومن اورمیږ وچ شو چې دروازه یې ټکوله، ګیلم ترې پرمځکه ولوید. یوې وړې نجلۍ پرده پورته ونیوله. وړاندې ښځې ښکاریدې. ده ګیلم ورکش کړ له وره سره یې کیښود. کمیس یې له دوړو وڅانډه، په غولي کې یې پر یوې نجلۍ سترګې ولګیدې چې د ده خواته یې کتل، کمیس یې همهغسې سور و چې نن سهار د دروازې د زړې ګونې شاته خلیده. مومن دروازه ورپسې پورې کړه، د دروازې د دړو له مینځه یې کور ته وکتل. له شا پاچا پرې غږ کړل:

- بچو ګیلم دې څه کړ؟

مومن ژر ژر سترګې ورپولې:

- دغه... دغه دروازې سره مې کېښود، درونډ دی ورته کتل مې چې څوک يې وړي دلته خاورې دي

پاچا د مومن پر اوږه لاس کېښود، ور يې پورې واهه. بل لاس يې ګيلم ته ونيو چې مومن يې ورپورته کړي. مومن پر ګيلم غېږ وګرځوله. په برنډه کې څو زړې ښځې ناستې وې چې د دوی له ورتګ سره يې پلوونه مخ ته ونيول. لږ وړاندې په تياره غونډې کوټه کې پر هغې سرې کميسې د مومن سترګې بيا ولګيدې.

د کړکۍ پر ژۍ د حلوا نکلي بیشقاب ایښی و، خوږ بوی یې په نیمه لوڅه کوټه کې خپور و. حلوا د پاچا د ترور د څلویښتې وه. پاچا دې ورځې ته انتظار و، سبا یې کابل ته لیښل.
ده روزي خان ته ویلي و چې د دوی یو څه مال به هم له تورخمه د خپل کور له ښځو سره تیر کړي. مومن سره نغښتې غالۍ د کوټې په گوټ کې ودروله.
د مومن پلار پر غالۍ لاس تیر کړ:
- چې نور څه شی پاچا ته ورکړو
میرمنې یې ورته وویل:
- په دغه څه باور دی چې دا نیمه کله ورسپارې
د مومن پلار خپل مخې ته لاس تیر کړ:
- موږ دا ټول کور او د دوا کارتنونه په خپله په تورخم نه شو تیرولی پولیس به مو پوست کړي ښه ده چې نیم یې پاچا دوی پورې باسي
میرمنې یې ټیکرۍ پر سر سم کړ:
- دی بیا له کومه داسې د خیر سړی شو چې کله ان تر کابله راته یوسي
سړي د مومن خواته لاس ونیو، هغه پوه شو چې پلار یې توکدانۍ غواړي، هغه یې د ده مخې ته کېښوده. ده نسوار تو کړل:
- په دې نیمه کله پاچا راشن اخلي
- ما ویل چې څرنگه!
سړي ژبه پر تالو او وریو تیره کړه د نسوارو پاتې دانې یې تو کړې. میرمنې یې بیا پوښتنه وکړه، د څه شي راشن؟
- موسسه د کلې پر سر غنم ورکوي
ښځې یې شونډې بوڅې کړې. روزي خان ورته وویل:

- مه کوه غریب سړی دی چې موږ هم څه ورسره کړي وي
مومن له نغښتي غالۍ سره ودرید:
- ابا د کابل وضعه ښه نه ده له امر بالمعروفه خلک ډېر په تنګ دي کاشکي دا پاچا صاحب دوی هم کله نه کولی
- د کابل د کور سر چې مې هاغه تیره میاشت پټاوه خدای داسې کراري وه لکه د ظاهر شاه د پاچاهي
مومن غاړې تازه کړې:
- په کابل کې د پاچا دوی له کوره لرې یوو؟
مور یې ورته وویل:
- ښه ده چې له دغه کوډګره خلاص شو
مومن یوځل دې ته بیا خپل پلار ته سترګې واړولې:
- بیخي ډېر سره لرې یوو
- لکه دغه زموږ کچه ګړی راواخله د پیښور تر صدره دومره لاره خو به وي
مومن اوهو هو کړل. مور یې پر توشک د روزي خان خواته ورنژدې شوه:
- سړیه دا د کابل تګ ته بیا یو وار ښه فکر وکړه هغه ده کمپ ته نوې کلې له کابله راغلې دي خیمې یې ولاړې دي
- څه خبره یې چې له کابله راغلي
- نو له کومه راغلي
روزی خان توکدانۍ له خپلې مخې اړخ ته کړه، د یوه لاس ګوتې یې په بل لاس کې ونیولې، یوه ګوته یې ورغبرګه کړه:
- سلطان به راپیدا کړو له دې ځایه ایران ډېر لرې دی هغه به له هغه ځایه کابل ته دوا راوړي
ښځې یې تیکری د ښې غوږ له سره شاته کړ. روزي خان بله ګوته ورغبرګه کړه« دغه مومن به هم له خیره سره دا دی ږیره بریت یې راغلې دي کال ته به له پیښوره دوا راوړي او د لوښو حال به دې هم له کندزه واخلو هرڅه به سره سم شي تر کله به په پردي وطن کې په پردي کمپ کې پراته یوو»

میرمنې یې سر ټیټ کړ، د کټ له لاندې یې څادري بکس ورکش کړ د غالی ځنګ ته یې کیښود. د دې د نږور چې د وره شاته یې غوږ نیولی و د سلطان د نوم له اوریدو سره پټرې نیولې شونډې ویرې شوې، تر ټیکري لاندې یې پر خپلو جړ ویښتولاس تیر کړ:

- ادې له هغه بلې کوټې څه شی پاچا صاحب ته ورکوو چې رایې وړم

خوابښې یې په زګیروي ولټیده:

- ته ودریږه زه به یې وګورم

مومن خپل پلار ته وویل:

- ابا پاچا صاحب سبا دا مال تیروي موږ به بیا کله له خیره سره پسې ځو؟

- بله جمعه که د خدای رضا وه.

د کابل په خوشال مېنه کې د (بټ ګهز ټرانسپورټ) لاری له دریدو سره دوړې باد شوې. مومن څادر سترګو ته ونیو. د لاری د راځوړندو زنځیرونو له ګړنج ګړونج سره د کوځې کوچنیانو چیغې کړې:
- کوچ امد
- از پاکستان امد
مومن د غنمو بوری ته اوږه ورکړه. بوری یې سمه تکیه کړې نه وه چې ډزې شوې. بوجی یې دستي پرمځکه کېښوده. موټروان پر ولې وټپاوه:
- په شمالي کې اول خط رامخکې شوی طالبان به یې بیرته په شا کړي
ډزې تیزې شوې، مومن پورته غورځار شو. موټروان ته یې وویل:
- دا خو دلته نژدې ښکارې
موټروان له نسوارو ډکه خوله له خندا ټینګه ونیوله. مومن ورټیټ شو بوجی یې په غیږ کې واخیسته د کوردننه یې د وره په خوله کې کېښوده. غولی کوچنی ورته ښکاره شو. دیارلس کاله مخکې چې دوی پاکستان ته مهاجر شوی وو هغه وخت ده ته د کور انګې لوی ښکاریده. مخامخ کوټې ټیټې ورمعلومې شوې. د حویلۍ په منځ کې څاه ته ودرید، څاه وچ و، لاندې پکې درې رنګه پلاستیکونه پراته وو. مومن ته کوچنواله ورپه زړه شوه چې نوی یې څاه کینیستلی و انا یې په چوتره ناسته وه ورته ویل یې « زویه الویزاند یې څاه ته مه ورنژدې کیږه»
چوتره اوس د ده په سترګو ټیټه او وړه وه. د کوټو په خوا ورچټک شو درې څنګ په څنګ خونې په نظر وړې ورغلې. د کوټې په مینځ کې ودرید، د لوخو بوی و. چت ته یې وکتل چې پلاریې څو اونۍ مخکې پټ کړی و. د توربخونو لرګیو شاته بوریاوي تکې سپینې ښکاریدې. د انا د قرانکریم تاکۍ ته

ودرید، هغه به د تاکۍ لاندې ناسته وه د قران شریف پر خطو به یې ګوته تیروله، کله به یې غږ لوړ شو... یا ایها الذین آمنو... کله ټیټ... روزي خان ناره کړه:
- څه شوې زویه ؟!
مومن له ورسۍ ورټوپ کړل. نژدې له خپلې ورینداریې سره لګیدلی و، د هغې بستره پر اوږې وه. ده پلار ته وویل:
- دا مخکې ډزې نژدې نه وې
پلاریې ژبه په خوله کې واړوله راواړوله، راغونډ کړي نسوار یې څړپ، تو کړل:
- زو دې مړنه شه ایکه ستا بیا په یوه بوجۍ ساه تر خولې وختة
مومن کوڅې ته تیر شو. ده ته کوڅه لنډه معلومه شوه د ګاونډي د کور مخې ته د بریښنا پایې ته څیرشو، د سیمنټي ستنې پر سر مرمۍ لګیدلې وه، په اوسپنه کې نغښتې سیمنټ یې راځړیدل، سیمان یې شکیدلی وو. پخوا به ډیر کله په دغو سیمانو کې د ده کاغذ بادونه نښتل.
د کوڅې کوچنیانو د لارۍ زنځیرونه وشرنګول. روزي خان پټکه وکړه: « د سبې مچانو غوندې یاست له موټره لرې کیږئ نه».
ماشومانو منډه کړه بیرته له هغه بل لورې راوګرځیدل. روزي خان ډرایورته ورپه غوږ شو بیا یې مومن ته ورو وویل:
- په دې ارجل برجلو پسې ګوره څه ترتخرګ نه کړي او له هغه دوا سره پام کوه
مومن په خندا یوه اته نهه کلنه شین سترګې نجلۍ له اننګو کش کړه، نجلۍ لکه له ډزو ترهیدلې، سترګې یې رډې رډې راوختې، ټوپ یې کړل. مومن ورمخته شو چې په سرباندې یې لاس تیرکړي، دا په شا شوه. د روزي خان مزغی د دوا تر کارتن لاندې و، په نیولي غږ یې ده ته وویل:
- ژرکوه ملا دې ماته ده
مومن نجلۍ ته وویل:
- اې اې دغه غوټه خو هاغه مخامخ کوټو پورې یوسه

نجلی منډه کړه، مومن پر بستري غېږ وګرځوله. چې پلاربه یې مال ننویست دی به موټر ته ولاړ و، چې دی به ننوت پلار به یې مال ساته. ښځو کوټې جاروکولې. د مومن مور راغله له دوی یې وغوښتل چې یو ځل د یوې کوټې شیان بیا د بلې او بیا د دوا کارتنونه خپل ځای ته یوسي. د دریمې کوټې مالونه یې لا نه و ځای پرځای کړي چې مومن خپل پلار ته ورغږ کړل:

- ابا ! ابا ! پاچا صاحب راغی..

روزی خان ګوتې پر تندي تیرې کړې، پاچا ته یې خولې ورښکاره کړې:

-کابل هم هغه پخوانی کابل نه دی ګرم شوی دی

-صاحبه کار دې کړی

- پاچا صاحب اول به دغه د دوا د خرڅیدو غم راته کوې

پاچا د مومن پر اوږه لاس کیښود:

- هغه به په قراره وشي

مومن ته یې په اړخ وکتل:

- بچو سترګې دې ژوري ژوري شوي.. لار لکه چې ښه پارچه پارچه کړئ؟

- ډیر سترې نه شو، خو په لاری کې چې ناست یې جمپونه یې ډیر وي

-سړک هم جنګونو مات کړی خو..

- روزي خان په خوله کې ورولوید:

- ځب ځب شو خو شکر چې په خیر راورسیدو

مومن د موټر باډۍ ته غاړه ورهسکه کړه، دوې ورې غوټې پاتې وې، هغه یې د کور دننه له وره سره کیښودې، پلاریې افغانی ورته ونیولې چې د خاورو تیل راوړي بیا یې موټروان ته پیسې وګڼلې. کله چې روزي خان موټروان ته کلدارې ورکولې د کوڅې کوچنیانو خیرات ته لاسونه اوږده کړل. ده دو دریو ته د افغانی سلګون ونیو هغوی کلدارې غوښتې، پاچا لوټې ته لاس کړ، کوچنیان خواره شول خو بیا راټول شول، روزي خان د کور ور پرانیست، نارې یې کړې:

- یو ګیلم او توشک پر چوتره واچوئ، پاچا صاحب دی

میرمن یې ترژبې لاندې وزغونځیده:

ـ وی دی لغړ بیا راغی
نږور یې د خاورو تیل په اشتوب کې واچول خو خوله یې نه اخیسته. روزي خان ته یې سره ورغبږ کړل. هغه اشتوب پاچا ته راووړ، پاچا پنځه زریز نوټ مومن ته ونیو:
- بچو ته ورشه څو پیلتې راوړه ورته وایه ایراني راکړه دا بدلې دي
روزي خان یې لاس ونیو، پاچا پیسې د مومن خواته ورغورځارې کړې:
- کلداري هم ښې چلیږي خو افغاني به نه لرئ
مومن د هغه پیسې وانه خیستې. په پلیتو پسې ووت. په کوڅه کې دوړې وې، خو شمال یخ لګیده. د یوه پاخه کور دوهم پوړ پیک لاندې کوږ شوی و، د بل کور اوسپنیزه دروازه مرمیو غلبیل غلبیل کړې وه.
مومن ته یوې ډلې خیرنو ماشومانو رډ رډ وکتل، ده لاس ورته خوځاوه هغوی لکه شرمیږي چې، د سترګو پر سر یې مړوندونه ونیول.
د دوکان قفسچې خالي ښکاریدې. مخې ته یې شمع بناسپتي غوړي ایښي و. د خاور د تیلو تیز بوی د دوکان له مینځه راته، دوکاندار مومن ته پلیتې ورمخته کړې. د ده پام نه و، ناڅاپه یې ورپام شول، په جیبونو کې لاس ننویست چې پیسې راوباسي. دوکاندار ورته وویل:
- اګه کلدار باشه هنوزه خوب
مومن افغانۍ ورته ونیولې. د ترانې غږ جګ شو« شو د فتح کاروان اسلامي امارت» د کابل- کندهار پر پراخې لارې د طالبانو ډاټسنه تیزه تیره شوه او د فتح د کاروان ترانه یې له خپل غږ سره یووړه.
د چای تردمیدو څو وارې وروټکید چې مومن به وررووت ماشومان وو، خیرات یې غوښت، ده به ځواب کړل.
ګرزشو، روزي خان، د خیرکه اې ناره کره
مومن په لاس کې نیولې خولۍ پر سر کیښوده ، غړی یې هسکه کړه، غوږ یې ونیو.
پاچا وویل:

- « اوله خطه هاغه ده قره باغ سره ده، کابل امن امنیت دی دا ماینونه دي له پوهنتون سره یو مرکز دی باجه مې پکې رییس دی، دغه مومن ته ګوره هغه ته ګوره » پاچا د چایو غوړپ وکړ « ډیر ښه خلک دي د ښار ماینونه ټولوي بیا یوځای ډز ورکوي »

روزي خان د چای پیاله کلکه په مخکه کیښوده:

- یاره پاچا صاحب تیر ځل چې راغلم یوه ورځ ګلکار نوي په هاغه هاخواتنۍ کوټې دستک اچول ګړز ګړوز شو، سخته یې وارخطا کړم ما ویل ته هم ورته په کډه راځې، د دوا تجارت کوې، بیا استادکار دغه د تا نکل وکړ چې په کمپنۍ کې ماینونه خلاصوي

پاچا ناشکن پیاله پورته ونیوله له لاندې یې ورته وکتل:

- د دې خوشال مینې ښې خوږې اوبه دي، ارمان دی چې دا امنیت یې لږ ښه وای

مومن سترګې پورته کش کړې، تندی یې ګونځې ګونځې شو:

- ولې دې خواوو ته امنیت نه شته ؟

- داسې غلا ملا خس دوزي مس دوزي کیږي

روزي خان پاچا ته د نسوارو کڅوړه ورواچوله:

- پاچا صاحب غلا بیا کله په وطن کې نه کیده په دې کرار پاکستان کې غله کم دي؟ دا زموږ تاسې په کمپ کې څو واري غلا وشوه، هغه څه نومیده هغه د تا د تروږزي معلم صاحب جان محمد ګاونډی، هغه د تا تربور یادوم چې ماته یې دوا هم په تورخم راتیره کړې وه ..

- ګل روز

روزي خان په خندا وویل:

- نن تا زموږ مال کابل ته رابارکړ سبا ته یې د ده غلا وشوه

- څه یې ترې نه وړي ؟!

روزي خان له ترموزه چای ورواچاوه، له توشکه رامخکې شو. په ویرو شونډو یې کیسه پیل کړه « داسې و چې د شپې یې کټ کوټې ته راایستی و پکې یې

ورته ایښی و خپله یې ویل، یووخت راویښ شوم ګرمي مې شوې وه ګومان مې وکړ چې برق تللی خو لړ لړ شمال لګیده چې سترګې مې رڼې کړې یو سړی راته له لرې د لاس پکی وهي » روزي خان د چای پیاله په سر واړوله په خندا یې پسې وویل« هغه ویل ، ګل روز ښیم ، چې سترګې مې خلاصې کړې دغه د پکي وال منډه کړه ، وډارشوم پیری و که څه شی و پسې ومې کتل په تیاره کې ورک شو دغه د پیري ډار راسره و چې پام مې شو دا خو ملګري یې پکی وړی، دی هم غل و د دې لپاره چې زه له ګرمي راویښ نه شم نو پکی یې راته واهه پسې ورهي مې کړه ، ځای و جولا نه ، مځکه وچاودیده سړی پکې ننوت»
د پاچا کنډاسه خوله له خندا سره ولاړه:
- تاڼې ته به یې خبر ورکړی و؟
- پولیس خپله غله دي سهار په جومات کې ټولو دغه سلا ورکړه چې تاڼې ته مه ورځه پوست به دې کړي
- صاحبه رښتیا تاسې خو په تورخم کې پولیسو په تنګ نه کړئ ؟
- پیسې یې واخیستې
- څو ؟
- یوڅه خو ښه ده چې ډیر مال تا راتیر کړی و
- دوا ته یې پام نه شو
- زنانه د دوا په کارتنونو ناستې وې
- سخت چال تللی یې کنه دوا بې پیسو نه پریږدي
- د مومن مور هغه د شهید میوند عکس لا راتیر کړی په بستره کې یې ایښی و پاچا وخندل. مومن خوله ورټوله کړه :
- پولیسو داسې ...
پلاریې خبره ورقطع کړه ، پاچا ته یې وویل:
- ته مره دا نسوار رادې خوا کړه
پاچا د نسوارو د کځوړې سر ورتاو کړ، ده ته یې ورواچوله :
- ښه تور نسوار دي په دې وطني شنو شمه نه ماتیږي

ـ پاچاصاحب ! تاچې زموږمال راتیراوه پیسې دې ورکړې ؟
- ها دومره خبره نه ده
روزي خان ترموز ته لاس کړ:
- چای شته
پاچا په پیاله لاس ونیو:
- خیر بیا به په کراره حساب وکړو، بس نور نه څښم .
پاچا پر ګونډو لاس کیښود، دوی ته یې وویل چې بیګا له کوره ډوډۍ راوړې.
د مومن مور له روزي خانه پوښتنه وکړه :
ـ پاچا څه ویل.. کالي نه راوړې؟
- یا والله وشرمیدم ما ویل په زړه کې به یې ورتیرشي چې زه د کالیو په سر د کومکي غنمو لپاره ورته وایم
میرمنې یې دغنمو په ګونې لاس ننویست یوه لپه غنم یې راوایستل:
- داسې غنم دي لکه شیشه، پام چې پاچا ته هغه نور ورپرې نهږدې، هغه دغسې لوی الوی دی په دې یوې میلمستیا به دې غنم وخوري
- دومره ده که تیر وار بار زما و ګوتې خو د ده ښځې په باډرو لګولې وې نو که انصاف وي یوه بوجۍ به وګرځوي یوه به راوړي
- که دغسې بې خولې وې واله که د نینو غنم لا ترې ګوتو ته کړې
- مه کوه یو دوه ورځې دې تیرې شي، دا د کور دوا چې مې خرڅلاو ته وړه پاچا ته به یې تر غوږ ورتیره کړم
- سږې دلته پیښور مه جوړوه چې نن سبا کوي هغه د سلطان جان په هیله راغلې یم ، دوا دې ژر خرڅوه چې له خیره بل وار په مال پسې ایران ته ولاړ شې
- په ایراني دوا به په پښو ودریږو زښته ښه بازار یې دی که خدای کول د سلطان جان درک به هم معلوم شي که یوواري کار سر ونیوی سلطان به له مشهده د دوا انډي رالیږي دغه بل دغسې نه پریږدم دی به یې له پیښوره راتیروي.

ښځې یې په ټیکري مول وواهه ، ګیلم ته یې جارو ونیو. روزي خان په لاس کړي سوار ساعت ته وکتل:
- د مازدیګر لمونځ شو
ښځه یې په جګو پښو کیناسته جارو یې پر بالښت کیښود:
- وخته نه ده
روزي خان د خپل ساعت شیشه په ګوته وټکوله:
- له نظره دې نه شي د کلونو ساعت دی ثانیه شاته مخته کیږي نه
روزي خان مومن ته لاس وخوځاوه، چې ورسره روان شي. هغه خپلې مور ته سترګه ووهله. مور یې خپل میړه ته وویل :
- څه کوې په لاره کې مې زړه خولې ته راغی چې طالب یې پر ډیره لاس تیر کړ چې لنده کړې یې ده اوس یې جومات ته درسره بیایې!!
- مخکې په تیلو او پلبتو پسې نه ولاړ
ښځې یې سر ته لاس ونیو :
- وی ماسکه ویل چې پاچا د خاورو تیل راوړل مومن دې څرنګه لیږو؟!
روزي خان سر وخوځاوه، پاڅیده.
په جومات کې د پښو او خولو بوی ته. د جومات مینځ له خلکو ډک وو. له جماعته وروسته پاچا کښیناست، پر تسبیح یې وظیفه شروع کړه. څو تنه د تورو پټکیو وال د جومات په کونج کې ناست وو ورو ورو سره غږیدل، پاچا ته یې وکتل، چې بل څل یې ورته وکتل، ده تسبیح ښکل کړې په جیب کې یې کیښودې. څپلی یې ورسره راواخیستې د دروازې په خوله کې یې پښو کړې. په کوڅه باد دوړې پورته کړې وې. چې د کور ور یې پرانیست، لیلا توشک له چوترې وراخیستی و، مومن ګیلم کوټې ته یووړ. لیلا پورته شوه چې ورسی پورې کړي ، مومن د کړکی پله ونیوله:
- وریندارې مه یې کوه چې دا ټتر مې هوا یخ کړي
مور یې ملا ته لاس ونیو:
- جارو کړې کوټه به مې له خاورو راډکه شي.

درب شو، مومن د ورسی پله پورې وهله، مجاهد يې له لاسه ونيو، حويلۍ ته يې ويوست. هغه ورته وويل:
-کاکا کرکټ کوو
-ته ودريږه چې ټال درته جوړ کړم
هلك له خوشالي چيغې کړې. مومن د ونې پر څانګه پړی وتاړه . مجاهد يې په ټال کې کښيناوه. هغه ژر راښکته شو. کوناټو ته يې لاس ونيو:
-خوږ شوم
مومن وخندل، دواړو د کوټو لور ته منډه کړه.
لمر لا د پغمان ترغرونو نه و پناه شوی چې پاچا ډوډۍ راوړه. روزي خان چې د ماښام له لمانځه وروسته له جوماته راغی، ښځو د پاچا له کوره راوړی قورمه راواخيسته. مومن هډوکی زبيښه، مجاهد ورته په ژړا شو، روزي خان غږ کړ :
- دغه هلك څه غواړي خو وريې کړئ ؟
مومن هډوکی په غصه د مجاهد مخته کيښود، ور په غوږ شو:
- سبا خو والله که ټال درته جوړ کړم
مجاهد بغاره کړه، روزي خان لاحول کړل.
د دروازې دربا شوه. مومن پاڅيد، موربې ورته وويل:
- دا زومړي نه وي، وار کوه، پلار به دې ورشي .
روزي خان، د وره له شا غږ کړل « څوك يې ؟»
- د ملاصاحب د ډوډۍ نوبت دی؟
- موږ نن راغلي يوو سبا به بيا وظيفه درکړو .
دی چې کوټې ته راغی ګواښيده: « هغه د پاکستان پيرې دي، وظيفه يې غوښته»
ښځې يې په سيخك غاښ ټومبه، وی يې کړل:
- غوريزدې مړ نه شي موږ خو ځای پرځای شو چې بيا دوی په وظيفې پسې راغلل.
دسترخوان لا خور و چې ليلا روزي خان ته راډيو ونيوله ، روزي خان د راډيو ستن تيروله راتيروله چې د شريعت غږ په راډيو ورسيخه شوه هلته ترانه وه:

ساتو يې په سرو وينو دا د شهيدانو کور
دا د باتورانو کور
دا د باتورانو کور
ميرمن يې سيخک په ويښتو وټومبه، ټيکرى يې د غوږ له سره لرې کړ:
- سرې دا غږ يې لږ هسک کړه څه ښه يې بولي
« ستا کاڼي او بوټي ټول موږه ته لعلونه دي
وينه پرې توى شوې ده سره لکه ګلونه دي »
مومن کرس کرس کرس د ګوتو ټکونه وايستل:
- د دوى نيمې ترانې دهندي کاپي دي
روزي خان د چاى پياله ورپورته کړه چې اذان شو. ورو يې وويل:
- خو دغه دى چې له جوماته راغلم تاسې هم با وخت نه پيژنئ
مومن ورته وويل:
- په پاکستان کې هم ځينو وختي اذان کاوه هغه د خوږ د غاړې جومات دې په ياد نه دى ؟
- هغه خو وهابيان ول
- کابل له سعوديانو ډک دى
- نه دلته دغسې خلک نه شته ... زه به يوچاراندام ورته وکړم چاى راته پټ کړئ .
مومن په خپل ځاى کې اوږد وغځيد، چت ته يې سترګې ونيولې. سپوږمى کوټه رڼه کړې وه له هغه بلې کوټې يې د پلارغږ اوريده چې مجاهد ته يې ويل « پلار دې راځي، بيا تاته موټرک راوړي، ته به بيا مکتب ته ځې، الف زر آ، الف زير اي الف پيش اوو به زده کوې.......»
مومن ته اسمان تک شين ښکاره شو.... لاندې خړې اوبه ډنډ ته وربهيدې... مخامخ يوه خالي کوټه وه ، ورو ورغى هلته نجلى وه ... ورنژدې شو .....څرپ څرپ يې ترغوږو شو، سترګې يې رڼې کړې، کوټه نا اشنا ورښکاره

شوه، سترګې يې ورپولې، پوه شو چې پيښور نه دی کابل دی، ورو يې سر راجګ کړ تر کړکی يې دباندې وکتل، د کرړي اواز و بيرته يې سر کيښود. داسې غږ يې واورید لکه څوک چې له چا سره پسنيړي. غوني يې زيږه شول، وام واخيست، د زړه دربا يې ډيره شوه، سر يې هسک کړ په غولي کې يې د چوترې خواته يو څوک ترسترګو شو چې په جګو پښو ناست دی. دی په پروت د وره په خوا وکرښيده څو د پلار کوټې ته ځان ورسوي، ورو يې دروازه راکش کړه، د وره له پرانيستلو سره لږ راپورته شو، يوه مول وهلي يې په خوله لاس کيښود، تفنګچه يې ورته ونيوله. د وره بل اړخ ته يو بل سړی ولاړ و هغه د مومن لاسونه شاته واړول، په پړي يې وروتړل، دې بل يې خوله ورپلستر کړه، بيرته يې خپلې کوټې ته راووست، پښې يې هم په رسی وروتړلې. لږ شيبه ورسته يې د مومن پلار او ورپسې يې د ده مور او ورينداړهم دې کوټې ته راوستل. دوی ته يو پيره دار ودرید بيا يې بلې کوټې ته بيولل. يو وخت مجاهد چيغي کړې:« مورې مورې »

په حويلی کې دربا شوه ، ليلا وروکرښيده چې د مجاهد خواته ورشي نه شوای دريدای پښې يې تړلې وې مومن د وره خواته ورغښت د وره په درشل يې خوله وموښله چې خلاصه شي، نه خلاصيده، ستړی شو، پښې يې وچې شوې کلکې يې ورتړلې وې. مجاهد لا ژړل. مومن د وره په چپراس خوله بيا بيا وموښله، پلاستر وسوليده، خوله يې خلاصه شوه ورو يې وويل:« ابا تللي دي» راوڅکيده چې د پلار د خولې پلاستر په خپلوغاښونو پرې کړي خو د ده خپله خوله سمه خلاصه نه وه چې په غاښ يې کړي پلارته يې وويل، په چپراس دې خوله وموښه هغه حرکت نه شوای کولای د مورخواته ورواوښت خوله يې ورپرانيسته دهغې د خولې له خلاصيدو سره د ده د خولې پلاستر هم وشکيده، خو مور يې نه خوځيده. بيا يې په غاښونو د پلارد لاسونو د خلاصيدوکوشش وکړ څو وارې يې هيله وخته خو اخريې ورسست کړل او خلاص شول. روزي خان ورمنډه کړه چې له تاکې د خپل ښځې دوا راواخلي هغه نه وه لاندې لويدلې وه، د سپوږمی رڼا ته يې وليدل چې دوا د کوټې پر غولي تيت شوې

ده، د ګوليو ډبې يې راواخيست يوه ګولۍ يې د ميرمنې تر ژبې لاندې کېښوده. بيا يې د نورو لاسونه پرانيستل. دی مخته مومن او نرور يې له شا ورپسې حويلۍ ته ووتل. د کوردروازه نيم کشه وه، په کوڅه کې هيڅوک نه ښکاريدل. په کوټو راوګرځيدل د ناستې په خونه کې ترګيلمانو لاندې هوار کړي ترپال پراته و، پر سر يې څو کتابونه دلته هلته شيندلي و، ليلا ژړل. مومن ورته وويل:

-په کرار چې مور مې راويښه نه شي

بيا يې پلار ته وويل:

- ګاونډيان به خبرکړو

پلار يې ورته وويل:

- « څوک مه خبروئ پرده وکړئ بې ابي ده » ورټيټ شو د مجاهد کميس و هغه يې راواخيست « اوس به يې مال ترپغمان هم اړولی وي »

ليلا سونګټ وواهه، خواښې يې هم سترګې رڼې کړې، په ژړا شوه. روزي خان د کيڼ لاس مړوند په ګوتو وواهه: « زومړيو دغه ساعت هم راپرې نه ښود چې څوبجې دي» بيا يې يو دم د کوټې دروازه پورې کړه. واسکټ يې د وره شاته څوړند و، ژرژر يې د هغه جيبونه وپلټل، په جګ غږ يې وويل:

- شکر حلال مال نه ورکيږي، کلدارې پکې پاتې دي.

ده چې داخبره وکړه د جومات په لادسپيکر کې دالله اکبر غږ شو، ميرمنې يې وويل:

- « د الله اکبرقربان شم» بيا يې په سلګيو سلګيو کې وويل « خدايه.. ستا... امري مو منلي دي. . څه ګناه مو.. کړې وه چې دا ديدنی دې راوليدې»

د ښځې زګيروی شو. خپل ميړه ته يې وويل:

- هغه افغانی يې ټولې وړې دي

- قسم ده که يې خس پرې ايښی وي

ميرمنې يې ليلا ته مخ ورواړاوه:

- هغه د ميوند جان عکس خو يې نه دی وړی

ليلا خپله پوزه پر ټکري پاکه کړه، ورو يې وويل:

- هغه شته
مومن له پلارسره حویلی ته ووت، هغه ته یې وویل:
- ابا شکر چې یو څه مال مو پاچا صاحب ته ورکړی.. دغه د ګاونډي دیوال ته ګوره سریې ګرژیدلی، خاورې ترې راتوی دي.
روزي خان دیوال ته وکتل مومن یې له لاسه کش کړ چې د دیوال له سره په راتوی شویو خاورو پښه نه کیږدي .
مومن ورتیټ شو خاورو ته ځیرشو. ماتې خښتې یې سر پر سر کړې پر هغو وخوت چې د دیوال سرته یې وکتل، ویې ویل:
- ابا لمونځ تیر شو پولیس به راخبر کړو
روزي خان سروخوځاوه لاندې یې وکتل پښې یې لوڅې وې، د کوټو خواته تیرشو د مومن څپلی چې پسکي یې چته شوې وه، پرتې وې هغه یې په پښو کړې، له کوره ووت .
لیلا او خوابنې یې له غلو پاتې توښپلي کالي سره کونه کړې و، ورته ناستې وې، مومن په ورسی کې ولاړ و. دواړه سترګې یې وره ته نیولې وې چې پلار به یې کله راځي. یو ځل د ډاډسني غږ شو، خو موټر تیر شو. بل ځل چې د خلکو غږ شو مومن پر خوله لاس کیښود، مجاهد ته یې اشاره وکړه چې غلی شي، دا ځل د ګاونډي په کور کې د خلکو غږ وو. مومن په کوټه کې ورو ورو قدم واهه چې د روزي خان ناره شوه:
- پرده وکړئ یوې خواته شئ
مومن ژر له کړکی ښکته شو، له خپلې مور او ورینداري سره د ورسی د خلاصې پلې شاته ودرید، پر خپل مخ یې ګوتې ووهلې. څو تنه بې وسلې د تورو پټکیو وال له روزي خان سره حویلی ته را ننوتل، هغه ګرژیدلي دیوال ته ودریدل چې روزي خان مخته له مومن سره ورته ولاړ و. طالبانو شاوخوا وکتل، له کوره ووتل .
روزي خان په طالبانو پسې ور پورې واهه .
مومن وپوښت :

- ابا څه یې ویل؟

- زویه والله که به شی وي نه بازخواست شته، نه بل شی

- د توریدلو خاورو یې څه ونه ویل

- ویل یې مور پوښتنه کوو

میرمنې یې سره ساه وایسته. مومن څټ وګیراوه. روزي خان غبرګې سترګې مځکې ته ونیولې، لیلا یوه بل ته کتل، مجاهد په تشو کوتو کې منډې وهلې.

روزي خان د واسکټ په جیبو لاس وتپاوه :

- زه به یووار پاچاصاحب ته سر ورښکاره کړم

چا څه ونه ویل دی هم څوړند سر له کوره ووت.

د روزي خان شونډو پترې نیولې وې. د کور ور یې پورې کړ. څو گامه یې د مومن په څپلیو کې واخیستل، څپلۍ یې له پښو ختلې. تېت شو چې پسکي یې پرانیزي. د څرمنې تریخ بوی ته یې سپږمې په گوتو تینگې کړې، پسکي یې بیرته خوشي کړه، د کور لور ته وگرځید. ور یې تیله کړ، چې پورې دی که نه دی. ور کلک و. څپلیو ته یې وکتل، پښه یې پکې ورمخکې کړه سریې ښکته واچاوه، رهي شو. د کوټه سنگي په چوك کې موټر تیار و کلینر نارې وهلې « شارروشارروشاررو.. »

چې دی ورسپورشو سورلۍ یې هم ورسره بشپړې شوې. تر دهمزنگ پورې یې چرت واهه:

« که پاچا ته ښکاره کیسه وکړم بده ده»

« که نه ورته وایم څه به کوم»

« ورته وبه وایم چاره نه شته»

« خلك خبر نه شي»

« پاچا څوك پیژني»

د دهمزنگ تا شدني له غبرړ سره اوچت پاڅید. سر یې د موټر له چت سره ولگید. څنگلوري یې وخندل، ده ورونه کتل، کوز شو.

پاچا د پخواني شوروي اتحاد د سفارت په ودانۍ کې اوسیده. له دوی سره د پروان د ولایت گڼ نور جگړو بې ځایه کړي په دغو بلاکو کې ژوند کاوه، چې روزي خان حبیبې لیسې ته رسیده پاچا پرې غږ کړ :

- صاحبه دغه اوس مې زړه کې تیر شوې

پاچا غیږ پرانیسته، روزي خان لاس وراوږد کړ. هغه ورته وویل:

- ناروغ خو نه یې؟

- نه

پاچا لاندې باندې ورته وکتل. روزي خان د څپليو پوندې سره نژدې کړې:

- ته به کار لرې

پاچا د روزی خان مټ ونيو:

- څه کار دی ښه ده چې راغلې راځه راځه کور ته ځو

روزي خان لږ شاته شاته ته. پاچا پوښتنه وکړه :

- مومن ښه و، پرون ډير ستړی شوی و؟

روزي خان سر وخوځاوه.

د شوروي د سفارت د ودانيو په خوله کې پاچا ولاړ طالب ته چې کلاشينکوف يې په اوږه و سلام واچاوه هغه په لاره اچولی پړی ښکته کړ. پاچا ورته وويل:

- طالب ګله پړی مه ښکته کوه ګاډي خو نه يوو

طالب وخندل، توره لونګۍ يې په دواړو لاسونو پر سر سره سمه کړه:

- پاچايان ياست زورورخو ياست

پاچا پر بړيره لاس تيرکړ شاته يې روزي خان ته پسې وکتل، د سر په اشاره يې ترې وغوښتل چې ورپسې چټک شي.

په زينو کې پاچا مخته روزي خان له شا ورپسې ورو ورو ګام اخيست، مخکې تردې چې په دريم منزل کې کور ته ورننوځي پاچا ناره کړه « ډډې ته شئ» له همدې غږ سره پاچا په کورننوت، روزي خان ته يې هم پرده پورته ونيوله چې پسې ورننوځي.

چای په ترموز کې تيار و. پاچا روزي خان او ځان ته پيالې ډکې کړې. روزي خان د چای پياله ورپورته کړه، پرته له دې چې غوړپ ترې وکړي، په لاس کې يې جګه ونيوله، ورته کتل يې، پاچا د ده پر زنګانه لاس کيښود:

- چې راته ونه وايې نور نه کيږي څه شوې دي؟

روزي خان شونډه په غاښ وزبيښله، پياله يې بيرته کيښوده، شاوخوا يې په کوټه کې سترګې وغړولې، په ټيټ غږ يې وويل:

- صاحب په موږ خو فساد وشو

پاچا ورڅي کش کړې. روزي خان وويل:

- د شپې غلو وشکولو

پاچا په جګ غږ وويل:

- څه وايې ؟!

روزي خان کيسه ورته تيره کړه. پاچا نسوار ورتيله کړل، ورته ويې ويل:

- شکرچې ما ستاسو مال نه دی دروړی

- په همدې خو مې زړه لږ تکيه دی خو که يې راسره يوسم سبا به يې دغه هم وړی وي بازخواست نه شته

- څه يې پرې ايښي دي ؟

روزي خان د شهادت اوبته ګوته سره کړی کړې وروڅي يې هم سره وروستې « خدای که به يې سپڼسی راپرې ايښې وي، دوا هم ولاړه »

پاچا لونګی لرې کړه په شکيدلې ککری يې ژر ژر لاس تير کړ، د څټ وينښته يې وګيرول:

- صاحبه زمونږه څلور خونې دي زه يې څه کوم راځئ تاسو هم دلته راشئ

روزي خان ورته وبګنيده:

- نه خيريوسې د تاسې به دغه کوټې په خپله پکار شي

- نه نه ، هغه دی په يوې خونه کې هسې هم ستاسو مالونه پراته دي په دا بله کې مې يوه بله کډه راتيره کړې وه د هغوی هم لږڅه پاتې دي دغه اوس تر غرمې پورې پسې راځي وړي يې

- دلته خو ورونه نه شته، تشنابونه مشنابونه به يې هم نه وي

- « زوروره ، پرديسي ده دا هرڅه خلکو وړې دي خو بيا دومره ښې دي خونې يې کڅه نه دي او دا زمونږه د خونو ديوالونه جګړې کې نه دې سورې شوي»

پاچا پر ديوال لاس کيښود« نورې خونې مې هم همدا شان دي چرې پرې لګيدلې دي خو روغې دي دلته شاوخوا ګاونډيانو په يوې کمرې کې پرده وهلې دوه کوره پکې پراته دي »

روزي خان په څلمڅي کې نسوار تو کړل:

- پاچاصاحب راسره په زحمت به شئ؟
- نه نه څه زحمت دی دغه دوې خونې دې لاره یې بیله ده او د هغو دوو نورو لاره بیله ده.
روزي خان ډوډۍ ته ونه څنډید، له پاچا سره یې ومنله چې ترمازدیګره به ورته راشي. د تګ په وخت پاچا یوه غوټه ورته ونیوله، ده غوټې ته وکتل بیا یې پاچا ته سترګې ورپورته کړې، پاچا خپله لونګی پرانیسته، بیرته یې له سره تړله :
- لورمې څه ته پام شو ویل یې چادري زنانه و ته ورکړه، کنه په لاره به بیا څنګه راځي
روزي خان په پټه خوله بوخڅه پر ولي واړوله.
د کور ور یې له شا څنځیرو، کوڅې ته د مجاهد د ژړا سوې سوې چیغې راتلې. ده د کوټه سنګي له چوکه اخیستې وچه ډوډۍ او سړي سر یوه هګی په یوه لاس کې ونیول، د چادریو غوټه یې په مځکه کیښوده، په بل لاس یې وروټکاوه. مومن، او لیلا راغلل په یوه غږ یې پوښتنه وکړه: پاچا صاحب څه ویل؟
روزي خان تر دوی تیر شو، هلته مجاهد لوڅې پښې ولاړو، هغه ته یې یو ټوک ډوډې ونیوله، لمسي یې پر ډوډۍ غوټه کړه. روزي خان له جیبه هګۍ راوایستې د لیلا په لپه کې یې کیښودې:
- داهګۍ هم پخې کړه
مجاهد چیغې کړې:
- هګۍ هګۍ
لیلا په لپه کې پنځو نیولو هګیو ته وکتل، بیا یې خپل خسر ته سترګې ورپورته کړې:
- ابا اوړله کومه شو
مومن ورته وویل:
- اشتوب خو یې وړی

روزي خان ږيره په موټ کې ټينګه کړه. ميرمن يې په لوڅه کوټه کې پرته وه، پوړنی يې پر سر سم کړ:

- سړې څه دې وکړل له هغه بل سره؟

- بيچاره راته خپل کورخالي کوي نن ورځو

ښځې يې ټکرى سترګو ته ونيو په ژړغوني غږ يې وويل:

- دغه کوټګر څه کوې.. خو په سلطان جان پسې وګرځه .... حسينې ګلې او زرمينې ګلې ته حال ورکړه

- دا خبرې اوس پرېږده اوس خو چې يو وارې د شپې د سر لګولو ځای پيدا کړو بيا به په اولادو پسې ګرځو

ښځې يې پرپلو اوښکې پاکې کړې:

- دغه هيله مې مه باسه چې د سلطان جان حال به نه اخلې

د ليلا سلګۍ شوې. روزي خان د هاغه بلې کوټې خواته لاس ونيو:

- څه چې پاتې دي دغه راټول کړئ

مومن مخته، ليلا ورپسې کوټو ته ورتيرشول، ښځې يې روزي خان ته وويل:

- سړې د پاچا مې نه ده درخوښه، ځوانه دې نږور ده ، پيغله يې لور ده

- د سلطان مورې نور په دې وطن کې بې پردې کيږو

- خوښه دې خو ...

روزي خان مومن ته ورناره کړې:

- ژرکوئ

د ده له نارې سره ليلا او مومن له غوټو سره راووتل بيا يې ترپالونه ورسره راوايستل او ټول پلې د کوټه سنګي چوک ته رهي شول.

په لاره کې د مومن مور چادري ورکش کړه ليلا ته يې وويل:

- ستا واله خو داسې درپسې کرښيږي دا زما زومړې لنډه ده پښې مې له ورايه ښکاري

ليلا خپله چادري لږ ورپورته کړه سپينې لوڅې پښې يې خاورو سپيرې کړې وې، بيرته يې چادري پرې ښوده.

د ښارپه لور نوبت ته د ولاړ غرفه داره فولکس موټر کلینډر ورته وویل:
- مال تان زيات اس برده نه ميتانيم
روزي خان ورته وويل:
- برادر مسلماني خوب اس سيل کو پنج نفر استيم
کلینډر د موټر د مخې خواته تیرشو او د « برو برو راهيته بزن کاکا » له ويلو سره يې ناره کړه، شاررو شاررو شاررو.....
روزي خان پسې ورغی په اوږه يې لاس ورکيښود:
- خير اس برادر
کلینډر اوږه ټيټه کړه، د شاررو شاررو شاررو ناره يې جګه کړه.
روزي خان شاته مخ واړاوه په کوروالو يې سترګې ونه لګيدې، دورې هورې يې په وارخطايي وکتل. د مجاهد د ژړا غږ يې واوريد. له دوکانونو سره څنګ ته له تنګې کوڅې راته. لاسونه يې ورته وخنډل:
- څه شوي دي؟
مومن ورته وويل:
- خپلې مور وواهه يوه هګۍ يې ماته کړه
روزي خان خپل لمسی په غيږ کې ونيو:
- دلته څه ته راتلئ
ميرمنې يې د مومن خواته وکتل، په ټيټ غږ يې ځواب ورکړ:
- دا زومړې ږيره يې لنډه ده د موټرخواته هغه شيرين خواره درتيرشول، پام دې نه شو؟
- دغه څه کوي
- ما ويل تلاشي ونه کړي د ميوند عکس مې هم دلته تر چادري لاندې نيولی دی
روزي خان ليلا ته وکتل:
- ما نه درته وويل چې دغه عکس اوس مه رااخلئ
ليلا ورته وويل:

- ابا کله دې ویل

روزي خان سر ته لاس ونیو ، خپلې ښځې ته یې وکتل:

- ته ، لیلا او مجاهد په موټر کې ولاړشئ زه او مومن به مال پسې درپشا کړو موټریې نه وړي که وشو یودوه جوړه چپلکي به هم واخلو

- نه مومن ته څه ونه وایي ؟

- تاسې درځئ څه نه وايي دغه خدایي دغسې څوکړ غوندې ښکارې

مومن پنډې په شا کړې، روزي خان له خپلې ښځې او نږوره وغوښتل چې موټر ته وخیژي. کلینډر دی له لاسه ونیو:

- حالي به زور بالا میشین؟

- نې اي سیاسرا ره د دهمزنګ تا کو مه همرای بچیم ماله پشت کده میارم.

کلینډر ده ته لاندې باندې وکتل، روزي خان بیا ورته وویل:

- سیل کو اي زنها بلد نیستن اینها ره د دهمزنګ تا کو خو فهمیدي د دهمزنګ ازیادت نه ره

- بیادر ګل بلد نیستي یا خوده د کوچه حسن چپ میزني ، کومحرم شان ؟

په موټرکې د پردې شاته د ناستو زنانه و اواز لوړ شو:

- یک کمی مسلمانی خوب اس

- بان بیچارا ره غریباره

- بانش که موتر پر شوه

د مخکني سیټ له ورسی یوه سړي چې تور پاج یې تړلی و سرراوایست، کلینډرته یې وویل:

- دربالا یې کړه چې موټر ډک شي ترکله به ولاړ یوو د هغه زو..

کلینډر روزي خان ته وویل:

- خی بیاین شمام باز پیسه یک نفره سربار بیتن.

د موټر د دروازې له پورې کیدو سره، دننه هوا دپه شوه، ټول غلي ناست وو. د زاړه موټر غرهاری به یو نیم ځل لوړ شو او د باډی د غرچي غږ به یې ورک کړ.

کارته چهار ته چې ورسید، د څو سورلیو دښکته کیدو په وخت روزي خان یوه ته لاس ورواچاوه، چیغه یې کړه «کیسه بر ، کیسه بر ...»
په موټر کې ناستو کسانو غبرګ وارپرې وکړ، سړي ټوپ کړل د کمیس غاړه یې څیرې شوه خوځان یې خلاص کړ، مخامخ یې د پلې لارې پورې غاړه منډه کړه. سورلیو نارې کړې:
- خدای دې وشرموه...
- پام پام پام ...
- او طرف ماین است ماین است...
کیسه بر د رنګو دیوالونو تر منځ پناه شو. روزي خان د خپل پرې شوي واسکټ استرخلکو ته وربښکاره کړ. سورلیو سرونه سره نژدې کړل چې د روزي خان د واسکټ استر وګوري، یوه وویل:
- استر یې څرنګه له دننه پرې کاوه ؟!...
- به پاکي زده...
- خیرات سرت ګشت که کلداره نه برده...
بل کیسه راپیل کړه چې په پل باغ عمومی کې پرون د یوه سړي شل لکه افغانۍ کیسه بر ووهلې چې طالب لاس ورواچاوه.....
د کلینډر دهمزنګ دهمزنګ تا شدني له غږ سره روزي خان دوی هم ښکته شول.

روزي خان په نوک ګیلم ګیراوه، مومن په غوږ کې ګوته وهله ، د بخار دیګ بخار نیولی و، د شپیلکي په هسک او تیټ اواز یې د څنګ له کوټې د ښځو غږ سره غلی کاوه، د دیګ غوړبوی به له کړکۍ رااوتې شمال سره ورک کړ، بیا به خپور شو. د مومن خولې اوبه وکړې.
پاچا په وره راڅوړنده ګونې پورته ونیوله:
- « ماښام کیږي له جومات سره ښه بمبه لګیدلې، هلته به چاراندام ورته تازه کړو»
پاچا غاړې صافې کړې« د لمانځه په وخت بیا هلته بیروبار زیاتیږي »
روزي خان لاسونه په ګونډو کیښودل او یاالله خیریې کړل. مومن په خپله ږیره لاس تیرکړ، سترګې یې ښکته واچولې:
- زه به لمونځ په کوټه کې وکړم ، دا ږیره مې لږمونډۍ غوندې ښکاري
پاچا ورته وویل:
- نه نه، دلته دننه سفارت ته طالبان نه راځي دغه د بلاکونو خپل مهاجرلمونځ کوي
- خو...
پاچا یې پر ولي لاس کیښود:
- بچو خوخو پریږده راځه راځه..کاکا دې شته په بالله که څوک چپ درته وګوري
د دوی د اوسیدو ځای ته د مخامخ بلاک اول منزل جومات او د امام کور ته وقف و. د جومات مخته ولاړې لاسي بمبې ته روزي خان ودرید، مومن بمبه ورته ووهله، هغه اودس تازه کړ، بیا مومن پاچا ته بمبه ووهله چې هغه اودس وکړ راتیرشو چې مومن ته بمبه ووهي مومن ورته وویل:

- یووار صحراګشت ته ورتیریږم
پاچا مخ په قبلې اشاره ورته وکړه :
- هاغه بلاکونو نه ها خوا لوی میدان دی دې بلې خوا ته چې پردې یې وهلې د زنانه و لپاره دی
د بلاکونو شاته د سفارت د دیوالو بیخو ته څو تنه ښکاریدل چې څادرونه یې په سرونو اچولي ناست دي. د فضله موادو بوی د باد له څپوسره خپریده، زیاتیده او کمیده. مومن ځای پرځای ولاړ و، پوزې ته یې لاس نیولی و، یوې بلې خواته یې وکتل، دوه تنه راپاڅیدل، مخونه یې راوګرځول اودسونه یې وچول ، مومن مخ واړاوه، په زړه کې ورتیرشول چې دوی ونه وایی چې دی څرنګه سیل ته ولاړ دی. د دیواله خواته تیرشو، هرې خواته چټلې وې ، ده ورو ورو پل ترې اړاوه ، د دیوال بیخ ته یې ځان ورساوه، هلته کښیناست ، شونډه یې وچیچله:
« اووف .. ولې مې ټوله ورځ غسل نه کاوه ...تیمم به وکړم ...دا خاوره خوبه مرداره نه وي ...»
د یوه بلاک مخې ته کښیناست، شاوخوا یې وکتل چې د چا ورپام نه شي، په مځکه یې لاسونه ووهل. غږ شو « اې اې چه میکني ؟ »
دی غلی راولاړ شو، د قامت له الله اکبر سره چې په لاډسپیکرکې ویل کیده د جومات په لور ورچټک شو، لاسونه یې د بمبې په اوبو ووینځل، یوه هلکي بمبه ورته ووهله، ده اودس وکړ، جومات ته ننوت.
جماعت ولاړ و، مومن پرته له دې چې نیت وتړي لاسونه یې غوږو ته پورته کړل. په رکوع کې یې څه ونه ویل ، په سجده کې یې په زړه کې وویل « نو غسل ونه شو، خدایه » په قعده کې غلی و. د سلام له ګرځولو وروسته سنتو ته هم په پټه خوله، پرته له دې چې څه ووایي، ښکته پورته شو.
له جوماته چې دوی راوګرځیدل تیاره شوې وه خو لا یې څراغ نه و لګولی، له کړکۍ رالویدلې رڼا کوټه رڼوله. له څنګ لورې کوټې د مومن د مور د غږ له اوریدو سره روزي خان سر وخوځاوه .

پاچا له لګولې لمپې او دسترخوان سره کوټې ته راننوت. مومن او پلاريې له ځايونو لږسره وخوځېدل، هغه دسترخوان هوارکړ ، مومن د لمپې هسکه شوې پيلته ټيټه کړه ، پاچا ورته ووېل:

- تيل يې لکه چې ملاوټي دي

مومن د هرچا مخې ته يوه ټوټه وچه ډوډۍ کېښوده، پاچا د ښوروا کاسه روزي خان ته ورنږدې کړه. درې سره له کاسې چاپيره شول . د بسم الله له ويلو سره مومن د وچې ډوډۍ پشتي خيشتې ډوډې ته ورکړه .کاسه وړه ورته ښکاره شوه، له وچې ډوډۍ يې يوه ټوټه ورواخيسته ځو مړۍ يې وکړې، پاچا ورته ووېل:

- څنګه ډوډۍ ده د يو اين ايچ سي ار ووړه دي؟

روزي خان مخې ته ايښې يوه ټوټه ډوډۍ پورته ونيوله :

- زښته خواږه دي

د لمپې رڼا تته شوه شيشه يې لوګي ونيوله، پاچا لمپې ته ورپو کړل، مومن د پاچا له لورې څو مړۍ وکړې. پاچا لمپې ته اورلګيد ونيو، خلی نه لګيده، بل او بل خلی هم مړ شو په کوټه کې د ګوګړو بوی شو، خو بل خلی ولګيده، لمپه بله شوه.

په ډوډۍ پسې چاى راغی، چاى يې لا نه و سره څښلی چې اذان شو. مومن سوړاسويلی وکړ، په تندي يې لاس وموښه د لاس يې د چرګ د ښوروا سوړ بوی ته، زړه يې وشو چې دغه اوس دباندې ووځي له بمبې سره غسل وکړي خو پلار او پاچا ناست وو چاى يې څښه.

روزي خان پاچا ته ووېل:

- ښه کرارځاى دې پيدا کړی

- « اولې خطې نه چې مهاجر رامات شوو دلته د پښو ايښودلو ځاى نه و، هغه وخت که طالبان نه واى راغلي ماخو دې بلاک ته څوک نه پرېښوده » پاچا د چاى غوړپ وکړ « دغه ځلورخونې مې په زورخپلې کړې هاغه پورې غاړه بلاک کې خداى خبرڅه بې پلاره موره خلک دي، يوه کله يې په زوره دلته راغله

ویل یې از برای خدا کجا بریم .. وهلو ډبولو ته خبره ورسیده ، وویریدل ،کړه مې بیرته ور په شا کړه »
د ښځو غږ لوړ شو، پاچا وویل:
- د دوی مجلس ښه ګرم دی
روزي خان جیب ته لاس کړ، تر ژبې لاندې یې وویل:
- اوف تسبیح یې هم وړې
پاچا د کوټې په کونج کې له اینبي څادري بکسه سل دانه اي تسبیح راواخیستې، روزي خان ته یې ونیولې، ده په موټ کې بندې کړې ورته ویې کتل:
- ماسکه ویل شب بین دي
پاچا له بکسه بل جوړتسبیح راوایستې :
- نو دا درواخله
د لمبې په تته رڼا کې تسبیح وځلیدې، روزي خان په سترګو وموښلې او دوی د جومات خواته سره روان شول.
مومن دباندې په تیاره کې د جومات شاته د صحراګشت خواته ورتیرشو. د دیوال په بیخ کې سیورې ته کښیناست. په لادسپیکر کې چې کله د قراءت غږ غلی شو، ده ګومان وکړ چې اوس به لمونځ دوهم رکعت ته رسیدلی وي، نورخلك به جومات ته نه ورځي نو د بمبې خواته ورغی. ځان ته یې پام شو چې پښه یې په چتلې اینبې ده .هغه یې پرې منځله ، اودس یې وکړ بیا یې کمیس لرې کړ بمبه یې څو وارې پمپ کړه، ملا یې اوبو ته ونیوله، یخ یې وشو. ګنډه یې لنده شوه ،هغه یې سسته کړه په یوه لاس یې ونیوله په بل لاس یې بمبه ووهله. د صحرا ګشت لور ته یې منډه کړه، د سر ویښته یې پر دواړو لاسونو موښل چې ژر وچ شي، اوبه پسې څڅیدې، یخ باد یې ټترووریخ کړ، پرتوګ یې برواهه چې پایڅې یې په خاورو ککړې نه شي.
داسې سوړ بوی یې سپږمې وتخنولې لکه په چرګانو چې باران شوی وي. لاس یې بیا بیا بوی کړ. څار یې وکړ څوك نه ښکاریدل، نو د دیواله سیورې ته شو،

ورو ورو روان و مځکې ته یې کتل چې بیا یې جامې ناولې نه شي . په لمنه یې پکې وواهه چې وچه شي د پرتاګه پایڅې یې ونښتیځلې. چې د بلاک په وره ورننوت پاچا پرې غږکړل:

- څه شوې؟

- له لمانځه وروسته دورې صحرا ګشت ته ورتیرشوم

- ډوډۍ خو بده دربانډې ونه لګیده

- نه نه

- دا چرګ چې دې وخوړ دا وطني نه و، پاکستانی دی

مومن پر خپلې خیټې لاس کیښود:

- بیخي ښه یم

په کوټه کې مومن د څراغ له رڼا لرې کښیناست، روزي خان د صحراګشت لپاره پورته شو، پاچا هم ورسره ولټیده. مومن د لمپې د شیشې تاو ته دمخې او شا لمن ونیوله بیا یې څراغ ورسره واخیست ، چیرته چې دی ناست و هغه ځای لوند شوی و. توشک یې په بل مخ واړاوه . څراغ یې ترلمن لاندې کړ په تاو یې وسوځید ، پایڅې یې ورته ونیولې. غوږونه یې څک و چې پلار او پاچا رانه شي ویې نه ویني، چې ګنده یې څراغ ته نیوله په زینو کې ټکا شوه ده ټوپ کړل نژدې لمپه غورځیدلې وه، تکیه یې کړه خو شمال یې اور مړ کړ.

پاچا وویل:

- مومنه ! څراغ بیا مړ شوی

- هو

پاچا له جیبه اورلګیت ورواخیست لګیدلی خلی یې لمپې ته ورنژدې کړ، لمپه رڼه شوه، مومن خپله لمن سره ټوله کړه.

روزي خان ته د چایو پیاله ډکه ایښې وه میرمنې یې لوبیا پاکوله، څو څله یې پیالې بیا خپل خاوند ته وکتل. هغه څادر پر سر ورکش کړی و، ښځې پرې غږ کړ:

- وا سړې چای دې غوړپ که سوړ شو

روزي خان مخ لوڅ کړ په ګوړې راټول شوي مچان یې وشړل، چکۍ یې خولې ته ونیوله، چای یې په یوه ساه ترستوني پسې تیرکړ.

ښځې یې درې څلور دانې پاکه شوې لوبیا اړخ ته پورې وهله:

- سړې په څه چورتو کې ډوب یې ؟

- دا د پاچا خبره په زړه راګرځیده ، ګهیځ یې ویل، مومن په انګیسي پوهیږي په موسسه کې یې داخل کړه .

د مومن مور د لوبیا پتنوس ورمخته کړ د میړه خواته کښیناسته:

- سړې پاچا دوی دې زوی ته خپله لور ښورويي

- دغه څه وایې ؟!

میرمنې یې غوږو ته ګوتې وروړې « دغه معذوره مور یې هم په دې پوهیږي، نن یې هم په خوله راموښله، نه وایي که تر ځان تیره نه وه یوه مړی ډوډۍ به څوک ورکوي »

- په غوښو خو ښه پټه ده، نوره څرنګه ده؟

ښځې یې د خپلو سترګو پر چخښکو ګوتې کیښودې:

- دغه یې ترغوږو څیري دي . اوس خو چې دا بیخي خپله سیاله شریکه وي څه به یې کوو وایي، موږک په خپل غار نه شوی ننوتی چج یې ګوښی پورې تړلی و.

شمال په ورسی میخ شوی پلاستیک وپړساوه او له تک سره پلاستیک بیرته هوار شو.

روزي خان د دهلیز له کړکی لاندې وکتل مومن ته یې ورناري کړې« زاتي راځه، خاورو ملک په سر اخیستی، هلک درسره راوله »

مومن د پاچا لورته خوله کږه کړه:

- فاطمې ته هغه د شا په لاره ولاړه شه.

لیلا دسترخوان هوار کړ. روزي خان په څادر مچان ترې وشړل، ښځې یې ورته وویل:

- سړې تر کله به دغسې لاس ته تر زنې ناست یې د سلطان جان حال به دې سره معلوم کړی و

- چې لاس بند وي هیڅ نه کیږي، تر ایرانه خو هم پیسې پکار دي

- زرمینې ګلې او حسینې ګلې دوی ته که حال ورکړې، که مځکې چا نه ګرو څو پټیه دوه روپی ارزانه خرڅې کړه

- لارې د کندز خواته داسې بندې دي چې پلونه یې لا سره الوزولي دي غضب که لاره خلاصه وای دا سبا سباته مې بیا د دوا کار شروع کاوه پاکستان خو اسانه و ایران ته مې هم خپله پایڅې پسې بروهلې

مومن د بیشقاب پر بیخ ډوډۍ راتیره کړه، مځکې تر دې چې خپله مړۍ خولې ته کړي، ویې ویل:

- د خوشال مینې کور هم په سمه بیه نه خرڅیږي، خو پاچا صاحب که کار راته پیدا کړي نو...

مور یې په خوله کې ورولویده:

- په ښار کې دغه یو کورګی لرو دغه به ولې خرڅوئ

مومن په ډکه خوله څه ویل چې د پاچا لورسلام واچاوه، د مومن شونډې ویړې شوې سترګو ته یې لاس ونیو، پرګوتو یې تندی وموښه، د ګوتو له چولویې فاطمې ته وکتل بیا یې پرسرلاس تیرکړ . هغې روزي خان ته وویل:

- کاکا! پلار مې کار درسره لري ویل یې وګوره دی شته دی که نه ورته ووایه راشه چای تیاردی

پاچا خپل مخې ته پر ترموز لاس کیښود:

-زموږ چای هم تیار دم دی

د پاچا لور د وره پر سر راځوړنده پرده پورته ونیوله له ټټرسره یې مومن ته د دباندې تګ اشاره وکړه.

د روزي خان ښځې په خپله پوزه لاس کیښود میړه ته یې ویل:

- وی! دی ګنډیوالا بیا له کومه دومره شو چې تا ورغواړي

روزي خان پاځیده:

-مه کوه ښه یې راسره کړي

مومن هم ولتیده. مور یې ورته وویل:

-له تاسره یې څه کړي؟

مومن مجاهد پر ولي وتپاوه. ادې یې ورته وویل:

- پریږده یې چې ډوډۍ سمه وخوري

- مه کوه چې یو چکر ورکړم

د مجاهد وچه ډوډۍ په لاس کې وه، هغه یې پر دسترخوان واچوله، مومن ته یې لاس ورکړ. مومن په منډه منډه پر زینو له مجاهد سره ښکته روان شو، روزي خان لا د پاچا دوی دیوال په څېره واهه. د پاچا غږ شو:

-راځه راځه ته خو پردی نه یې

چې څرنګه روزي خان کښیناست پاچا غاړې تازه کړې:

- پرون ناوخته له رییس صاحب سره په موسسه کې وم، د ماسختن لمونځ مې ورسره وکړ بیا یې خپل کور ته بیولم، شپه هلته وم، پخوا مې شپې نه ورسره کولې کور ته به مې سودا وه اوس مې ستاسو له برکته سودا نه وي

روزي خان شونډې بوڅې کړې:

- رییس صاحب ؟!

پاچا د شنوچایو غټ غوړپ وکړ غاړې یې تازه کړې:

ـ صاحب باجه مې، د موسسې رييس درته يادوم، ورته ومې ويلو ماته خو دې بهانه وه چې په خط مط نه پوهيږي چې کار درکړم نو مومن خو نوي فيصده انګليسي پوهيږي شپه ورځ دی دی کتاب دی، خو وزګار دی، پوهيږې هغه څه ويل ؟!

پاچا وخندل « ويل يې يوځلې يې خامخا ګورم او ستا لپاره به يو نه يو کار ورته ورکړم»

روزي خان تسبيح له يوه لاسه بل ته کړې، د تسبحو ټک شو:

- خيريوسې واله د مومن کار د زيري خبره ده زما هم ډيره سودا ده له جيبه يې خورو زاتي ترکله، هغه کاليو ته مې اميد و چې ګوندې پيدا شي له هغه هم نااميده شوم د حوزې وال له ماپوښتنه کوي چې په چا دې شک کيږي ماورته کړه که ماته معلوم و تاسو ته څه ته راتلم

- چې مومن ته څوک کار ورنه کړي چاته به يې ورکوي .

پاچا د خپلو ګوتو ټکونه وايستل « د کار دی ، تکړه دی، سبق يې ويلی، پلار نيکه نه جايداد داره دی» پاچا د غوړ شاته لاس کيښود غړ يې ورو کړ« د رييس صاحب يو ډير تکړه ملګری دی، استاد عبدالباقي هغه وايي، اينده د دغو ده چې مکتب يې ويلی دی ملايانو نه دا وړی نه شړی کيږي»

روزي خان پر خوله لاس کيښود:

«غږ دې ټيټوه چې څوک يې وانه وري» بيا يې د کړکی خواته لاس ونيو:

- خو دغلته راپنډ دي

لاندې د پاچا لور له بمبې اوبه وړې. مومن له مجاهد سره په کاڼو لوبه کوله، موريې جامې د مينځلو لپاره راوايستلې. مومن د فاطمې خواته وړه ډبره ورواچوله، هغې په اشاره وپوهاوه چې شاته دې څوک شته. د مومن مور دواړو ته وکتل بيا يې په تروه تنده فاطمه وپوښتله :

- خيرو څه زيری دې راوړی و چې د سلطان پلار مو دروغوښت ؟

- هغه دی.. هغه.. دادا مې را ته ويلي و

مومن لا ولاړ و، موريې په برګو سترګو ورته وکتل:

- ته څه ته دریدلی یې درتیریږه

د پاچا لور په یوه لاس کمیس ونیو، په بل یې له اوبو ډک کړی سطل ورسره واخیست په اړخ اړخ روانه شوه.

روزي خان په کورکې په خوله شپيلی واهه. پريړې شونډې يې نورې هم لويې ښکاريدې. ښځې يې تندی تريو نيولی و ده ورته وويل:
- لکه چي نن ستا د چرت خرابي وار دی وايي، کله د ابا وار وي کله د ادې دې ټکری پر سر سم کړ:
- زه وايم په هغه ډاګ خيمه ووهه، خدای روزي رسانه دی خو له دې ارجلوبرجلو لرې شه
- ريښتيا پنج پدره خلک راټول شوي دي خو زما په دغه پاچا زړه تکيه دی که دی نه وی او داسې په سپيره ميدان غلو کښينولي وی څه به مو کول؟
- دغه کوډګرلکه چې ستا سترګې هم درړندې کړي د زوی خو يې غبرګې پټې کړې دي
- ګناه ګاره به شې دغسې مه وايه ته دهغه نيت ته ګوره خو هغه دی مومن ته کار پيدا کوي
- وسرې ما پرون نه درته ويل، بيګا مې نه درته ويل، دغه اوس څه لګيايم دغه کوډګرپه پوست پاك نه دی لوردې زوی ته ګرځوي زوي خو خدای نه دی ورکړی اووه لونه يې دغسې واده کړې اوس دغه اتمه پس مه پسوله پس مانده دې ما او تا غاړې ته رااچوي
- داسې ښه ونه يې ده
- واه واه واه ..
کوټې ته د مومن له رانوتو سره يې مورغلې شوه . مومن وويل:
- پاچا صاحب وايي، ترپوهنتون پورې ځم راسره ولاړشه له رييس صاحب سره به دې مخامخ کړم
پلاريې ورته وويل:

- د پاچا دې په عیال برکت شي، ورځه ورځه
موریې ترشوندو لاندې وزغونځیده:
- ترمورمیره ښه شوه
مومن پلارته وکتل، هغه لاس ورته وښوراوه، چې ولاړ شي.
د مومن له وتلو سره یې پلار خپلې ښځې ته په نرمه وویل:
- دا دی اوس یې له رییس سره مخامخوي چې کار ورکړي بیګا دې ویل چې
درواغ وایي سبا به بیا وایي چې بل سبا
میرمن یې چټکه پاڅیده، پرته له دې چې خپل میړه ته وګوري، ویې ویل «
سرې بس که زوړ شوې خو سردې خلاص نه شو ».
دباندې دوړې بادیدې، لیلا د بلاک شاته له نارینه و پناه ځای ناسته وه دیګ ته
یې شګه نیولې وه. د هغه منځ تور شوی و نه پاکیده. خواښې یې پسې ورغله
مجاهد یې له لاسه ونیو:
- ژړکی درته ښوري له دې دوړو به ړوند شي
بیا یې په څو پیالو کې ګوتې ننویستې ورسره اوچتې یې کړې. په زینو کې یې د
مجاهد پر سر لاس تیر کړ، ورته ویې ویل «زویه خدای به زاتي روښنایي کړي،
تل خو به دغه تپه تیاره نه وي، سلطان جان به راشي ..»
شاته یې څرپې شو، ژر یې مخ وروااړاوه، لیلا وه، ورته ویې ویل:
-زړه دې راوایست، ته هم پسې راغلې؟
- ادې مجاهد دې درسره بیوی زاتي تنها وم ، دغه دیګ غوریزمړی هم سم
سپین نه شو
- خیردی بلا دې ورپسې
روزي خان ټک ټک دانه دانه تسپې تیرولې ، لیلا ورته وویل:
- ابا هغه د څلورم منزل ګاونډی راته ویل، لوښې په میدان ولې وینځې په دهلیز
کې اوبو ته لاره جوړه کړې زاتي کرار اوبه پرې تیروې
خواښې یې ځواب ورکړ:

- لاس اوپښې راباندې دریدلي دي غوټ غوریز لیور دې ګرځي خوبس دې ته تیاردی چې چپه کاکل جوړ کړي بیا یې دباندې د طالب له ډاره تر خولی لاندې کړي

خسر یې په ځادر سترګې وموښلې:

- خوشي خوشي مه غړیږئ

میرمن یې اوچته ولتیده. د غوړو ځز ځر شو، لیلا دیګ ته پیاز واچول. روزي خان په یوه لاس سترګې وموښلې په بل لاس یې مجاهد ته تسبیح وخوځولې، هغه پرې غوټه کړه ده لاس لوړ کړ. بیا یې تسبیح شاته په ځادر کې پټې کړې، مجاهد ته یې لاسونه ونیول:

- په کوم لاس کې دي؟

مجاهد له چورته وروسته یوه لاس ته اشاره وکړه هغه یې نیکه خلاص کړ څه پکې نه و. بل ځل مجاهد د نیکه دواړه لاسونه کلک ونیول، نارې یې کړې:

- درواغ درواغ تسبیح نه شته

لیلا ورغله له خوابنې یې پوښتنه وکړه، چې دوډۍ وباسي که څرنګه، هغې هغه بلې کوټې ته اشاره وکړه :

- ورشه له حقداره پوښتنه وکړه

لیلا خسر وپوښت، هغه ورته وویل:

- مومن ته صبر وکړه، هغه پاچا صاحب هم ورسره دی.

د پاچا د نوم له اخیستلو سره یې ښځې له څنګ لورې کوټې پسې راووته په خوله یې لاس کیښود، روزي خان ته یې وویل:

- زاتي دې دغه پټه شه له دې تورمخي پاچا سره

میره یې غاښونه سره ټینګ کړل:

- غږ دې ټیټ کړه اوس به یې واوري خو دغه یې ور دی

په دهلیز کې د چرګې کغا شوه. د پاچا میرمن ورووته، ویې کتل، د پاچا د لور توره چرګه ترتخرګ ده . د دې له لیدلو سره نجلی په کوټه ننوته، دا په منډه ورغله له اشتوپه یې دیګ ښکته کړ، لیلا ورته وویل:

- ادې ابا وايي ډوډۍ اوس مه باسئ

خواښې يې پرته له دې چې څه ووايي يوه غټه چونډۍ سره مرچ ورواخيستل په اور يې ودوړول. د سوځيدلو مرچو تريخ بوی د ليلا سږمې وتخنولې پرنجی يې شو. خواښې يې لاسونه سره خلاص کړل« دغې بيشرمې دغسې تکه توره غوټه چرګه کورته ننويسته. د دوی له کوډو ډاريږم دغه سره مرچ او د اوږدې پوست کله کله ته هم ورته لوګی کوه»

ليلا پوزه کش کړه، تريخ بوی يې لا له سږمو نه و وتلی. خواښې يې له پلاستيکي کڅوړې يوه مړې ډوډۍ ورماته کړه په ديګي يې پورې کړه، له ډوډۍ په ډکه خوله يې ليلا ته وويل:

- تاسې هغه بادار ته انتظار شئ

- چا ته ؟

- دغه د مورميړه ، پاچا دربښيم

نږور ته يې خندا ورغله ، ټيکری يې په خوله کې کلک ونيو ورټيټه شوه ديګ يې پر ايشتوپ کيښود، اور يې پسې ټيټ کړ.

خواښې يې د دهليز له کړکۍ دباندې وکتل، پاچا مخته مومن ورپسې راروان و. له تنګ او تونګ سره يې پام شو چې د پاچا لور سطل په لاس کې له زينو په منډه ښکته کيږي. پاچا د جوماټ د اوبو د بمبې خواته وګرځيد ، مومن د بلاک خواته راغی ، موريې له پورته ورته کتل چې د پاچا لور کله له وره وروځي. انتظار انتظار چې نه شول سره ښکاره دا پالې پالې په زينو ورښکته شوه، که ګوري مومن د پاچا له لور سره په ښکته دهليز کې ولاړ دی، دا غلې ورته ودريده، له غوږه يې ټيکری لرې ونيو، فاطمې مومن ته وويل:

- په اوله کې چې ستاسو کله راغله ږيره دې وړه وه ډيره ښه درسره ښکاريده

مومن وخندل :

- ته هغه وخت هم اوس هم ښه ښکارې او هغه په کچه ګړۍ کې د پردې شاته په دروازه کې هم ښه ښکاريدې

فاطمې وخندل، خو لاس يې پر خوله کيښود، په وارخطايي وويل:

- دادا مې راغلو
د مومن مور چټکه په زينو پورته وخته. د دهليز له کړکۍ سره ودريده. مومن بيا هم راښکاره نه شو، له کړکۍ يې دباندې سرويوست، مومن د اوبو سطل اخيستی و اوبه يې وړې، دا پسې ورووته د زينو په مينځ کې يې مخې ته ودريده:
- له پردي کار سره دې څه کار؟
مومن په ستما ورته وويل:
- ادې پردی کار نه دی.... د پاچا صاحب دی
- دغه بيا له کله درخپل شو؟!
- ولې خو...
- بس که نو بس که بيشرمه
فاطمې له شا ورو وويل:
- دغه سطل دلته کيږده
د مومن مور هغې ته لاندې باندې وکتل ، سر يې وزنګاوه چې په پاچا يې سترګې ولګيدې غلې بيرته پورته وخته.
روزي خان له مومنه پوښتنه وکړه، کار دې څرنګه شو ؟
مومن په نيولي غږ ځواب ورکړ:
- پاچا صاحب ويل، ناوخته شو په کوربه يې تاته سودا وي...سبا به بيا ورشو
موريې ورته وويل:
- دغه درواغځن، د پاچايانو بلا دې پرې ګرده ورده وګرځي لابه يې وپيژنې
روزي خان تسبيح په موټ کې ونيولې، کلکې يې پر مځکه کيښودې:
- دغه درې ګزه ژبه دې خدای خاوري کړه چې په ښه بدو نه پوهيږې خپل کار ته مو ولې نه پريږدې.
ليلا ډوډۍ راوړه. مومن له خپل پلارسره په کاسه کښيناست، ليلا مجاهد ته مړی ونيوله، روزي خان پوښتنه وکړه چې د سلطان مور څه شوه ؟
ليلا ورته وويل:

- هغه پرته ده
- فشار خو یې نه دی پورته شوی
لیلا سر وخوځاوه:
- ویل یې اوس ډوډۍ نه خورم
دسترخوان لا نه و ټول چې روزي خان ورغږ کړل:
- وا دسلطان مورې هغه واسکټ مې راواخله
ښځې یې لیلا وروبلله. د هغې په لاس یې واسکټ ورواستاوه. روزي خان له مومن سره جومات ته ولاړ.
د مازدیګر له جماعته وروسته ، لمر لاهسک ولاړ و چې فاطمه راغله روزي خان ته یې وویل، پلار مې راځي کار لري. دهمدې خبرې له کولو سره په دالانه کې د پاچاغږ شو « روزي خان کاکا دې شته؟»
فاطمې د کوټې له منځه ورناري کړې:
- هو دا دی راغلم کاکا مې شته
پاچا مومن ته وویل:
- یو دوه سطله اوبه خو زموږ کور ته وخیژوه نن داسې بې شیمې یم
مومن څه ونه ویل، پلاریې پرې غږ کړل :
- هله شابه هله څه ته ولاړ یې .
مومن اوچت پاڅید، روزي خان ناره کړه ، یوه پیاله چای خو رادم کړئ.
پاچا غږ لوړ کړ:
- نه نه ، دا اوس مې په کور چای وڅکه ... اې مومنه !
مومن له دالانه وروګرځید « په وره کې غږ کړه دوه نوي سطلونه مې اخیستي هغه درواخله چې پانګي دې سم شي »
مومن د پاچا د وره مخې ته دیوال په څېپره وواهه، فاطمه راووته ، ورته ویې ویل«اې! بیا دې یوې خبرې نه خبروم »
مومن د دیوال د اوښتې پلاستر بیخ په نوک سست کړ یوه ټوټه راوتوږیده، نوک یې ترې لاندې کړ، فاطمې سطلونه ورته وښورول :

- په څه سوچو کې يې؟
مومن د سطل د لاستې ژی ته ګوتې وروړې فاطمې يې پرلاس ګوتې کيښودې ورته ويې کتل، بيا څو زينې ورسره ښکته شوه، خپله شونډه يې په غاښ کړه:
- زه نوره ځم دادا مې په کور دی...اې اې! دغه مور دې لکه چې سمه پوه شوې ده ، اوف اوس به څه کوو ؟
- څه بابا خلک به هرڅه وايي
فاطمې وخندل، پر زينو په منډه وخته، لاسونه يې پرانيستل، لکه څوک چې په غيږ کې نيسې بيرته يې سره ټينګ کړل:
- ښه وايې، لاس دې خلاص.
په کوټه کې پاچا وټوخل، روزي خان ته يې وويل:
- دغه نن چې پوهنتون ته ورغلم رييس صاحب نه و، استاد عبدالباقي و هغه هم ډير کار درلود دومره يې وويل چې رييس صاحب له خيره سبا ته راځي... که بيا نه و کور خو يې لرې نه دی خوشال مينې نه لږ بره دی وربه شو
- عبدالباقي څوک دی؟
- صاحبه، هاغه د رييس ملګری يادوم، ډير تعليم والا دی رييس صاحب وايي چې داسې سړي په دې وطن کې لږ دي.. په موسسه کې ورسره دی کنه
- کوردې ودان خدای دې وکړي چې ويې نيسي
- رييس صاحب ګوره مومن ته ګوره، چې دی وګوري څه به پکې وايي، استاد عبدالباقي هم ويل د کتاب سړی خامخا راوله او عبدالباقي چې ووايي راسته رييس وايي راسته چې عبدالباقي وايي چپه رييس وايي چپه
پاچا په زګيروي ولتيد، روزي خان په زنګون لاس کيښود چې ورسره پاڅي خو پاچا پرې نه ښود ورته ويې ويل « څه کوئ صاحبه دغه وره په وره يوو، کور مو سره يو دی»
په دهليز کې د مومن او پاچا غږشو چې پاچا ورته ويل:
- بس بس نور نه په ابدان کې ځای شته نه هم خالي ديګی ميګی پاتې دی.

پاچا له مومنه د اوبو ډک سطلونه واخیستل د مومن لمن په اوبو لمده خیشته شوې وه ، موربې په کور کې ورته وویل:
- ولې راتلې، بل کار یې نه و چې ورته کړی دې وی ؟!
مومن سره ساه وایسته.
پلاربې وویل:
- ښځې هلک دې لیونی کړ بس که
میرمنې یې ترژبې لاندې څه وویل، له کوټې ووته، په هغه بله کوټه کې وغځیده، ټکری یې پر مخ واچاوه.
سهار چې بیا پاچا له مومن سره د پوهنتون خواته ولاړ، روزي خان ته یې ښځې وویل:
- لږ دې سر خلاص کړه ، دغه ویټه وازه نجلۍ دې په زوی ټپوي ورته پام دې نه دی پرون په پلمه کورته راغله او بیا یې اوبو ته ورسره ولیږله
روزي خان ترګوتې تسبیح راوڅرخولې:
- وا د سلطان مورې بیګا دې هم ټوله شپه همدا څرخی و، هغه بله ورځ دې هم و او هغه بله ورځ هم، خوشې خوشې په پاچایانو پسې خبرې مه کوه، دا یوه مړی ډوډۍ لا خدای شته چې د چا له سوبه رارسیږي
- په پاکستان کې خو هاغه درې کوره هاخواته وو، هلته هم د ده له برکته ژوندي وو؟!
- دا بې ځایه خبرې مه کوه مه دې په زوی پسې رااخله او مه د پردی نجلۍ ازار وړه
میرمنې یې مخکه په ګوته وټکوله:
- دغه ځای دې ښه وي که د پاچا لور درته نه کښیناسته
روزي خان مخ وګرځاوه، لاحول یې کړل:
- چې څوک په خپل خیر اوشر نه پوهیږي څه به ورته ووایې، دغه بازار ترما او تا له ښو میرو ډک دی، ټول خیرټولوي، دغه د زوی کار دې کیږي خدای ته وګوره په دې بې ځایه خبرو هغه مه دروه.

میرمن یې بلې کوټې ته ولاړه. د پاچا د کور له وره ورو ورو د سندرې غږ راته « زما خیالي اوربل ته جوړ کړه تاویزونه .....» د روزي خان میرمن وزنګیده، راوزنګیده، ګوټې یې پر مخکه ووهلې بیا یې غوږو ته ورووړې او ویې ویل «خدای دې طالب درباندې راولې».

د ماین پاکۍ په موسسه کې پاچا وویل« رییس صاحب! دغه مومن جان همهاغه ځوان دی چې ما درته ویلي و تعلیم والا، په انګریزي کې نو استاد دی »
مومن سترګې ورپولې. رییس خپله لویه خیټه په لاس کلکه کړه، په بل لاس یې مومن ته د ورپسې ورتګ اشاره وکړه:
- راځه چې امتحان ته دې وروولم ، عبدالباقي نه شته که هغه وی.... خیر ته راشه
پاچا په لږ وارخطایي ورته وویل:
- رییس صاحب امتحان پکار دی؟
رییس د کوټې ورپرانیست:
- دا اصول دي ته یې سبا بیا حال واخله
- زه به انتظار شم
- ضرورت نه شته ته ورځه دی به ټوله ورځ دلته وي
پاچا پر ځوکۍ اینبی ځادر ورواخیست، ویې ځانده، ویې ویل:
- صاحب نوزه رخصت شم
د (ته بیغمه اوسه) له ویلو سره رییس پاچا ته لاس ورکړ او له مومن سره بلې کوټې ته ننوت .
په کوټه کې مخامخ تر یوه انځور لاندې لیکل شوې وو، حلقوي ماین، شاوخوا د نورو ماینونو انځورونه وو، یوه اړخ ته یوچوکاټ و چې ګڼ عکسونه پکې نصب شوي وو ، پرسرېې لیکلي وو، د ماین پاکۍ د لارې شهیدان، پر بل دیوال لوی پوستر راځوړند و، پرې لیکل شوي وو د پرسونل ماینونو ډولونه ....مومن ته د پاچا خبره بیا بیا وریادیده، چې د رییس مجاهدین ډیر نه خوښیږي او

داسې سړی دی لکه د پاچا تروزی معلم جان محمد. مومن حلقوي ماین ته
ځیرشو، چې د رییس خبرې په خود کړ «ښوونځی دې چیرته لوستی؟»

- په بورډ کې
- بورډ چیرې دی؟

مومن لاړې تیرې کړې:

- په پیښور کې
- د مهاجرو په ښوونځي کې؟
- هو
- هلته خو له اسلامي علومو پرته بل څه نه تدریس کیږي، انګلیسي دې چیرته زده کړې
- معلم صاحب جان محمد سره که یې پیژنئ د پاچا صاحب تروزی

رییس وخندل:

- ډیر ښه سړی دی تیرځل یې هم پاچا صاحب خط راوړی و
- معلم صاحب جان محمد یوازې انګلیسي درس درکاوه
- یوځو وخته یې د سیاسي علومو درس هم راکاوه

نو ته ووایه چې دین او سیاست سره یو دي؟

مومن سترګې ورپولې:

- فرق خو لري

رییس خپله وړه سپینه خولۍ له تورو ویښتو لرې کړه:

- دا توپیر واضح کولی شئ؟
- حضرت پیغمبر د حکم لپاره منظم اصول نه دې ټاکلي
- څرنګه؟
- حضرت ابوبکر صدیق د اهل حل والعقد له لارې وټاکل شو، حضرت عمر بیا داسې انتخاب نه شو شپږ تنه صحابه په خپلو کې کیناستل او د حضرت عمر پر ځای یې بل وټاکه.

رییس د واسکټ له جیبه سګریټ ورواخیست اورلګید یې ورته ونیو، مومن ته یې وویل:
- دا تشریح دې له چا زده کړې؟
مومن ژبه پر شونډو تیره کړه:
- معلم صاحب جان محمد دغسې ویل خو..
رییس مومن ته لاس وراوږد کړ:
- پاچا صاحب راته ویلي و چې تکړه ځوان دی، دا پوښتنې مې هسې وکړې، خو مقصد مکتب دې لوستی وي همدا کافي ده، سر له سبا به دې ټریننګ ته معرفي کړم
د مومن شونډې ویړې شوې. رییس شاته مخ واړاوه له الماری څخه یې یوه بسته پاڼې راواخیستې:
- دا واخله هاغه مخامخ کوټې ته ولاړ شه ویې ګوره چې د ماینونو په باره کې معلومات پیدا کړې دا کورته مه وړه همهلته یې پریږده
مومن، چې له دفتره راووت داسې ژر ژر رهي و، لکه هوا چې په مخه کړی وي. د دهبري له چوک سره موټر ته ودرید. اسمان ته یې وکتل تک شین و. د پغمان غرونه هسک ښکاریدل، سړک پراخ. له لرې یې پر ښارې موټر سترګې ولګیدې. د موټر له تم کیدو سره ورسپور شو. په بس کې د خولو بوي ته. مومن پر خپلې ږیرې لاس تیرراتیر کړ، ځان ملامته ورته ښکاره شو چې د معاش خبره یې ولې و نه کړه.
د تنخواه په اړه یې فکر کاوه ویل یې که هرڅو وي زحمت به وباسي ورو ورو به ډیره شي.
پلار یې په کوڅه کې د سفارت مخې ته ورته انتظار و وار له واره یې له ده د کار پوښتنه وکړه. مومن ورته وخندل:
- وشو له خیره رییس ته مې داسې ځوابونه ورکړو چې د ده په زړه برابر و
روزي خان د مومن ولې وخوځاوه:
- تنخواه به دې څو وي؟

مومن ځنې وګیراوه:
- رییس صاحب...... رییس... ډیر سړیتوب وکړ زاتي مې له شرمه څه ورته ونه ویل بل ځل واري ته ګورم چې ورته ووایم
روزي خان موسکی شو:
- مخکې دې ویل چې د رییس په زړه پوه شوی ، څه پرې پوه شوې؟
- هسې خو مې له پاچا صاحبه وار له مخه پوښتنه کړې وه چې د څرنګه فکر سړی دی هغه راته ویلي و چې بیخي د ده د تروزي معلم جان محمد غوندې دی د معلم جان محمد خبرې مې ټکي په ټکي ورته وکړې
د کور پر وره چې ننوتل روزي خان په لوړ غږ وویل:
- شکر دی چې د مومن کار وشو
میرمنې یې پوښتنه وکړه :
- معاش یې څرنګه دی ؟
روزي خان نسوار تو کړل:
- ژر به یې معلوم کړي زه وایم یو پنځه زره کلدارې خو به وي.
ښځې یې شونډې بوڅې کړې:
- معلوم نه دی تا بیا په کلدارو کړې
د روزي خان له تسبحو سره شونډې وخوځیدې. مومن کلک کلک لاس پر مخ او بریري تیر کړ.
ماښام ترلمانځه وروسته مومن او پلار یې شل ډوډۍ په لاس اچولې وې د جومات خواته ولاړل، خلکو ته یې کتل چې یو دوو ته یې نیمه نیمه ډوډۍ ورکړه، کوچنیانو او زلمیو پرې راهی کړل نور سره پوه نه شول چې ډوډۍ چاته ورسیده، چا یووړه او څومره یې یووړه.
د مومن مور په کور کې مصله ټولوله چې فاطمه یې بیشقاب په لاس اړخ ته ودریده، حلوا پکې وه، دې وپوښتله، د څه شي خیرات دی؟
- دادا مې ویلو، لږ حلوا وکړئ ...هسې .

د مومن مور په بوخو شونډو حلوا ترې واخیسته ، دورې هورې یې وکتل، لیلا نه وه ، حلوا یې د غوړیو په خالي پیپ کې چې دوی پکې د ډوډۍ پاتې شونې اچول، واچوله بیا یې بیرته په لاس لړ لړې کړه د پیپ له لاندې یې د پیازو پوټکي راوایستل، هغه یې د حلوا پر سر خواره کړل.

روزي خان چې له جوماته راوګرځید سپږمې یې کش کړې، ویې ویل:

- څه مو پاخه کړي دي، داسې ښه بوی ځي لکه د روژ؟

نړور یې ځواب ورکړ :

- فاطمې دوی حلوا پخوله

خوابښې یې ورته وویل:

- خدای شته چې بیا به یې په چا کوډې کولې

میره یې سر وخوځاوه، خولې یې کلکه له مځکې وویشته:

- یوخو تاسې په خپل خیراوشر نه پوهیږئ په هغه پسې به رااخلئ چې دوې روپۍ ګټه یې دررسیږي ...

روزي خان بیا په چیچلو غابښونو پسې وویل « زوی یې درته مامور نه کړ؟!»

د لیلا ناره شوه:

- ادې ادې !!

خوابښې یې مخته روزي خان ورپسې منډه کړه ، لیلا د خاک جارو له ټیمه په لپه کې حلوا راایستلې وه:

- په دې کې حلوا ده

خوابښې یې پر خپل ټټر دواړه لاسونه کیښودل:

- خدای دې واخله داسې سوې سوې چیغې دې شوې ماسکه ویل لړم وچیچلې

روزي خان د حلوا پوښتنه وکړه چې چا اچولې. ښځې یې وویل:

- « نه یمه خبره» بیا یې لیلا ته مخ واړاوه: « اوس په دغه مخ راتور نه کړې، پریږده یې ګناه لرې ګهیځ به یې بیا دباندې مرغانو ته کوټه کړو»

له ليلا لږ حلوا پر مڅکه توی شوه، اليکين يې ورته کيښود بيا يې جارو ورته ونيو.

خوابښې يې دهغې له لاسه جارو کش کړ:

- « د مسافرزوی بلا مې دې ګرده ورده دروګرځي تراوسه پوه نه شوې چې مابښام جارو ښه وي که نه وي!»

خوابښې يې په خپله ورټيټه شوه حلوا يې په لاس راغونډه کړه، پيپ ته يې ورواچوله. ليلا د ايشتوپ اور مړ کړ. ديګی يې راښکته کړ.

روزي خان تسبيح له يوه لاسه بل ته اړولې رااړولې. ليلا د ده مخې ته ډوډۍ کيښوده، ورو يې پوښتنه وکړه:

- دا حلوا به د څه شي وه ؟

خوابښې يې بغورې وپړسول اووف يې وکړ ، مومن وويل:

- دغه حلوا به له پاچا صاحب دوی زياته شوې وه.

روزي خان د وچې ډوډۍ مړۍ غبرګه کړه، سريې وخوځاوه :

- حلوا به يې څرنګه په پيپ کې راته اچوله که پرې زياته شوې وای موږ ته به يې راوړه .

ښځې يې ليلا ته وويل:

- هغه د کوچني مزغی دې وچ نه شي خوب ورځي، پرې اې باسه.

مومن وويل:

- مجاهد نه وي اچولې که پاچا...

مور يې په خوله کې ورولويده:

- بس کړئ بس کړئ دغه څرخی پسې پريږدئ بلا ورپسې تاسې هم چې يوه خبره راواخلئ پسې شاريئ يې.

ليلا مجاهد خپل څنګ ته څملاوه، خوابښې يې وويل:

- اوس چې مومن ته کار پيدا شوی شرم دی چې په بې کړکيو بې دروازو کور کې اوسو خلک به څه وايي

مومن ورته وويل:

- داسې امنیت به بل ځای پیدا نه شي
پلار یې سر وخوځاوه. لیلا ورو وویل:
- دا ځای خو ښه دی خو دا اوبه راخیژول سخته دي
مومن ورته وویل:
- تاسې صبر وکړئ چې دا څو ورځې ترینګ تیر شي او تنخوا واخلم بیا به د اوبو غم وخورم
مور یې ورته وویل:
- د پردیو کوټو غم مه راته خوره
مومن بلې کوټې ته ولاړ. په یوه اړخ په بل اړخ واوښت، خوب یې پر سر شوی و. له کوټې راووت، د پاچا د کور وره ته یې وکتل ده ته فاطمې کیسه کړې وه چې پلار یې د وره ترشا خپل کټ ږدي، ودرید شمال د پردې د یوې خوا څنډه د کټ پرپښو وهله، دی پر زینو ښکته شو له بهره یې د پاچا دوی د کړکۍ خواته وکتل، د یوه کوچني غبر اوریدل کیده چې ژړل یې نوره کراره کراري وه . بیرته په زینو وخوت، په خپل ځای کې یې غزونې وکړې. څنګ لورې کوټې ته د سپوږمۍ رڼا رالویدلې وه، مجاهد د خپلې مور پرنس سر ایښی و، خوابښې یې خپل میړه ته وویل:
- له دې ځایه چې په پرده ووځو ښه ده که بې عقله درته ښکاریږم که هوښیاره خو دا یوه زما ومنه زاتي مو پرده په دغه کې ده او ژمي راروان دی دغه کوچني ته مې سودا ده موږ خو لویان یوو بلا به مو نه وهي
- غږ دې ټیټ کړه لیلا به راویښه شي
دې سر له بالښته ورجګ کړ:
- له زویه پرته دې د مرګ په خوب ویده شي، ویده ده
- ګوره که دغه د مومن کار لکه چې وایي دغسې و بیا به د کډې غم وخورو منم دلته ګډوډ خلک راټول شوي هسې مو دې خدای پرده کوي
- سړې زه وایم دغه کوډګر د مومن سترګې ورپټې کړې دي ستا به هم سبا درپټې کړي

- بس که نوره خو دغه خبره پریږده ، ماسکه ویل ته لا اوس د لمسي او ژمي غم اخیستې اې

- گوره سړې زوي دې له لاسه وځي ما په دغو گناهگارو سترگو د پاچا د لور په لاس کې چاشتونه ولیدل

- دغه حلوا به یې څرنگه په خاك جارو کې راته اچوله ؟

- د لور یې سترگې ترغوړو څیرې دي ، هغه ورځ یې توره چرگه ترتخرگ وه.

د مجاهد سوې سوې چیغې شوې ، انا په غیږ کې ونیو کلیمه یې پرې وویله، هلك بیرته خوب یووړ. د مومن مور پر ځان چف وکړ د روزي خان لاس یې ټینگ کړ:

- باور دې وشه چې هغه د پاکستان په رنگ په دې ورځو کې بیا د خلکو سیوري راپسې شوي

- دغه خوشي خوشي فکرونه مه کوه هیڅ شی نه شته

- دغه سیوري وروسته تر دې له ما ورك شوي و چې له ړنگې کچه گړۍ راووتو

- کله چې د چا فکر خراب وي بیا دغسې وسواس ورته پیدا کیږي هلته د میوند هدیرې ته ورتلې نو داسې فکر دې کاوه

- که د فکر په خرابي وي نو په خوشاله مینه کې چې غلو په لوڅ لغړ میدان ودرولو دغه سیوري به راتلل، هلته ولي نه و

روزي خان په اړخ واوښت:

- کلیمه دې تیره کړه ویده شه.

سپیده چاود مهال د مجاهد په ژړا سره راویښ شول اوبه یې غوښتې، لیلا اوبه ورته ونیولې هلك په وچه غاړه شو انا د ولیو په منځ کې وټپاوه. نیکه یې ترشونډو لاندې څه وویل بیا یې تربالښت لاندې ایښې تسبیح دهغه له سره جارکړې .

سهار د چای په وخت مجاهد رینگه کوله، گوړه یې غوښته، انا یې یوه ټوټه په خوله کې ورواچوله، هلك یوه چکی غوښته، لیلا وویل، دی خپل تره غواړي چې هغه ووت لکه چې ورپام یې شو.

نیکه یې بیا تسبیح ترسر ورتیرې کړې انا یې په تونده لهجه نږور ته وویل:

- ورشه لږ سپیلني ورته لوګی کړه

- سپیلني کله لرو

- هغه ترځان تیر ته مې وویل چې لږ درسره راوړه

- نو ادې څه وکړو؟

خوابښې یې خپله اوریب لمن ورټوله کړه، پاځیده په ایشتوپ یې سره مرچ ودوړول، تریخ بوی یې شو، دې ته نږی ورغی. روزي خان په کوټه کې پرنجي واخیست، لیلا ته یې وویل:

- دغه څوومه ده چې دغه بوی راځي دا څه شی دی ؟

- ادې سره مرچ دودوي، وایی رد د جادو دي

- خوموړیې پرې دغه کړو....

پرنج پرنج ...ښځه یې په خندا کوټې ته راننوته:

- بسم الله کړې ...

- دغه بلا چې بل وارې ونه دودوې، خلک به څه وایي؟

- کوم خلک؟

- دا شاوخوا ګاونډیان به څه وایي چې دا بد بوی دڅه شي دی

- له دوی دې موږ خدای خلاص کړي زاتي کراره کراري ده

- څو که خدای کول

- وا د سلطان پلاره له خیره سره اوس زه وایم چې بل کورته ورووتو زاتي به دغسې د بل لاس و پښو ته نه ګورې د سلطان جان پوښتنه به کوې او اوس خو په وطن کې یوو دغه د زرمینې ګلې او حسینې ګلې حال به له کندزه شرین مړي څوک درته راوړي چې تا داسې پرلتې وهلې وي

روزي خان په زنګیدلې غږ ځواب ورکړ:

- وا د سلطان مورې وایې، تشه لاسه ته مې دښمن یې، تراوسه خو هیڅ نه کیدل ته ودریږه اوس خو چې د دغو دریو حال معلوم نه کړو نو وطن ته څه ته دې سره اور ته راتلو

- دا څو ورځې وروسته چې مومن راشي معاش به يې ورکړی وي؟
- خير دې وي دا يوه مياشت هم په منډو تيريږي که لاره وه په اول معاش به د کندز د خوا غم خورم که څه مځکه ګرو شوه د ايران تګ هم بيا دستي کيږي
- اوس ترهرڅه مخکې د کورغم وخوره چې ژمی راروان دی.
روزي خان خپل څادر په اوږه کړ ليلا په خندا څپلی د ده مخې ته کيښودې.
روزي خان چې په زينو کې ښکته کيده پاچا پرې غږ کړل، صاحبه! چيرته له خيره؟
- تر دې سرای شمالي پورې ځم که د کندز د لارې حال معلوم شوی و
- لارې بندې دي، زه بله شنبه پيښور ته ځم يوه کڼه راتيروم ترهغه به که خير و د مومن جان تنخوا هم معلومه شوې وې
پاچا غاړې تازه کړې :
- چې ستاسو کڼه مې راوړه ماشومان مې د رييس صاحب کور ته، هاغه قلعه مرادبيګ ته وړي وو، اوس مې په تاسو زړه تکيه دی.
روزي خان له دوړو څادر خولې ته ونيو د سفارت د دروازې ترخولې چې وتل دی بيرته راوګرځيد وې ويل:
- چې د کندزلاره خلاصه نه ده نو څه ته هغه د اسمان ترسره ځم.
پاچا لاس ورته وخوځاوه، دی راوګرځيد. د زينو په نيمايي کې ودريد. بيا تيز شو. د زينو په سر کې د پاچا لور سلام پرې واچاوه دی ترې تيرشو لکه دهغې سلام چې يې نه وي اوريدلی.
په کور کې يې تسبيح په ګوته څرخولې، سترګې يې په ديوال کې ګنډلې وې. مجاهد په کوټه کې منډه کړه، بوفف نارې يې کړې. روزي خان وخندل له لاسه يې ونيو:
- راځه چې چکر درکړم
ميرمنې يې ورته وويل:
- چيري يې بيايې
- تر دا ها خوا مکتبه

دباندې لمر تر ونو لویدلی و. پر عمومي سړک بایسکلونه ډیر ښکاریدل، یو نیم موټر چې به راښکاره شو، مجاهد به چیغه کړه:
- ابا غواګۍ راغله غواګۍ ده هاغه ده
د سراچه موټر له تیریدو سره به دوی پسې تر هغو کتل چې په دوړو کې به ورکه شوه. روزي خان د حبیبي لیسې له دیوال سره ودرید. مجاهد یې له لاسه کش کړ، د دیوال له رنګې شوې کتارې ورواوښتل. د لیسې په انګړ کې اوزې څریدې، څو کوچنیانو لړلړې په توپ پسې منډې وهلې. روزي خان په کبله پسې ګرځیده یوځای شین ورته ښکاره شو، هلته یې څادر وغوړاوه. څنګ ته یې ویالې ته وکتل، وچه وه. د ویالې شګې یې په موټ کې ونیولې. میږی یې پر لاس لګ شو. له ویښتو پر ډک لاس یې میږی کوږ وږ رهي و. یو ځای ودرید، دی یې وچیچه، ده وریو کړل، میږي ځان کلک کړ. روزي لاس وڅاڼده هغه لاندې ولوید. د ویالې خواته روان شو ده یوه وچه لښته راواخیسته چې میږی پرې ووهي، هغه له بل میږي سره ښکر په ښکر شو او په کتار ورګډ شو.
د هلکانو نارې شوې په توپ پسې یې هی کړل. مجاهد په ویاله کې منډه کړه. هلک بیرته رامنډې کړې. ده خپل لاس وګیراوه، نسوار یې خولې ته کړل. هلک په وچه ویاله کې شګې پر پښو واړولې.
د سیورې له غوړیدو سره سوکه سوکه دوړې کښیناستې، خو روزي خان تږخي پسې اخیستی و، وچ تږخی و.
د ماسختن له جماعته وروسته روزي خان سر ښکته اچولی و پاچا یې څنګ ته روان و غاړې یې تازه کړې:
- سبا که خیر و ماین پاکۍ ته ورځم مومن به یوځل بیا هم باندې وسپارم
- خیریوسې خدای دې موړ بې تا کوي نه پاچا صاحب زما هم له بیګا راهیسې لړسودا ده چې کار به یې څرنګه شوی وي
- « نه هغسې خو بیغمه شه، خدای شته، اینده د همدغو مکتبیانو ده، موسسه پوهیږي» پاچا وخندل، یوه سترګه یې پټه کړه« ماهم داسې واسطه نه ده ورته پیدا، استاد عبدالباقي ته مې هم ویلي دي »

- عبدالباقي هغه د رييس ملګری
- هو هو ملګرتیا نو دغسې وي
- په خوله دې برکت شه.
د ډوډۍ په وخت مجاهد ژړل ، لیلا یې په سربانډې لاس کیښود.
- سریې تود دی
روزي خان یې نبض ولید:
- ښه دی ډیرنه غورځي
انا مجاهد په غیږ کې واچاوه ویې زنګاوه د هغه سترګې سره ورغلې . د شپې څو ځله مجاهد راویښ شو یو دوه واره یې سوې چیغه شوه سرلاس یې ګرم ول.
سهار یې انا وویل:
- څه الویزانده شپه یې تیره کړه.
روزي خان د مجاهد پر تندي لاس کیښود، میرمنې یې د توشک له لاندې رومیال ورواخیست د هلک سریې وتاړه :
- ډاکټر ته یې ورښکاره کړه تیره ورځ مو ویل ښه به شي نن شپه یې ترهغه سخته تبه وه
روزي خان د واسکټ زنځیر خلاص کړ د کلدارو څو نوټه یې راوایستل، ورته ویې ویل:
- په ټول کور کې کل کمال دغه پاتې دي
ښځې یې سترګې راوایستې:
- نو ډاکټر ته به یې نه وړولو؟!
- نه خو خدای دې وکړي چې دوا یې ګرانه نه وي.
ښځې یې پوزه پر ټکري پاکه کړه. روزي خان په ستمي هلک په غیږ کې واخیست د هغه پښې د ده ترزنګنو ځوړندې وې، ژړل یې، شاشا ته یې کتل مور یې غوښته ، انا یې پسې ورمنډې کړې یوه ټوټه ګوړه یې په خوله کې ورواچوله.
روزي خان د ژاولو د اخیستو ژمنه ورکړه. د بلاک په خوله کې هلک بیا رینګه

وکړه، له پورته یې انا چونډۍ ورته ونیوله په اشاره یې پوه کړ چې دا دی نوره ګوره درکوم ، پاچا د زینو له کړکۍ روزي خان ته ورناره کړه:
- هلک څرنګه ژاړي ؟
روزي خان مجاهد له غیږې کوزکړ، هغه چیغې کړې. پاچا د ده غږ نه اوریده ، ده هلک ته څېره ورکړه، بله یې وواهه انا یې په منډه منډه راښکته شوه له هلکه یې لاسونه چاپیره کړل د هغه سلګۍ وې ژر ژر یې سترګې رپولې. پاچا هم راغی د مومن موروپوړنی پرسرسم کړ.
پاچا روزي خان وپوښت، چیرته، خیر دې وي؟
- ډاکټر ته مې دغه پدرلعنت بیوی
د هلک سلګۍ شوې. د روزي خان میرمن خپل میړه ته بد بد وکتل، د هلک پرسرېې لاس تیر کړ. پاچا روزي خان ته وویل:
- پل باغ عمومي کې ښه ډاکټران شته زما په بایسکل یې وروله
چې پاچا په بایسکل پسې روان شو روزي خان ته یې میرمنې وویل: « ګواره څوک هلک دغسې بې دریغه وهي ؟!»
دی ورتېټ شو د مجاهد په باړخوګانو یې لاس تیرکړ، هغه د ده لاس پورې واهه، ده کټ کټ وخندل سر یې وخوځاوه. پاچا بایسکل ورته ودراوه:
- صاحبه څنګه دې وخندلو؟
روزي خان سروخوځاوه:
- دا یې د دې زمانې کوچنیان، مخکې مې لږ وتراټه اوس یې زما لاس ټیله کړ
پاچا د زین په پوش باندې څوړند څونډې ورسم کړل، بیا ورټیټ شو ټیرونه یې پر ګوتو ټینګ کړل:
- دغه شاتنی ټیر لږ کم هوا دی که دې په لاره هوا ورکړه ښه به وي چې پنجرنه شي .
روزي خان خپل څادر ونغښت د بایسکل مخې ته یې پر میل کیښود، لاس یې پرې تیر کړ بیا یې مومن هلته کښیناوه. مومن د بایسکل هنډل په غبرګو لاسونو ونیو ده یې لاسونه ورپرانیستل:

- دلته یې ونیسه چې بیا له بریک سره ګوتې نیسې
مومن شاته نیکه ته مخ وروارا‌وه، ویې خندل. نیکه یې پر بایسکل پښه واړوله، پاچا ته یې لاس پورته کړ.
ډاکټر له معایناتو وروسته نسخه ورته ونیوله او ترې ویې غوښتل چې دوا په اول منزل کې له درملتونه واخلي.
په درملتون کې د الکحولو بوی ته، د یوه هلک چیغې شوې، مجاهد په خپل نیکه غیږ وګرځوله، شونډې یې بوخڅې شوې د درملتون څښتن شاته پسخانې ته اشاره وکړه او یوه پیچکاري یې ده ته ونیوله:
- ونه ژاړې چې بیا تا ته هم پیچکاري درکوم
مجاهد دواړه سترګې د درملتون سړي ته ونیولې، هغه نسخه یو وار یوه خوا بیا بله خوا واړوله راواړوله، د نسخې په شا یې پیسې جمع کړې:
- درې لکه افغانۍ شوې
روزي خان نسخې ته وکتل، خولې یې په یوه لاس له سره پورته کړه، بیرته یې کیښوده. د دواخانې وال بیا ورته وویل :
- که افغانۍ نه وي پروا نه لري کلدارې راکړه
- یوقلم دوا کمه کړه
- کاکا اصلي دوا دې انتیبوتیک ده، هغه قیمته ده، هغه نه شو کمولای یو ویتامین یې کمولای شم هغه پیڅلس زره کیږي.
روزي خان جیب ته لاس کړل، په بغل جیب کې یې پر خپلو دوو زرو کلدارو ګوتې ووهلې. د دواخانې وال ته یې وکتل هغه د یوې بلې نسخې حساب کاوه. ده په پټه خوله خپله نسخه ورونغښته په جیب کې یې کیښوده.
بل درملتون ته ورغی، هلته د درملتون وال ورته وویل، دا دوا نه لرو. دریم درملتون ورته وویل، دا قراردادي نسخه ده ظالمانو پیسو ته چل جوړ کړی دی زوی دې په څه دی ؟
روزي خان د هلک پر تندي لاس کیښود:
- تبه یې ده

د دوا خانې څښتن يورقم گولۍ ورکړې، ورته ويې ويل، که سبا ته ښه نه و بيا يې ډاکټر ته ورښکاره کړئ .
ده د دوا دولس زره افغانۍ ورکړې او په بايسکل يې پښه واړوله.
مومن په کور کې د پلارپوښتنه وکړه، موريې د مجاهد د ناروغي کيسه ورته تيره کړه .
مومن ورته وويل:
- ادې پوښتنه دې ونه کړه چې کار دې څرنگه شو ؟
- که رېښتيا درته وايم په دغه کارمې دې زړه ښه نه دی
- ادې ښه تنخواه لري .
- چې د زړه خبره درته وکړم دغه د پاچايانو بلادې پرې وگرځي، دغو ته مې زړه نه کيږي
- دهغوی يې له کار سره څه، پاچا خوارکي څومره زحمت راسره ويوست ته بيا داسې پسې وايې
موريې ساه نيولې وويل:
- دغه ويته وازه بد سترگې خو دې واله که راته کښينه يې .
د باندې د مجاهد ژړا شوه، ليلا ورووته په روزي خان يې زيری وکړ چې مومن راغلی دی کار يې شوی دی .
روزي خان هلك ليلا ته وسپاره په منډه منډه راغی مومن ته يې غيږ ورکړه او د کارپوښتنه يې ترې وکړه.
مومن په خندا ورته وويل:
- وشو، سرله بلې ورځې به کار ته ورځم او معاش به بيا له دغه اول تاريخه وروسته حسابوي
- نن څووم تاريخ دی ؟ هو رېښتيا نن به څلرويشتم وي
- نن څوارلسمه ده په موسسه کې معاش په عيسوي تاريخ راکوي
روزي خان څت وگيراوه:
- زويه دا څومره تاريخونه دي؟

- ابا دغه ملایان نه پوهیږي چې څه شی په خپل نوم کړي نو تاریخ یې هم بدل کړ
- په دغو پسې په جګ غږ په دفتر کې څه مه وایه، څوک دې شیطاني ونه کړي
- ابا هلته سم خلک راټول شوې

روزي خان د تسبیح درې دانې بیلې کړې، په خندا یې وپوښتل« تنخوا دې څو شوه ههمغه پنځه زره ؟»

- نه سل ډالره
- زویه ډالر مې خدای که په لاس کې نیولی وي، داسې سپینه راته ووایه چې په کلدارو څو شوې؟
- شپږ زره اووه سوه

روزي خان خپلې ښځې ته چې په وره رانتوته وکتل « دغومره تنخواه په پیښور کې د یوه غټ بابو له رشوت سره د میاشتې نه کیده »

میرمنې یې وویل:

- هو چې ټوله دې خپله شي

مومن اوف کړل. روزي خان مومن ته څیرشو« له خپلې تنخواه خو به رشوت نه ورکوي »

مومن خپل تندی وموښه. موریې د تکري پیڅکه په اوږه سمه کړه، له کوټې ووته. روزي خان مومن ته وویل:

- ولې ناوخته شوې؟
- میدان ښار ته یې ټریننګ ته بیولی وم خو رییس صاحب ویل چې استاد عبدالباقي راشي بیا به عملي کار شروع کړې

روزي خان تسبیح په لاس کې واړولې راواړولې شونډې یې بوڅې کړې، مومن ته یې اشاره وکړه « ته ورشه وګوره مور دې له هاغه بلې سره خو نه دې خوړلې ؟»

مومن د دهلیز له کړکی دباندې وکتل. لاندې په غولې کې فاطمې په شګو لوښې سپینول، نو د زینو له رنګې شوې کتارې په نوک یوه ټوټه پلاستر بیل کړ د پاچا

د لور لور ته یې ورواچاوه هغې شاوخوا وکتل بیرته یې د وابښوو کوده توردیګ ته ونیوله، مومن د پلاستر بله ټوټه ورواچوله. د فاطمې ورپام شول، په پښو کې یې ورټوله کړې لمن ورخلاصه کړه، ده ته یې په خندا لاس وخوځاوه او دیګ یې ورسره راواخیست . مومن ته یې پلار ورغږ کړل :

- پسې څه شوې ؟

ده فاطمې ته لاس وښوراوه خو نجلۍ د بلاک په وره ننوتې وه . ده سر له ورسی ورویوست چې ویې ویني، نه ښکاریده په زینو ورښکته شو مور یې چې دیګ یې په لاس کې و ورپام یې شو، په زینو کې پسې روانه شوه، مومن له دوهم منزل سره له فاطمې سره ودرید، هغې ورته وویل:

- داسې پټ راغلی یې زه دې نه یمه خبره کړې

- په خدای که به مې ساعت شوی وي

- ربښتیا نه وایې

- په خدای قسم درته خورم

- تا ته هروخت مور مور ده ..مانه...

چې مومن بیا قسم ورته خوړ موریې پرې غږ کړل « پزه دې له دغې بې شرمې سره پرې شه»

د پاچا لور ټکری پرسر ورکش کړ، اوچته په زینووخته. مومن څه ونه ویل دباندې ووت. موریې کورته ستنه شوه په لوړغږ یې روزي خان ته وویل:

- خدای مو دې پردې کوي

- څه شوي؟

- نوربه لاڅه کیدل دغه د پاچا واله دریادوم د کنې لور

روزي خان څادر وځانده په اوږه یې واچاوه په تلوتلو کې یې وویل:

- څوک چې په خپل خیراوشر نه پوهیږي خدای دې پوه کړي

ښځې یې په ژړغوني غږ وویل:

- په دې رنګ کابل کې دې د سلطان ګل حال هم ښه معلوم کړ

میړه یې یوه کپه نسوار خولې ته کړل مخ یې ورواړاوه :

- نه شرميږې په دې سپين سر ناپړيتې وايې په خلکو تهمت کوې

د ميرمنې يې سونګټ شو. روزي خان غاښونه وچيچل «نوره دې دا تيره ژبه درلنډه کړه، کنه په دين به دې درپوه شم»

ميرمن يې وپوړيده، ليلا ګولۍ ورته راړوه د دې تر ژبې لاندې يې کيښوده.

روزي خان ژړژر په زينو ښکته شو. مومن د دروازې د خولې له پيره دار سره ولاړ و، ده پوښتنه ترې وکړه چې څه کوې؟

مومن د طالب خواته لاس ونيو:

- ابا...ساعت شو چې له دې طالب ګل سره ولاړ يم

روزي خان مخکې مومن ورپسې د سړک خوا ته روان شول، روزي خان ورته وويل:

- زويه تنخواه به دې پيشکي درنه کړي، په کورکې زاتي هغه د چا خبره سره بې پردې کيږو

مومن دواړه لاسونه پر ټټر کيښودل، سترګې يې پټې کړې، ساه يې واخيسته:

- که پاچا ته ووايم چې رييس صاحب ته واسطه شي

- هغه پيښور ته روان دی

مومن د پلار مخې ته ودريد:

- کور خو نه بيايي؟

- نه هغوی نه ځي، د دوی په موږ زړه تکيه دی

مومن ژړژر لاړې تيرې کړې په اړخ شو:

- د پاچا يې کور ودان، که نه وای دا کار به مې له کومه کاوه

- ښه ته خو د تنخوا خبره د پاچا باجه ته تر غوږ ورتيره کړه، چې بيا له خيره سره يو کرايي کور ونيسو دلته خو نوره له دې زير دار ګريختګيانو سره شپه نه شو تيرولی

مومن ډيره پر ګوتو کش کړه:

- ابا دلته امنيت ښه دی

- په دغه خبرو ته نه پوهیږې په مهاجرت کې رالوی شوی یې، دلته سیالي شریکي لرو

مومن غوښتل چې څه ووایي پلاریې دی له لاسه ونیو:

- ترکومه به څو راځه چې بیرته وګرځو زویه

مومن دې ته چورت واهه چې کله به چیرته ورځي . خپله مور یې سترګو ته ودریده چې د تندي ګونځې یې سره ورروستې دي، په نخوال ورته وایې « پزه دې پرې شه»

د فاطمې له سلام سره له چورته ووت چې د ده پلارته یې واچاوه بیا یې ده ته ورو اشاره وکړه او د اوبو سطلونه یې سره وجنګول.

په کورکې یې مور پرته وه، پر مخ یې تیکری ورکش کړی و، لیلا ډوډۍ پخوله.

مومن مجاهد له لاسه ونیو چې چکرورکړي، پلاریې ورته وویل:

- زویه دغه دې په دې چکرو اموخته کړی چې بیا سبا ځې درپسې ژاړي ډاریږم درپسې هلووکي یې نه شي

مومن وخندل، هلك یې له لاسه کش کړ. پلار یې پسې غږ کړ:

- دغه مه درسره باسه ښه نه دی

مومن له مجاهد سره په زینو کې منډه کړه چې د دوهم منزل له زینو ښکته کیده د فاطمې له سطل سره ولګیده اخ یې کړل د هغې اوبه تویې شوې. په زینو کې د سطل له ګرنبي کیدو سره د دوهم منزل د دواړو خواوو له زینو ښځو د پردو له شا سرونه راوایستل:

- اي دخترهمراي اوبچه ست

- ساعت تيري ميکنه

- خيريت اس

مومن سرښکته واچاوه لاندې کوزشو، فاطمې پسې نارې کړې: « اوبه دې چپه کړې اوس خو یوځوسطله جریمه راوړه »

دی له مجاهد سره د جومات د بمبې خواته تیر شو. د چاودنې ګرز شو. مجاهد یې ورکش کړ پورته وخوت. پلاریې کړکی ته ولاړ و، د تسبیح دانې یې اړولې:

- خیر کړې خدایه
مومن ورته وویل:
- داسې ښکارې چې چاودنه نژدې وه
- هلته لاندې د وره طالبان هم ورووتل
مومن د دارالامان خواته لاس ونیو:
- هاغه ده هلته دوړې پورته شوې همهلته چاودنه شوې
پلار یې تسبیح ته وکتل وظیفه یې شروع کړه. فاطمه راغله روزي خان ته یې وویل:
- پلار مې راځي
مومن سترګې ښکته واچولې. پاچا د فاطمې له وتو سره دستي کوټې ته راننوت، وارله واره یې مومن ښکل کړ، د کارمبارکي یې ورکړه.
مومن فاطمې ته وویل چې چای تیار کړي ، موریې ورته وویل:
- د مور میره دې بیا ناست دی
مومن سروخوځاوه ، موریې اوف کړل:
- چې ساه مې په خوله کې وي د معیوبې ویته وازه لور خو به راته نه کښېني
لیلا وخندل، مومن دهغې له ژنې سره لاس تیرکړ:
- ته دې پوزخندونه مه وهه چای دې دم کړه
موریې د لیلا له لاسه اورلګیت واخیست چې ایشتوپ بل نه کړي، د مومن غالمغال ورسره پورته شو، په اورلګیت یې غوټه کړه :
- مه موشرموه
- واله که خو غوړپ وکړي
د دوی سره کش و ګیر وچې د پاچا غږ جګ شو :
- مومن جانه وا مومن جانه څه شوې؟
مومن اورلګیت له مخکې وویشت، ورووت، پاچا ورته وویل:

- « تګ مې مخکې شو، زه سبا له خیره د سهارلمونځ پل محمودخان ته رسوم بیا نو د پیښور په لور کش» پاچا په ویرو شونډو پسې وویل «ګوره که څه خبره وه رییس صاحب خوشته بس داسې خیال کوه، چې زه درسره یم»

د پاچا له خدای پاماني سره روزي خان ښځو ته وویل:

- « څه بې شرمي مو جوړه کړې وه دغه پردي سیال ته مو وشرمولم»

چې مومن خوله پرانیسته له شا یې مور ځواب ورکړ:

- دغه کم اصله بې شرمي کوله معاش یې معلوم نه دی

روزي خان اوف کړل، د تسبیح د دانو له ټک ټک سره یې شونډې په وظیفې وښوریدې.

د ماسختن د ډوډۍ په وخت لیلا د مجاهد پر تندي لاس کیښود، روزي خان ته یې وویل:

- دهلک خو تبه نه شته ګولی ورکړم

- دغه یې ډاکټران اوس یې د څو لکو نسخه راباندې اخیستې وه، دوا مه ورکوه.

سهار چې مومن کارته روان و د پاچا لور اشاره وکړه چې کورته ورشي.

مومن ورو ورته وویل:

- مور دې؟!

فاطمې یوځوا مخ پر خپل لاس کیښود، سترګې یې پټې کړې.

مومن وخندل، شاته یې وکتل، ژر یې د پاچا د کور د وره پرده جګه کړه.

د فاطمې په کوټه کې د بادبرک بوی ته، په شنه ترپال سفنجي توشک پراته و، مخامخ په دیوال خامک دوزي ګلان میخ شوي وو ، فاطمې په غوږ کې ورته وویل « دا زما دلاس کاردی» مومن ورو ورو واه واه کړل. دې د مومن پراوږه لاس کیښود:

- بازار ته به لاړ شو زما خوښیږي

- د کوروال به څه وایي ؟

- هغوی پریږده

- طالبانو که ګیرکړو

فاطمې د ټکري پېڅکه په ګوتو کې ومروړله :
- زه به دې پلار ته ووایم چې مجاهد ماسره ولیړي لړسودا مې پکار ده یوازي طالبان څوک نه پرېږدي، زه به هغه سره ووځم ته بهر ودرېږه چې ماشوم وي بیا طالبان څه نه وایي
- که طالبانو له مجاهده پوښتنه وکړه
- مجاهد ته به ژاولې واخلو ورته وبه وایو که طالبانو پوښتنه کوله ورته وایه زه د دوی زوی یم
مومن ته خندا ورغله، خولې ته یې لاس ونیو، فاطمه یې پراوږې وټپوله :
- نن خو دفتر ته ځم سبا به ولاړشو
- دفتر نه وختي راشه مازدیګر ته چکر خوند کوي
مومن په لړ لوړ غږ وخندل، فاطمي پر خپله خوله ګوتې کېښودې.
مومن چې د دوی له کوره راووت فاطمه یې مخته کړه چې ځار وکړي. هغې د وره پر سر ځوړنده پرده پورته کړه ژړیې خوشې کړه ګوته یې په خوله کې ونیوله، د مومن په غوږکې یې وویل، ابا دې ښکته کیږي.
د روزي خان د پښو ځرپا لا له زینو راتله چې مومن د پاچا له کوره راووت. د بلاک مخته یې وکتل چې پلاریې هم له سفارته وځي نو لږ صبریې وکړ چې ویې نه ویني د مور د لیدو اندیښنې هم اخیستی و، له بلاکه لړلړې ودرید، څادر یې پر سر واچاوه، صحرا ګشت ته ورتیر شو هلته کښیناست، ښه صبر یې وکړ بیا روان شو. د تسبیح پوپک یې چې د پاچا لور ورکړی و، له جیبه راویوست ښکل یې کړ، منډه یې کړه. دفتر ته پرې ناوخته شوي و.
په دفتر کې رییس ورته وویل:
- مومن خانه ناوخته راغلې داسې خو کار نه کیږي
- صاحب سرویس ناوخته شو
رییس د ورپسې ورتګ اشاره وکړه، ورو یې وویل، ستا لپاره عبدالباقي دوی معطله دي.

د موسسې موټر تیار ولاړ و، پنځه تنه پکې ناست وو. د مومن له ورپورته کېدو سره موټروان موټر ګیرته کړ، د میدان ښار په لوروخوځېدل .
میدان ښار ته څېرمه د سړک غاړې ته د یوه پټي شاوخوا په سره رنګ رنګېدلې ډبرې ایښې وې، موټر ورته ودرید. په پټي کې راشنه واښه شمال په ملا یوې ډډې ته کاږه کړي وو، چې څرنګه ماین پاکانو وسایل ښکته کړل، د پټي په منځ کې په وچه ونه کې ناست ټپوس وزرونه ټپوهل، والوت. یوه ماین پاک چې ماکس یې پر سر کیښوده، وویل:
- خدای دې خیر کړي، ټپوس بد شاګوم لري، چې الوزي..
یوه بل ماین پاک یې خبره ورغوڅه کړه:
- بیغمه کار کوئ ټپوس پروا نه لري، کونګ خلک بد انګیري
عبدالباقي ورته وویل:
- دا هسې خبرې دي، په اروپا کې خلک کونګ ته د بخت په سترګه ګوري وایي ځینو لا په کورونو کې د بخت لپاره د کونګ مجسمه ایښې وي.
دو ماین پاکانو یوه بل ته سره وکتل، سر یې وخوځاوه. عبدالباقي د موټر خواته تیر شو. نور ماین پاکان کیښناستل، ورو ورو یې یویو اینج مځکه پلټله. مومن نورو ته سامانونه ورکول او د هغوي لاربښوونو ته یې غوږ نیولی و.
دغرمې د ډوډۍ په وخت عبدالباقي له موټروانه وغوښتل چې د مومن پر ځای له ماین پاکانو سره مرسته وکړي، په خپله له مومن سره میدان ښار ته ولاړ چې ډوډۍ راوړي. مومن څو ځله د ساعت پوښتنه وکړه. عبدالباقي په خندا ورته وویل:
- د عاشقانو غوندې بې قراره یې
مومن لاندې خپلو څپلکو ته وکتل. عبدالباقي ورته وویل:
- ترپنځوبجو خو یوو ترڅوشیان سره ټولوو او څو نو ماښام به که خیر و کابل ته ورسیږو.
مومن ږیره وګیروله. عبدالباقي وخندل:
- ښه ده چې ناوخته شي له یو دوو زورکي جماعت لمنځونو به خلاص شو

د مومن شونډې ویړې شوې ورته وېې ویل:
- د غرمې لمونځ مو هم په جمع ونه کړ
- د ورځې څو ځله باید لمونځ وکړو
- پنځه وارې، کنه
- شیعه مسلمانان دي؟
- هو خود
- هغوی خو درې ځلې لمونځ کوي
مومن غلی شو. عبدالباقي ورته وویل:
- دغه نورملګري ماته د سم مسلمان په سترګه نه ګوري
مومن ورته وویل:
- ځکه یوه همکار په کابل کې راته ویل چې له عبدالباقي سره مه ګرځه
- د دې سړي نوم مه اخله ځکه چې د هغه حق خوړل کیږي
مومن ورته وویل:
- د لمانځه بحث دې په زړه پورې دی
عبدالباقي ورو ورته وویل:
- په قرانکریم کې اصلا د جمعې له لمانځه پرته نور لمنځونه ډیر واضح نه دې یاد شوي
- خو ډیر شیان په احادیثو ثابت دي
عبدالباقي موټر د ماینونو د پلټنې خواته تاو کړ. په خامه سړک موټر په دوړو کې پټ شو، دوی شیشې پورته کړې. د موټر له دریدو سره عبدالباقي مومن پر ولي وټپاوه:
- د احادیثو په برخه کې بیا زه او ته مفصل غږیږو له نورو سره زه دا بحثونه نه کوم، په خبره نه پوهیږي رییس صاحب ستا په برخه کې راته ویلي و چې د مطالعې خاوند یې نو په دې باره کې بیا خبرې خوند کوي، اوس به ورشو ډوډۍ به نوش جان کړو.

د موټر له دریڅو سره ماین پاکان له پټي راولټیدل، ټول د موټر سیورې ته ودریدل. عبدالباقي څادر هوار کړ، یوه ماین پاک له خپل بیکه پیاز وړواخیست، سوک یې ورکړ. یوه ټوټه یې عبدالباقي ته ونیوله، هغه وانخیسته، بیا یې مومن ته لږ پیاز ورکړ. د کچالو د قورمې بوی د پیازو په تریخ بوی کې ورک شوی و. ماین پاکانو کاسه کړه ونیوله په تشه کاسه څو تنو یو ځای د ډوډۍ ژۍ راکاږله، بیا یې دعا ته لاسونه جګ کړل، عبدالباقي د موټر سیټ ته وخوت. مومن هم پسې ورغی د موټر له کړکی یې په سویچ بورډ کې ساعت ته وکتل، د فاطمې خبرې یې بیا بیا په غوږو کې ازانګه وکړه

«مازدیګر چکرخوند کوي...مازدیګر...»

پنځه نیمې بجې وې چې ماین پاکان سره موټرته وختل، مومن لارې ته کتل، په لاره کې یې د خرابو سړکونو شکایت وکړ ویې ویل، که سړکونه جوړ وی اوس به په کابل کې ناست وو.

ترڅو یې وسایل موسسې ته رسول تیاره شوې وه.

په کورکې مومن ته پلار وویل:

- سودا موشوه چې څرنګه ناوخته شوې؟

- لارې تکه تکه دې موټران پرې پالې پالې ځي

- د پیشکي تنخواه غم دې ونه خوړ؟

مومن لاړې تیرې کړې :

- لکه چې نه یې راکوي، ودریږه چې پاچا راشي خپل باجه ته که ووایې، وایم وبه شي، استاد عبدالباقي زموږ د ډلې مشر هم پاچا ډیر پیژني نن یې د ده پوښتنه کوله

روزي خان وویل:

- د کورغم هم پکار دی شکر اوس خو تنخواه شته دلته به په دې بې دره دروازې کور کې تر کله اوسو؟

مومن ورته وویل:

- واله ابا ښه وایې

موریې په خندا په خوله کې ورولویده :
- هو پلاردې خود ښه وایي ژمی راروان دی په دې بې دره دروازې کورکې به مو سکاروی ووهي
مومن غاړې تازه کړې:
- ښه خبره ده خو گومان نه کوم چې داسې ښه امنیت به لري، زه وایم په دغه کورکې چې اوسو که لږ لاس ووهو سره سم یې کړو څرنگه ؟
روزي خان نسوار خولې ته کړل :
- نه زویه د مور دې هم همدا سلا ده او زما هم، وتل مو په خیردي، په پردو کورونو څه ته خرڅ کوو هغه هم د روسانو
مومن څه ونه ویل د خوب ځای ته ولاړ، څادر یې پر سر کش کړ. د پلار و مور په خبره یې چورت واهه « چې معاش واخلم نجار به راولم کړکی دروازې به کښینوي...پلار یې نه مني مور خو ده شله چې وځو...ته ودریږه له فاطمې سره به سلا وکړم چې څه وایي... راځه اوس ورشه پاچا هم نه شته ... د غله گومان راباندې ونه کړي ...بیگا فاطمې ونه لیدم چې راغلم ...اوس ونه ویریږي.... توکل په خدای ... »
راپاڅید د دهلیز له کړکۍ د شمال پشهاري راته، دباندې داسې کراري وه لکه کلی، لکه یو متروک کلی چې نه پکې د چرگ اذان وي نه د غوا رمباړه. شاوخوا لرې ځایونه له پورته تور ښکاریدل ، تپه تیاره وه . مومن د گوتو پر سر ته، لوڅې پښې د پاچا وره ته ودرید، پرده یې راکاږله، بنده وه نه جگیده ، زوریې وواهه د پردې له کشیدو سره کړنگ کړونگ شو. ده رامنډه کړه، د فاطمې چیغې شوې ، روزي خان ولټید ، میرمن یې ټیکرى پر سر کړ :
-دغه بخت دې هم بیدار دی چې پیریان یې نیسي
روزي خان وویل « د پاچا دوی کورته لکه چې غل ورلویدلی و خو غیرتي لوریې ده نارې یې کړې» بیا ټوخي واخیست، ویې ویل « زه چې ورووتم په زینو کې مې داسې څرپې واورید لکه څوک چې منډه کړي خو تشه لاسه ته مې دښمن یې»

ښځې يې سرکيښود :

- نه دز به دې پرې کړی و

- ته ورشه هاغه نجلی به ډاريږي

- بلا يې هم نه وهي

- که نه ورځې دلته به يې راولم

ښځې يې بالښت پورې واهه:

- ورځم ورځم دغې حقدارې ته

فاطمې څراغ لګولی و، دواړه لاسونه يې پر ټټر ايښې وو، ټکری يې په غاړه کې پروت و، د وره په خوله کې ولاړه وه. د مومن مور ورته وويل:

- څه شوې دي ؟

- غله پرده پورته کړه... چيغه مې کړه، وتښتيده

د مومن زړه دربيده، ليلا راغله چې مجاهد ته اوبه وروړي، مومن لکه چې ويده وي ژر ژر يې ساه اچوله .

ليلا ورو ترموز ته ودريده پياله يې ورډکه کړه. د هغې له وتلو سر مومن پاڅيده، غوږ يې ونيو، کراري وه.

سهار يې پلار څادر ترې لرې کړ:

- پاڅه چې ناوخته نه شې

د چاى پروخت مومن ته روزي خان وويل:

- زويه د پاچا د لور سوې کريغه شوه تا لکه تروې چې دې څکلي وي، داسې ډب ويده وې

- ولې ولې ؟

موريې ورته وويل:

-دغه ښه خبر دی

مومن هغې ته وکتل، وروځې يې کش کړې:

- په څه خبريم ؟

پلاريې کيسه ورته وکړه . مومن ډيره په موټ کې ونيوله، ويې ويل:

- پرون په کارداسې ستړې شوی وم که به مې د غله په راتګ اروا شکه شوې
وي
لیلا ورته وویل:
- ربښتیا دغله له تیښتې وروسته ما هلك ته اوبه رااخیستې داسې خرهاری دې نو
نه و.
د مومن مور روزي خان ته وویل «ګوره دلته هم دغه شیرین مړي شته هسې په
پرده کړه ترې باروه».
مومن د شنه چای پیاله یوغوړپ کړه. په وچه غاړه شو. پلار په ولیو کې وډباوه.
ده لاس ورته وخوځاوه، ولټیده. د پاچا د کور د وره پرده یې پورته کړه. د
فاطمې مور ټکری پر سر سم کړ، لکڼه یې له لاسه ولویده، مومن ورمنډه کړه
لکڼه یې بیرته ورکړه. ده دغلو پوښتنه په اشارې وکړه هغې وخندل، خپلو غوږو
ته یې ګوتې ونیولې، د کوټې خواته یې اشاره وکړه. دی کوټې ته ورننوت
فاطمې ورته ونه کتل. مومن ورته وویل:
- یوه ډیرمهمه خبره ده
فاطمې ورته وویل:
- پلارمې نه شته که هغه وای بیګا به ولې داسې کیدل .
ده خوله کږه کړه، ځان ته یې اشاره وکړه، نجلۍ یې پوه کړه چې دی و، هغې
وخندل. مومن د اوبو سطل ورسره واخیست په زینو کې یې شاشاته کتل چې
مور یې ورپسې نه وي. فاطمې ورته وویل:
- پرون مې تر ماښامه لارې ته کتل
مومن د میدان ښار کیسه په منډه منډه ورته تیره کړه، د بلاک په خوله کې یې
سطلونه ورته ونیول. فاطمې یې پر لاس ګوتې تیرې کړې
ده ورته وویل:
- بل ځل که راتلم وار له واره چیغه مه کوه
فاطمې کټ کټ وخندل. دی دفتر ته روان شو.

د ماسختن جمع لا نه وه دریدلې چې مومن راورسید، له جومات سره تم شو بیا یې فکر وکړ چې مخکې تردې چې د پلارېې ورپام شي ښه دی چې د فاطمې دوی کورته ورشي .
د پاچا دوی د کور له دننه غږ اوریدل کیده. غوږ یې ونیو خپله مور یې وه نو بیرته په زینو ښکته شو، په لمانځه ودرید، له جماعت وروسته د پاچا د کور د غله خبره ملا یاده کړه او لمانځه ته دو تنو راغلیو طالبانو خبرداری ورکړ که بیا دغسې کار وشو یا د چا څه ورک شول ټول کورونه به پلټي که یې مال د چا له کوره راوویوست شریعت به پرې جاري کیږي. د خلکو لور د لوره سره غږشو :
- از خود مهاجرین اس از بیرون واله ګه بابه کسې بیایه ...
- دستشه ببره باز ببینم که دوزي میکنه...
- پایشه هم قطع کنه
د لاس او پښې د پرې کیدو پر خبره د مومن غوني زیږه شول. خلکو لا پر غله تبصره کوله چې مومن له پلارسره له جوماته ووت.
د مومن سترګو ته د فاطمې د مور پرې کړې پښه ودریده، بیا د پاچا خبره ورپه زړه شوه چې ورته ویل یې « اصل ثواب به ستا وي چې ماینونه باسي او د خلکو د پښو او لاسونو د پرې کیدو مخه نیسې».
په کور کې مومن په جګو پښو کښیناست، څادر یې پر سر واچاوه، فکر یې کاوه چې نن شپه څه وکړي، فاطمې ته ورشي ..څرنګه ورشي ؟؟
مور ته یې پلار وویل:
- وا د سلطان مورې ته ورشه د پاچا دوی کورته ښځې دي سره ونه ډارې شي
- تر اوسه ورسره وم راته ویل یې چې نه ډاریږي
مومن ورته وویل:
- ادې څه یې کوې خپل خوب دې مه خرابوه
موربې تیکری په سر ورسم کړ:
- څه وکړم اوس یې دا دی بل غم خور راته پیدا شوی
میره یې لاس وخوځاوه:

- ورشه ورشه خير به موچا ته ونه رسيږي .
ښځه يې تر ژبې لاندې وزغونځيده او ولټيده.
مومن په خپل ځای کې اوږد غځيدلی و، اړخ په اړخ اوښته خوب نه ورته.
سهار د چای پر وخت يې پلار ورته وويل:
- زويه سترګې دې داسې سرې سرې دي ، خاورو خو به نه وي ژوبلې کړې دغه د ميدان وردک خوا د شګو باد لري؟
مومن سر وخوځاوه، څه يې ونه ويل. څادر يې ورواخيست او ووت. د پاچا د کور پرده يې لرېپورته کړه، څوک ښکاره نه شول نو پر زينو يې منډه کړه .
ماښام چې مومن له دفتره راغی په زينو کې يې لا د پاچا هسک غږ ترغوږو شو، تر ژبې لاندې يې وويل« اوف دغه بيا راورسيد».
روزي خان ته پاچا د غله کيسه کوله چې مومن پرده جګه کړه. پاچا ته چای اوګوره ايښې وو. مومن لا پرلتی نه وه وهلې چې پلار ورته وويل:
- زويه د سلطان جان خط راغلی
- اوهو چا راووړ ؟!
- بل به نو چا راووړ دغه پاچا صاحب دی، خدای دې يې ژوندی لري ال اولاد دې خدای له غمه وساتي .
مومن ليک ته کتل، له پاچا يې پوښتنه وکړه چې خط چا ورکړ؟
- « د سلطان يوملګری ايران نه راغلی و. تازه مو د ماښام فرض کړي و، چې غږ يې کړ، وروښو مه خوځئ » پاچا ګوړه خولې ته ونيوله « زه نژدې وتلی وم ما ويل په تبليغي واوښتم خو چې اواز يې وکړ، روزي خان څوک دی ؟ زړه مې کش شو ماوې الله ته خيرکړې» پاچا په ګوړې پسې د چای غوړپ وکړ « ما يې د زوی خط راوړی» چې داخبره يې وکړه غيږ مې ورته پرانيسته، بيا مې ورته وويلو، ما داسې وګڼه چې د دوی د کور سړی يم... »
په کوټه کې د حلوا بوی شو ، پاچا د تګ اجازه وغوښته د مومن مور دوره له شا ورغږ کړل :
- پاچا صاحب حلوا دا ده تياره ده مه ځه

- خیر یوسې د لمانځه وخت دی

د مومن مور له مومنه وغوښتل چې حلوا د جومات په خوله کې خیرات کړي.

روزي خان نه ورسره منله ویل یې سره چورکیږي ، دې نژدې کورو ته یې ورکړئ.

ترلمانځه مخکې یې حلوا وویشله ، په یوه بیشقاب کې یې د ملا لپاره بیله کړه هغه مومن ملا ته ترجماعت مخکې ونیوله. ملا صاحب چې له وظیفې سره زنګیده، اشاره یې ورته وکړه چې بیشقاب چړي ته وسپاري .

مومن چې له لمانځه راغی موریې ترې وغوښتل چې هاغه بلې کوټې ته پسې ورشي، هغې په پاستې کې نغښتې حلوا ور په خوله کړه او په څونی پورې غوټه کړی لیک یې وروسپاره « ته یې راته ووایه د پاچا دغې تیکې تیرې راته ووایو خدای خبر چې په خط پوهیږي که نه پوهیږي دا وایي له معلم جان محمد سره یې درس ویلی»

په خط کې یې لیکلي و، چې خدای دې وکړي چې تاسو ټول روغ رمټ یاست، زه په شیرازکې یم ، ښه یم ...که خیرو پیښور ته به درشم ...تراوسه چې مې احوال نه درتو بندي وم ..له مابیخي بیغمه اوسئ ...ادې جانې ته چورت مه وهه د سلطان دې خدای ساتندوی دی. که خیرو تر روژې مخکې به درورسیږم... »

د مور یې اوښکې پرمخ لیکه شوې، ترپلو لاندې یې لاسونه دعا ته جګ کړل، مومن خط سره ونغښت. د روزي خان ناره شوه، څه شوئ راشئ.

مومن پاځیده، موریې لیک ترتوشک لاندې کړ. روزي خان د تسبیح دانې تیرولې، ورته کتل یې بیا یې وویل:

- مومنه ته داسې وکړه چې دا تنخواه که دې وارله مخه نه درکوي هاغه بله دې پیشکي واخله...

ښځې یې وویل:

- سړې له خیره سره چې سلطان جان راشي په دې دوو کوټو کې خو نه سره ځایږو نو د کورغم کوه

- ښه وايي سرله سبا به که خير و پښې پسې لوڅې کړم
مومن ته د فاطمې خبره ورپه زړه شوه « پام کوه کله ونه کړې » پلار ته يې مخ ورواړاوه:
- ابا امنيت ډير مهم دی که خلک خبر شي زه په موسسه کې کار کوم، ډاريږم چې بيا د خوشال مينې ټوکه راونه شي.
پلار يې څه ونه ويل، مور يې د څراغ رڼا ته ورپو کړل.

مومن په کراچۍ پسې تللی و، مور يې له ليلا سره کالي ټولول، روزي خان د پاچا دوی کورته ورغی له کډې يې خبرکړ.
پاچا سروخوځاوه ، روزي خان ورته وويل:
- پاچا صاحب خيرخو بيا هم سره نژدې يوو؟
پاچا په نيولي غږ ورته وويل:
- هلته مو کډه په شا کړې دلته ماخبروئ.
روزي خان وخندل. د مومن مور يو پنډ کالي دهليزته راوايستل.
فاطمې چې اوبه خيژولې کاليو ته ودريده، سطل يې کيښود، شونډې يې بوڅې کړې، په کورننوته، پاچا ته يې وکتل د هغه سترګې ځای پرځای ګنډلې وې، ويې پوښت :
- څه خبره ده ؟
- دغه روزي چرت نه وايستم دومره ښه کوه کوه، اوس چې يې کډه تړلې، په وره کې راته ودريد وايي موږ ځو
فاطمې سترګې راوايستې:
- کډه کوي !!!
- هو
د فاطمې سطل له ديوال سره ولګيد، څرپ شو يوه لپه اوبه ترې توی شوې.
پاچا چپلکې په پښو کړې د وره په خوله کې له ځان سره وبنيده :
- که يې مخکې راته ويلي و څه به شوي و
فاطمې تکرې پرسرسم کړ د پلار له وتو سره راووته. روزي خان پر زينو ښکته شو. ميرمن يې په دهليز کې غوټې تړلې. فاطمې په ړدو ړدو سترګو ورته وويل:
- له خيره !!

د مومن مور د فاطمې راوتلو سترګوته وکتل، ورغبرګه يې کړه:
- له خيره زاتي ستا له دې ويتو وازو سترګو پناه کيږو
- ښه زما د سترګو نه چيرته ځې (؟)
- چې ستا په دې کږو سترګو نه زما سترګې ولګيږي نه مې د زوی
فاطمې په ژنه لاس تيرکړ:
- والله که خو خلاصه شي
د مومن مور دې خوا هاخوا وزنګيده :
- وی بوره وراره يې کړې
فاطمه د مومن د مور په ترلې غوټه کښيناسته. د مومن مور ورته وويل:
- پورته شه بې شرمې تاته وايم
فاطمې بد بد ورته وکتل :
- زه دې نازولي زوی ته انتظاريم چې څنګه ځي.
د مومن مور په کورننوته، په مځکه يې لاس واهه اوغوږو ته يې ورووړ. ليلا ورته حيران حيران کتل، دې څه نه ويل، توبې يې ايستلې.
په دهليز کې نارې شوې، مومن فاطمې ته په ټيټ غږ وويل:
- ګوره زه ستا خبره منم خو بې ابه کوه مې مه...
فاطمې داسې وخندل لکه پوزخند چې وهي، په لوړ غږ يې ورغوځه کړه:
- کور ته راتلې، هغه بې ابې نه وه اوس دې ته بې ابې وايې
مومن يې په خوله لاس ونيو هغې ټيله کړ. د مومن مور او وريندارې په وره کې غوږ نيولی و، موريې توبې ايستلې، ليلا دواړه لاسونه پر زړه ايښي و، په نيولې ساه يې دغه يوه پوښتنه تکراروله :
- ابا څه شو ؟ ابا څه شو ؟ ابا ....
مومن د فاطمې ژنې ته لاس وراوږد کړ هغې په غبرګو لاسونو پورې واهه، نژدې په شا لويدلی و خو روزي خان تکيه کړ. د روزي خان سترګې ژر ژر يوځل فاطمې ته وراوښتې بيا مومن ته. بيا يې پوښتنه وکړه:
- څه شوي؟

مومن سرښکته واچاوه .
فاطمه ژړغوني شوه. روزي خان خپل زوي ته وکتل:
- و حرموني څه شوي؟
ښځې يې پرده پورته کړه فاطمې ته يې اشاره وکړه :
- دغه دغه ....
روزي خان فاطمې ته په پټکه وويل:
- درتيريږه
هغې وخندل ، ټټرېي وواهه :
- ما ته وايي ؟!
- هو نو پلار ته مې وايم
- ورشه زوي ته دې ووايه
مومن پرې ورمنډه کړه لاس نيولې يې د پلار د کور په لورکش کړه. پاچا سانيولی پر زينو راوخوت. لور يې د وره په خوله کې په ژړا شوه، ده په کور ننويسته، د دوی غږ سره جګ شو، بيرته غلی شو.
روزي خان د جامو پر پڼډ نسوار تو کړل بيا يې پښه پرې کيښوده، خپلو چپلکو ته يې وکتل. پاچا راووت، روزي خان ته يې سترګه ووهله:
- ته به يوځل کور ته رانه شې
روزي خان سترګې ورپورته نه کړې. پاچا ورکړوپ شو په غوږ کې وروپسنيده. روزي خان ورسره ننوت.
پاچا لاندې باندې شونډې په خوله ننويستې وې، روزي خان سر ښکته اچولی و، پاچا غاړې لږ تازه کړې لکه چې غوښتل يې چې روزي خان ورته وګوري خو د هغه سترګې له ګيلمه پورته نه شوې. پاچا پوزه کش کړه، روزي خان بيا هم نه ورته کتل. پاچا وويل چې لور يې وړه ده نه پوهيده، بيا يې غاړې تازه کړې « هغه شپه چې زه په پاکستان کې وم او تاسو ويل، غل راغلی هغه مومن و، خو لور مې پرې چيغه کړې وه، شرلی يې و »
روزي خان ورته وکتل:

- پاچا دغه...دغه پښتونواله شوه
- زه وایم دا زما ښه دغه شو
روزي خان بیرته سترګې ښکته واچولې، پاچا ورو ورته وویل:
- صاحب زنانه غلې کړه، خلک مه خبروه، مخکې یې هم غړ تر لاندې پورې تلو، موږ پاچایان یوو، که طالبان خبرشي دواړه به بندي کړي څه به کوو»
پاچا ورمخته شو:
- ګوره! دوی ماشومان دي غلطي اوخطایي هرچا نه کیږي، موږ تاسو باید عقل نه کار واخلو
روزي خان سره ساه وایسته. پاچا سروګیراوه:
- خبره به همدلته ختمه کړو، هیڅ نه دې شوي خو زه مې لور چا ته نه شم ورکولی راشه په پټه خوله دې شریني واخله، شاوخوا داسې څوک سیال نه شته چې خبرشي یا موږ پسې خبرې وکړي او کم راشو.
روزي خان څه و نه ویل، لاندې یې وکتل. پاچا بیا ورته وویل:
- څنګه زما په خبره کې څه وایې؟
روزي خان مځکې ته کتل، پاچا د کړکی دباندې لاس ونیو:
- که دغه تورپټکي راخبرشي درته ومې ویلو، بې ابې یې یو ، زما لور به په بلا تللې وي بل، ستا زوی خو ګومان مې نه شي چې سنګسار نه شي او که زما یا ستا بچی ژوندی پاتې هم شي ترهغه ژوند یې مرګ ښه دی، دغسې نه ده ؟
روزي خان بیا هم غلی و، پاچا لاړې تیرې کړې :
- راځه خبره په پټه سره خلاصه کړو، ستا پرده زما پرده ده او زما ستا ده
روزي خان شونډه په غاښ کړه. پاچا ورته وویل:
- غواړې چې دا ځوان زوی دې سنګسار شي مه کوه د زنانه و په خبرو پسې مه ګرځه امین کړه
روزي خان یوه کپه نسوار خولې ته کړل، پر ږیره یې لاس تیر کړل لکه خوله چې یې په لاس بنده کړې وي .
پاچا پاڅید یو پاکټ هراتي شیریني یې په پټه خوله ورته کیښوده .

روزي خان غلی د شريني له پاکټ سره راووت، پاکټ يې د سره تهولو کړيو کاليو پرسر واچاوه. ميرمني يې ورته وکتل، سونګټ يې شو، بيا وريړديده. نږور يې ګولی د دې تر ژبې لاندې کيښوده

روزي خان پوښتنه وکړه :

- د بدې رنګه لوښی څه شو ؟

ليلا ځواب ورکړ :

- دباندې ووت.

روزي خان دواړه لاسونه په سرکيښودل، ليلا ژړل، ده څادر په اوږه کړ په خوله يې خپله ګوته کيښوده :

- غږ دې ټيټ کړه هاغه د مور ميړونه مه راباندې خبروه .

دباندې دوړې باديدې. خاورو خلي په سر اخيستي و. د سفارت له دروازې سره پيره دار طالب مول وهلی و. روزي خان د حبيبي تر ليسې ولاړ بيا د لارې هغه بلې خواته واوښت تر يوه ځايه چې ولاړ د امربالمعروف موټر په لاوډسپيکر کې د لمانځه اعلان وکړ. روزي خان له اعلان سره کور ته وګرځيد. د پاچا د کورله وره سره چې تيريده د فاطمې ژړا وه. ليلا کالي کوټې ته ننويستل. هغې ده ته توشک واچاوه، بالښت يې پرې کيښود. روزي خان ډډه ووهله، څادر يې په مخ ورکش کړ، لمانځه ته نه ولاړ . يو وخت چې يې مخ لوڅ کړ تياره شوې وه، ښځه يې وپوښتله :

- هغه حرموني لا نه دی راغلی، خدای دې وار دغه کړي چې ترې خلاص شو

ښځې يې په نيولو غاړو ورته وويل:

- لړجادوګان خو يې پرې ونه کړل، دغسې چې يې اته نورې ودولې خو په دغو غوريزمړيو يې د خلکو سترګې پټې کړې دي کنه دا کړې وړې خدای که چا خوشې په دو بنو کړې وی.

د ماسختن اذان شو، ليلا خسرته وويل:

- ډوډی تياره ده له لمانځه وروسته يې وباسم؟

- نه دځه شي لمونځ دی تګي برګي ده ، مسلماني چیرې ده دسترخوان رااخله که دې نه وي ترلی .

چې لیلا پورته شوه مجاهد وژړل ، روزي خان کلکه څپیړه ورکړه دهغه بده بغاره شوه، انا په غیږ کې ونیو، نیکه یې وویل:

- مه یې نازوه چې له دغه به لاځه بلا جوړه شي.

روزي خان ورسۍ ته ودرید، د ورستو غوښو بوی ته، د شپې په تیاره کې له لرې غر تور او لوړ ښکاریده ، ده لاس پر دیوال ونیو چې له کړکۍ سروباسي، اخ يې کړل، ښځې يې وویل:

- خیر دی؟!

روزي خان رغوې ته وکتل ،ګوتې يې وروړې ، لمدې شوې :

- په ورسۍ لکه چې د پلاستیک میخونه لاپاتې دي لاس مې لړ ویني شو

- لړ نسوار پرې وتپه

روزي خان نسوار له کړکۍ لاندې تو کړل:

- د سلطان مورې ته هم ویښه يې ویده شه سودا مه کوه

- له زړه مې نه وځي، هوا سړه ده شپه به يې چیرې کړې وي

- سودا مه کوه کاشکې يې لورې دغه شي، په موسسې کې ډیر پیژني یوه ته به ورغلې وي

د میرمنې يې ستمی شو، په اړخ واوښته. له لاندې منزله د نوي زیږیدلي ماشوم ژړا راتله چې کله به غلی شو او کله به يې بیا غږ لوړ شو. روزي خان سروخوځاوه ترژبې لاندې يې څه وویل، سر يې تربالښت لاندې کړ چې سترګې يې رڼې کړې. رڼا وه. میرمن يې پر پوړنې لمانځه ته نیت تړلی و. قضایي لمونځ يې کاوه. چې هغې سلام وګرځاوه، دعا ته يې لاسونه جګ کړل. روزي خان په خپل ځای کې کښیناست. سړه ساه يې وایسته. ښځې يې ورته وویل:

- نن زه هم په اذان نه یم راویښه شوې

- زه راویښ شوم خو بیرته مې سترګې سره ولاړې

- له کله ي سره به څه کوو؟

روزخان نسوار خولې ته کړل. خپلې نږور ته يې وکتل:

-کوم شیان چې دې له غوټو راایستلي هغه بیرته سره غونډ کړه زه کراچۍ راوړم

لیلا پاڅیده، د خوابښې یې لاهم شونډې له وظیفې سره ښوریدې چې لمانځه ته هوار کړی ټیکری یې له مځکې راغونډ کړ، د لیلا لور ته یې وروواچاوه:

- دا هم چیرته درسره تخته کړه.

مجاهد پر کوټه کړیو جامو وخوت، لاندې یې راټوپ کړل. انا یې وئ کړل، هلک بیا پورته شو، لاندې یې ټوپ واچاوه، انا یې ورغله، غوږ یې ورتاو کړ:

- لاس پښنه به دې مات شي

هلک په ژړا پر لیلا غیږ وګرځوله، هغې خپل کمیس ترې کش کړ، هلک پړ مخ پریوت. انا د ځان لور ته ورکش کړ، ده رینګه کړې وه، نه ورته.

روزي خان په وره کې ودرید. پر جامو یې نظر تیر کړ. ورټیټ شو یو بکس یې په غیږ کې واخیست. لیلا پوړنی پر سر سم کړ، د جامو یوه لویه غوټه یې ورسره وایسته. مجاهد هم ورمنډه کړه یوه کڅوړه یې ورواخیسته.

د بلاک مخې ته کراچیوان د جامو پر سر پړی تیر کړ، له بلې خوا یې کلک ول ورواچاوه. روزي خان پر جامو لاس تیر کړ. کراچیوان ورته وویل:

- بیغم باش ایتو بسته نه کدم نه میفته

روزي خان د کراچۍ بل لورې ته تیر شو. کراچیوان کراچۍ ورپسې کش کړه، ستما یې شوه. ده ته یې وویل:

- از شمالي.... استي؟

-نې

- به خانه ای کرایي میري

- آ

- چند است کرایش؟

روزي خان څه ونه ویل. کراچیوان ورته وویل:

- برار بسیار زنګت کره

روزي خان خپل څټ وګیراوه هغه بیا هم هڅه وکړه چې دی راوغږوي خو دی غلی و. شاه دوشمشیره زیارت ته نژدې چې ریړه په لوړه ختله کراچیوان له

روزي خانه په خندا ګیله وکړه چې ګپ نه لګوي نو په دې لوړه خو لاس راسره وکړه . هغه په پټه خوله کراچۍ له شا پسې ټیله کړه.

د روزي خان دوی کور په اپارتمان کې و، د دوی دغه د دریو کوټو اپارتمان د یوه زاړه کور د دروازې د خولې کوټې وې چې لاره یې د کور له وره وربیله شوې وه.

د اپارتمان په خوله کې د کناراب بوی ته، لیلا چې څرنګه په کوټو ورننوته لاړې یې تو کړې، خوابښې یې بد بد ورته وکتل. خسر یې توبه وایسته.

د اپارتمان له کړکۍ د غره په ډډ کې پورته نور کورونه ښکاریدل چې د جګړو له امله د ځینو بامونه لویدلي وو، د ځینو دیوالونه تک تور ایسیدل او یو نیم سلامت کور به لکه د روزي خان شب بیني تسبیح ځلیده.

خوابښې یې د چادري له لاندې د میوند عکس راوایست، هغه یې د کوټې د دروازې پر سر پر یوه میخ بند کړ. روزي خان بسترې ته ډډه ووهله. خوابښې یې په ناستو ګیلم ویړ کړ. لیلا نور شیان سره ځای پرځای کړل.

ماښام د لمپې رڼا ته د روزي خان د تسپو تیرولو ټک ټک سکوت ماتاوه. لیلا ورولټیده له کړکۍ یې وکتل، په یوه نیم کور کې بریښنا وه .

روزي خان دواړه سترګې د لمپې رڼا ته نیولې وې، میرمنې یې د خوب وړې لمسي سر له خپله زنګانه پر توشک ولګاوه، راپاڅیده د لمپې جګه شوې پیلته یې ورټیټه کړه، روزي خان ته یې وویل:

- سړې ! دی خو نه شو راښکاره

- بلا دې د بلا په مخه شي خو که رانه شي د دې کورکرایه به څرنګه پرې کوو؟

- ته ګهیځ په دغه جادوګر یوحال واخله، اوس به یې له مالګې خبرکړی وي چیغل بازي ته به ورځي

روزي خان خپل تندی پر دوو ګوتو ټینګ کړ:

- زه دغه دی د پاچا په فکر وم که مومن ...اوف د مومن د نامه بلا دې پرې وګرځي دغه حرمونی دربښیم...

میرمنې یې خبره ورغوڅه کړه :

- سړې حوصله کوه، له انسانه په ژوند کې خطايي کيږي ربښتيا که د مومن معاش رانه شي هغه د سلطان جان حال به له پيښوره څرنګه معلوموو.
د سلطان د نوم له اوريدو سره ليلا يودم مخ راواړاوه. روزي خان وټوخيده، په ټوخي ټوخي کې يې وويل:
- چې دا يووار مو پوزه پرې شوه په دې به مو بيا نه پرې کيږي چې د پاچا په کور سبا ته حال واخلم، سمه خبره کوې
ميرمنې يې د ده خبره تاييد کړه :
- هو هو ولې به پرې کيږي، پرې خو به هلته وي چې دی هم نه وي او کږسترګې يې هم درته کښنولې وي .ګوره سړې که مومن هلته و بې حوصلې نه شې، څه ورته ونه وايې، دا څو کاله د سلطان جان ورکې، ورځ راباندې شپه کړې.
روزي خان څادر پر سر کش کړ سترګې يې پټې کړې، ليلا ووته ، خوابښې يې ورو وويل:
- سړې لکه چې په خبره دې سر خلاص نه شو د پاچا کړې به سبا ته ډهل نس نيولی وي بيا پکه دا دې لا بله سپکه چې مومن هم ځان پټ کړی وي او دا درته ناسته وي
د روزي خان له سړې ساه سره څادر لکه پوپک چې پوفوې پورته شو« زما هم همدې ته سودا ده يوه خو د هغه پدرلعنت نه ده چې چې چې ..دغه غم ته مې هم وار پارخطا دی»
- ته دې خپل زړه مه ورته خوره، د کودګر په کور کې يې سبا وګوره زاتي خپله کار لري چې دغسې غول يې خوړل خپله دې پاکوي، يوه نکاح ده ور وبه يې تړي.
روزي خان تسبيح ښکل کړې، پر سترګو يې وموښلې، اړخ ته يې کيښودې.
د الله اکبر له لوړ غږ سره مجاهد چيغه کړه، ټول په ځايونو کې کښيناستل. روزي خان چټ ته وکتل، تور ښکاريده. د کړکی خوا لږ رڼه وه. څادر يې له پښو لرې کړ، اودس ته کښيناست.

میرمنې یې پر مجاهد چوف وکړ. هغه خوب وړی و. د دروازې کړغ شو. ښځه اوچته پاڅیده. لیلا ورته وویل:

-ابا جومات ته ولاړ

تر لمانځه وروسته روزي خان تر هغو تسبیح تیرولې چې د شاه دوشمشیره جومات له کړکۍ رالویدلې رڼا ته د لګیدلو څراغونو رڼا کمه شوه. دی د جومات مخې ته کوترو ته ودرید. څادر یې وښویده، هغه یې پر اوږه واړاوه، پر شو کوترې والوتې. دی هم د دهمزنګ لور ته روان شو.

د پخواني شوروي اتحاد د سفارت ودانۍ ته چې ورننوت طالب پرې غږ کړ:

- چیرې؟

ده زړه ته لاس ونیو. طالب ته یې شونډې ویرې کړې، پرې تیر شو. د اوبو له بمبې سره ودرید، مخ ته یې اوبه وروا چولې. بیا ورو ورو پر زینو وخوت. د پاچا دوی د کور مخې ته یې دیوال پرڅپیره وواهه. پاچا غیږ ورته پرانیسته، ده سست لاسونه ترې کړۍ کړل . پاچا د نوي کورپوښتنه ترې وکړه چې څرنګه دی ؟

- بد نه دی

- صاحبه ګاونډیان مو څوک دي؟ بدو سره دچا شپه نه تیریږي

- نه یې پیژنو

- امنیت موځنګه دی؟ دیوالونه خو مو ټیټ نه دي ؟

- اپارتمان کې یوو.

پاچا د چای پیاله روزي خان ته ډکه کړه ، ده د مومن پوښتنه ترې وکړه، هغه ځواب ورکړ « زه وایم زما له باجه، رییس صاحب سره به په کمپنۍ کې وي بیغمه اوسه» پاچا غاړې تازه کړې، یوه سترګه یې پټه کړه «هلک دی لږه ګذاره ورسره کوه، نن سبا پخواني وختونه نه دي چې....»

روزي خان په خوله کې ورولوید :

- پخوانی حیا له کومه شي..

- زه به مومن ته خبر ورکړم چې کور ته درشي، ځان مه پرې پوهوه ، خدای شته یوځل مې نژدې د شیطان منلې وه خو پریږده اې نو...

- کله به یې راولې ؟
- سبا که وشو جمعه ده ، نن به په کار کې وي
د تګ په وخت پاچا ورو روزي خان ته وویل:
- ځان لږ تکړه ونیسه دا شاوخوا خلك لږ شکي شوي هسې نه څوك شیطاني وکړي په داسې جنجال به خدای ناخواسته واوړو چې توبه توبه
روزي خان ژر ژر پر زینو ښکته شو. د دروازې په خوله کې یې د پیره دار طالب اوږه وخوځوله:
- څرنګه یې طالب ګله؟
- د الله تعالی احسان دی
- تاسې دې خدای زموږ له سره نه کموي
طالب پر خپلې اوږې راځوړند کلاشینکوف سم کړ. ویې خندل. روزي خان په دواړو لاسونو خدای پاماني ورسره وکړه.
د جمعې ترلمانځه پورې روزي خان دوی سترګه په لاره وو خو مومن راښکاره نه شو. له لمانځه وروسته میرمنې ورته وویل:
- سړې کور یې نه وي غلط کړی یوځل خپله بیا نه پسې ورځې ؟
- هغه وړاندیني خو لیدلی پاچا ته هم کور معلوم دی هغه دلته کوڅه په کوڅه بلد دی مالا ادرس نه و ورکړی، چې ده یې دغه د کور د مخې د ونې نښه راکړه دا یې هم راته وویل چې زموږ په دغو ګاونډیانو کې یې د یوه کډه له پاکستانه راتیره کړې ده
- هلك به شرم اخیستی وي نه به ورسره راځي
- که نه راځي مخ دې د بلا په مخه شي نور یې نه شم دنګولای
لیلا ورته وویل:
- ابا خیر دی لږ حوصله ښه وي، د خلکو اولادونه څه څه نه کوي، خلك وژني بخښي یې
- چپ شه ته اوس ماته عقل مه رازده کوه
میرمنې یې خپلې نږور ته لاس ونیو:

- سرې ليلا ښه وايي، په ده كه څه شوي وي كوډو به كړې وي.

روزي خان لاحول كړل، څادريې په اوږه واچاوه، ووت. د كوڅې ترسره ولاړ، سترګې يې وغړولې. د شاه دوشمشيره د زيارت له كوترو سره ودريد، يوې سپينې كوترې ته يې كتل، كتل هغې پر مځكه مښوكه وهله څه يې خوړل. يو دم چتېك شو د پاچا دوی كورته ورغی، له هغه يې د مومن پوښتنه وكړه:

پاچا نسوارخولې ته كړل :

- ما حال وركړی و، ما ويل اوس به تاسو سره وي

روزي خان شونډه ترغاښ لاندې كړه په زنګنو يې لاس تكيه كړ چې ولټيږي، پاچا ورته وويل « څه كوې چای تياردی والله كه لاړ شې».

روزي خان نسوار راوايستل، د شنونسوارو پلاستكي كڅوړې ته يې وكتل ، پاچا د تورو نسوارو كڅوړه مخته ورته كېښوده :

- دا د پېښور دي، پرون پل محمود خان ته تللی وم ما ويل كه كومه كډه پيداشوه، يو څوك تازه پيښورنه راغلی و دا نسوار يې راته ونيول، پاچا لږ مسكی شو « ما ورته وويل، په چونډی مونډی كار نه كيږي، دا زما شو»

روزي خان نسوار ترشونډې لاندې كړل، په ږيره كې يې د لاس ګوتې تيرې كړې، خپلې ږيرې ته ځير شو، يو تور تار يې په ګوتو كې ومروړه راومروړه. پاچا ترموز په لاس له چای سره كوټې ته راننوت، چې پيالې يې ډكولې له روزي خانه يې د سلطان پوښتنه وكړه .

هغه د چايو غوړپ وكړ:

- د ښو دې خدای په لورې شي، بيا يې حال چا راووړ

- زه وايم مومن پسې وليږه هسې نه چې سلطان راغلی وي او بې خبره بيرته ايران ته تللی وي

- يووارخو دغه پيدا شي، زما هم ورته سودا ده چې څرنګه پيښور ته پسې ولاړ شو

- هغه د رييس صاحب له كوره به دفتر تللی وي كه هلته و سبا به خپله ورځم له هغه سره به يې كور ته درولېږم

روزي خان څادر څنډواهه، راپاڅېده تر ژبې لاندې يې وويل:
«مرگ دې ميلمه شي»
پاچا ورنژدې شو، گوته يې پر شوندو کېښوده:
- دغه تيره خبره بيا ياده نه کړې ما در ته وويلو که تور پټکي خبر شو خدای مه کړه زوی به دې سنگسار شي او لور به مې هم، عزت او ابرو خو نو...
روزي خان ټوخي واخيست، پاچا د ولېو ترمنځ ورو ورو وډباوه. پاچا لاس ورته ونيو او ورته ويې ويل:
- سبا ته دې هير نه شي
روزي خان د سفارت د دروازې په خوله کې طالب ته سلام واچاوه، هغه له بل چا سره په خبرو و ده ته يې لکه چې پام نه شو، خو چې څو گامه روزي خان تير شو، له شا طالب په لوړ غږ پسې وويل:
- وعليکم والسلام
روزي خان په خندا لاس ورته وخوځاوه. په سړک کې موټر ته ودريد، چې بس راښکاره شو، جيب ته يې لاس کړل د کلدارو سلگون ورسره و. سريې ښکته واچاوه، د بس په دوړو کې پټ شو، څادر يې خولې ته ونيو، کور ته پلی روان شو.
د کور دروازه چې يې ډبوله، ليلا او ميرمن يې دواړه ورته راغلې. ده د پاچا خبره ورته وکړه چې سبا مومن راولي.
ماسختن دوی غلي ناست و. د لمپې شيشه لوگي توره کړې وه، رڼا يې داسې تته وه لکه شمه چې لگيدلې وي. د مجاهد خرهاری شو، انا په اړخ کړ. ليلا وررولټيده چې هلک سره سم کړي، روزي خان لمپې ته ورپو کړل. تپه تياره شوه.
سپيده چاود مهال د روزي خان ټک ټک تر غوږ شو. ورو پاڅيده وره ته يې وکتل، څه شی يې ونه ليدل، کړکی يې پرانيسته، غږی يې ورواېسته، د ونې ريږيدلې پاڼې شمال په مخه کړې وې. باد سوړ لگيده. کړکی يې بنده کړه. د اذان ناره شوه، اوداسه ته ورتير شو.

تر لمانځه وروسته چې ليلا د چای لوښي سره ټولول، خواښې يې وويل:
- دا ورځې غوريځ مړې څومره اوږدې دي
روزي خان خپل زنګنونه ټينګ کړل:
- انتظار يوو، څکه
- خدای دې وکړي چې نن راشي
- پاچا ويل چې نن يې خامخا راولي
- که رانه شي
ليلا ورو وويل:
- خدای مهربانه دی

خواښې يې مجاهد ځان ته ورنژدې کړ. روزي خان غوږ د کړکۍ لور ته ونيو. ښځې يې اشاره ورته وکړه چې څه خبره ده. ده ورته وويل:
- څه نه شته.

د ماښام د لمانځه په وخت د دروازې د زنځير ګړنجا شوه. د مومن مور د وره له شا پوښتنه وکړه:
- څوک يې؟
- زه يم
- څوک؟ غږ دې نه اورم
- مومن

مور يې زنځير بيرته کړ، شا يې ورواړوله، پر زينو وخته. مومن له شا ورپسې چټک شو د مور د کميس لمن يې راکاږله. هغې ورته وويل:
- چې واده ته دې زړه کيده ماته به دې ويلي و، د دغې ويتې وازې په ځای به مې د ګوتې غمی درته پيدا کړی و

مومن په خوله لاس کيښود په پوړيدلي غږ يې وويل:
- سوکه سوکه ابا يې وانه وري

- « سپین ږیری پلار دې ټول عمر جګ سر ګرځیده، جومات ته تللی دی، اوس که یې ستا له لاسه له پوزې ونیسې ساه یې خیژي» موریې له سره ښویدلی ټیکری ورسم کړ:

- ښه چې په دغې کږ سترګې چارموښکی میینیدې خو راته ویلې به دې و درته کړې به مې وه او..

مومن په خوله کې ورولوید:

- ادې وا ادې ماته وار راکه په یوه ساه لکه زړه ژرنده ګډه یې، والله بالله ثم تالله هیڅ نه دې کړي .

موریې یولاس پر خپلې پوزې کیښود په بل یې د سترګو اوښکې پاکې کړې:

- دغه دې پرې شه لکه چې راپرې دې کړه، ولې دغسې وایې، ولې مخامخ په سترګو راننوځې

- وا ادې.. وا ادې خلک به هرڅه وایي دغسې مه کوه

- د پلار له نامه جارشې خو مجبوره یم چې دغه کږه ژر راواده کړم کنه له کوچني سره خو یې یو ځای په پاریال نه شم کښینولی په هغه به مې ګوښې پوزه پرې وي

مومن مخ واړاوه، اووف یې کړل، ولټید چې ووځي، مور یې مخې ته ودریده :

- څه کوې؟

- ځم، تاسې زما په خبره باور نه کوئ

- په تګ دې هم پوزه راپرې کوې ؟!ګام به نه اخلې د سپین ږیري پلار ازار به دې نور نه وړې .

مومن د مور لاس ټیله کړ، لیلا د مومن مخې ته ودریده. مجاهد رامنډې کړې غیږ یې پرې وګرځوله. د وره کړپ شو موریې ژر ژر پر پوړني خپلې اوښکې پاکې کړې. د روزي خان له راننوتو سره کراره کراري شوه، هغه مومن ته بد بد وکتل، ترې تیرشو. بیا یې وویل:

- د کورصاحب په جومات کې راته ویل که د کور کرایه راکړئ ښه به شي په کور کې مریض لرو

ښځې یې مومن ته ځیره شوه :

- معاش دې لا نه دی اخیستی ؟

مومن سرښکته واچاوه، ورو یې وویل:

- اخیستی مې دی سبا به یې راوړم

مجاهد د مومن په غیږ کې کښیناست، لیلا دسترخوان هواراوه، روزي خان تسبیح تیرولې، په کوټه کې د شکنې بوی ته، د کوټې د ورسی ایینې شمال ته ښوریدې. ورو ورو یې کړپ کړوپ کاوه.

لیلا د مومن له مخې وچه سره ډوډۍ لرې کړه خپله توده یې ورته کیښوده هغه غوښتل چې بیرته یې ورسره بدله کړي خو لیلا ډوډۍ ورټیله کړه. د مجاهد له غوښتنو پرته خبرې نه کیدې یوځل تړی و، بل ځل یې ویل چې د تره څنګ ته کښیني، بل وار یې نوره ډوډۍ غوښته او د خوب په وخت یې رینګه وکړه چې له تره سره په بله کوټه کې ویدیږي.

د مومن په ذهن کې د مورخبرې ګرځیدې راګرځیدې «...ویته وازه .... کړه ... »

زړه یې په تنګ شو، خوب یې هم په سر شو، ترډیرو ویښ و یووخت د مجاهد په غږ راویښ شو «کاکا کاکا چای وخوره»

مومن سترګې رڼې کړې، رڼا وه، لمر تر ورسی رالویدلی و، پاڅیده لاس و مخ ته یې اوبه واچولې او خپل ځای ته ورغی . مجاهد بیا پسې راغی له شایې لیلا وه ورته وې ویل:

- چای سوړو نګوړ شو راځه ابا وتلی.

د مومن مور خپلو سپخیدلو کالیو ته ستن نیولې وه، دی چای ته کښیناست. ډوډۍ یې په موټ کې ونیوله، په بل لاس کې یې پیاله نیولې وه. له ډوډۍ په ډکه خوله یې وویل:« دفتر ناوخته شو».

ماښام قضا دروازه وټکیده، روزي خان ورووت ، مومن سلام واچاوه ، ده شا وروګرځوله پر زینو وخوت ، مومن د وره په درشل کې ودرید، پلار یې د زینو نیمایي ته رسیدلی و، شا ته یې وروکتل، مومن هم پسې ورجګ شو .

مومن خپلې کوټې ته ننوت د ډوډۍ په وخت لیلا ورروغوښت ، مجاهد د مومن څنګ ته ناست و نن بیا دهغه له خبرو پرته چا څه نه ویل. له ډوډۍ وروسته مومن په پټه خوله د پلار مخې ته د افغانیو څو بنډله کېښودل .
هغه پیسو ته وکتل د لس زریزو افغانیو یو بنډل یې پورته کړ ترې لاندې د پنځه زریزو بنډل و، بیرته یې پیسې کېښودې، نسوارېې خولې ته کړل.
میرمنې یې ورته وویل:
- دغه به یې د معاش پیسې درته راوړي وي
مومن ورو هو کړل.
مورېې خپل میړه ته وکتل:
- هغه کرایه اول پرې کړه چې له کوره مو ونه باسي
روزي خان پیسې خپلې ښځې ته ورټیله کړې. هغې په پلو کې ورسره جګې کړې.
سهار د چای په وخت مومن ګوره په ډوډۍ کې ونیوله، پیالې ته یې وکتل او پرته له دې چې څوک مخاطب کړي ویې ویل:
- د دفتر څوکسه پېښور ته ځي زه وایم زه به هم ورسره ولاړ شم که مې دلالا احوال راغلی و
مور یې سر وخوځاوه ورو یې وویل:
- سمه ده
لیلا د مجاهد پر سر لاس تیر کړ.

د پیښور په بوره کې ګڼه ګوڼه وه، ناري وې « لسو نه اته شو لسو نه اته ...د کابل دي د کابل دي ورې به یې ورې به یې، خواږه نه و راوړې به یې راوړې به یې ...لسو نه اته...» د موټرو په هارنونو کې به د ریړه والو غږونه سره ورک شول، بیا به راهسک شول « درزن په اتو په اتو په اتو په اتو ...».

د خوسا شویو میوو او سبزیو تورږم لټیده چې په پلې لاره کې دلته هلته سره کوټه شوي وو، د یوه نیم افغان رستورانت مخې ته چې به مومن تیریده د کباب بوی به یې سپړمې وتخنولې خو د دوکان له منځه د سندرو غږ به یې په غوږو کې نا اشنا انګازه کوله ځکه چې په کابل کې یې دا ډیره موده بهر موسیقي نه وه اوریدلې.

پر یوه دوکان لوحه ځوړنده وه ( جهانګیر اینډ سنز سقاوه اینډ هیرډرسر ) د فاطمې خبره یې په زړه وګرځیده « په اوله کې چې مو کور راغی وړه ډیره دې داسې ښه ښکاریده» له دوکانه تیرشو ، بیرته وروګرځید ، په دوکان کې لکه د زا د اوبو سوړ بوی ته . نایي په اوږدې چوبې څوکۍ یوه پښه ورټوله کړې بله غزولې وه. د ده له ورننوتو سره راپورته شو، د چای پیته پیاله یې په سر واړوله. د ایینې مخې ته ایښې څوکۍ یې ورکش کړه چې مومن پرې کښیني. مومن له کښیناستو سره په ډیره ګوتې ووهلې، ډیره اوږده وربښکاره شوه.

سلمان څادر د مومن په غاړه کې بند کړ، د ده ویښته یې په ګوتو کې ونیول :

- صوفي صیب څومره شي ؟

- یوځه یې رالنډ کړه

سلمان د ده په ویښتو اوبه وشیندلې ، مومن په هنداره کې خپلې ډیرې ته کتل، لاس یې پرې تیر کړ، په ویښتو یې لاس وتپاوه :

- ماشین یې کړه

- ښه جي
د ماشين کړساری و. چې کله به سلمان له ماشينه ګوته لرې کړه، په چت کې د راځوړند پکې ټک ټک به شو چې ورو ورو ځرخيده. د يوه سړي له سلام سره مومن ايينې ته ځيرشو، په پټه خوله سلمان قطيفه ورته ونيوله هغه په تشناب ننوت ، شاته د دريو نورو تشنابونو وروونه پرانيستې وو . سلمان د مومن له څوکۍ تاويده راتاويده مومن دا چورت واهه چې ږيره به لږ وړه کړي، په کابل کې به يو دوه شپې د فاطمې دوی په کور کې نامزاد بازي وکړي بيا به خپل کورته په کراره ورځي... ..سلمان د ده له غوږ سره په هوا کې ماشين وکړساوه:
- وشو کابل جان، نور؟
مومن خپل ماشين سر ته وکتل، په لنډو ويښتو کې يې ږيره نوره ببره ورته ښکاره شوه، غبرګ لاسونه يې پرې تيرکړل :
- داهم لږه کمه کړه
سلمان بياتي ورواخيسته د ږيرې اوږده تارونه يې داسې په احتياط ورياتي کړل لکه په نوسې چې يې اخلې :
- ټيک شو ؟
مومن ژنه په موټ کې ونيوله:
- لږه نوره.
سلمان ږيره په ږمنځ کې ونيوله، بياتي يې ورته سيخه کړه.
مومن پيسې ورته کيښودې. پر ماشين کړي سر يې ګوتې تيرې کړې، نيغ ويښته يې پر ګوتو ځيره ولګيدل، سر يې ټيټ کړ ټيکونو ته يې وکتل، ږيره يې له اړخه کوچنۍ ورته ښکاره شوه، ږيره يې په ګوتو کې ومروړله، ژنه يې لنډه ورمعلومه شوه، د کابل تګ ته انديښمن شو خوځان ته يې ډاډ ورکړ چې لومړی ځل چې له کله سره کابل ته روان و کله چا په دې ګناه ونيو چې ږيره يې کمه ده چې داځل به يې نيسي، له ځان سره يې داخبره وکړه چې طالبانو ته به ووايي چې دا يې اول وار دی چې وطن ته راځي.

په همدې چرتونو کې پیاده پیاده د کچه ګړی خواته روان و. د خپل پخواني کور کوڅه تنګه ورته ښکاره شوه ، د کور د دیواله له وره یې په ویاله کې د غوړو لوښو اوبه لیکې راماتې وې. د پاچا دوی وره ته یې وکتل د هغوی له وره ورتیر شو، په شاتنۍ کوڅه کې د پاچا د ترورزي معلم جان محمد کورته ودرید. شاوخوا یې سترګې وغړولې چې یوه ډبره راواخلي. په خاورو کې د یوه بنګړي تیګړی پروت و، راپورته یې کړ: « د دې بنګړي خوښیږي » لاس یې په خاوره سپیره شو، د بنګړي ماته ټوټه یې د پاچا دوی د کور لور ته واچوله، هغه لنډه ولوید. خپر یې دروازې ته ونیو.

د پاچا ترورزي جان محمد مومن ته غیږ پرانیسته، بیرته یې ځان ترې لرې کړ ورته ځیرشو :

- څه کوې، په دغه لنډه ږیره په کابل کې اوسیدې ؟!

- اوس مې دستي کمه کړه .

جان محمد په خپله مونډۍ ږیره لاس تیرکړ:

- « دغه یې په څه غضب اخته کړي یوو په خدای که د تاسي حال اخیستلی شو غم شادي هرڅه رانه پاتې دي » جان محمد د وره شاته پرده لږ جګه کړه، په جګ غږ یې وویل: « مومن راغلی»

جان محمد مخته مومن له شا کوټې ته ننوتل. د کوټې بر سر یو غټ ټیپ ایښی و، پر سر یې خامک دستمال غوړیدلی و. جان محمد، مومن ته وویل:

ـ دغه ټیپ مې له کراچۍ راوړی

- له کوم ځایه؟

- له کراچۍ، شپږ میاشتې مې هلته کار وکړ ښه مزدوري لري خو په ژبه نه سره پوهیږو، که پولیس دربانډې برابر شو څه چې دې په کال کې ګټلي وي هغه له تاوړي

- پولیس خو که پوه شي چې د افغانستان یې دلته هم پیسې اخلي

- هغه د سند او پنجاب خواته بیا پولیس ډیر سخت دي خو اوس مې بیا نیت کړی دی چې کراچۍ ته یو چکر ورشم کنه بې کاره بې پردې کېږو پخوا ښه و هغه راشن خو وو او د معلمي به هم لږ څه تنخوا کیده
- استاده اوس درس نه ورکوئ
- دغه د کچه ګړۍ مکتب بند شو په وطن کې هم د درس هغه حال دی دا نوی نسل مو تباه دی

مومن د چای پیالې ته کتل، جان محمد په خندا ورته وویل:

- وراره ! څه دعاشقانو چورتو پسې اخیستی یې ؟
- بله ورځ به کابل ته ځم د دغه ډم دې خدای کور خراب نه کړي ، دا بېیره یې ډیره رالنډه کړې
- خط به درته واخلم په کونسلګرۍ کې مې یو پخوانی شاګرد شته، پاچا صاحب هم پیژني ترکابله یې خط چلیږي په کابل کې بیا خپل غم کوه
- اوهو خیر یوسې، خو یو نیم داسې بدمذهبه وي چې خط مط نه مني
- ګوره سهار وختي له دې بورډه پاکستاني کاسټر موټر سیده کابل ته ځي دا موټر نه په تورخم تلاشي کیږي نه یې طالبان په لاره ګوري پوسته وړي راوړي، که څوک له جنازې سره هم ځي او بېیره یې وړه وي دغو موټره ته ځان برابروي، خو بیا هم خلک وایی په کابل کې امربالمعروف ډیره سختي کوي هلته که ګیرشې بیا دې نو خدای ساته
- په کابل کې چې زه دفتر ته ځم که هره ورځ نه وي یوه ورځ نه بله ورځ خو امربالمعروف موټر په ځوانانو ډک کړی وي
- پاچا صاحب ویل چې له استاد باقي دوی او رییس سره کار کوې
- هو ښه خلک دي تا پیژني
- استاد باقي ډیر تکړه سړی دی خو خوله یې په واک کې نه ده په کابل کې یې رانه ژوبل نه کړي
- په موسسه کې هم د ډیرو ښه نه ترې راځي، وایي عقیده یې ضعیفه ده

جان محمد پاڅیده. په تاکي کې یې د کتابونو له منځه یو لیک راواخیست، مومن ته یې ونیو:

- دا دی د لالا خط دې

مومن ورپاڅیده، خط یې ترې واخیست:

- چا درکړ؟

- سړی له ایرانه راغلی و زه نه وم خو ښه دی چې پاچا صاحب په جومات کې هغه بل ځل ویلي و که چا له ایرانه تاسو ته خط راووړ چې ماته یې راوسپاري بیا مې یوه شاګرد کورته راووړ په جومات کې یې اخیستی و

مومن بې پاکټه نغښتی کاغذ پرانست:

- استاده له خیره سره لالا مې راځي خو موږ هلته دی که دلته راشي

- وراره که په کراچۍ کې وم نو بیله خبره ده ، کنه سلطان جان که راغی او زه دلته وم په خپله یې درلیږم خو په کابل کې چیرته اوسئ

- شاه دو شمشیره ته نژدې په جوی شیر کې

- ښکاره ځای دی بیغمه اوسئ

سهار جان محمد له مومن سره کونسلګرۍ ته ورغی خط یې واخیست، په مکتوب کې له بسم اله وروسته د تورخم په امربالمعروف سفارش شوی و چې مومن ولد روزي خان ولدیت موسی خان نوی له ایرانه راغلی له ده سره مسلمانو ورونو نرم چلند وکړئ.

مومن چې سپیده چاود د بورډ د فلاینګ کوچ اډې ته رهي کیده په امربالمعروف اخیستی مکتوب یې د بیک پرسرپرانیستی ایښی و یو ځل بې ورواخیست چې ویې نغاړي په جیب کې یې کیږدي خو لیکنې ته یې ځیرشو چې خرابه نه شي. دا لیک غبرګ په جیب کې نه ځاییده نو له کونجه یې ونیو بیا یې په کوڅه کې راونغښت د کمیس په پورتني جیب کې یې ورو کیښود. په نوبت ولاړ موټر ته وروخوت، دوه تنه پکې ناست وو دی ترهغو تیرشو یوه یې ورته وویل « وروره مخته سیټونه خالي دي ته وروسته زوروهې ترکابله دې شاته جمپونه جو جو کوي » دی مسک شو، پرې تیر شو په وروستي سیټ کې یې

بکس کېښود، فکر يې وکړ چې دلته به د طالبانو ورپام شي نو راولتېد دوه سيټه يې پرېښودل په بل کې يې ځای ونيو او مخ ته نيولی پټو يې پرسرواچاوه.

په تورخم کې يوځل راوېښ شو چې موټروان اسناد لاسليکول، د افغانستان خواته به يې بيا کله سترګې درنې شوې کله به په جمپونو کې ترې خوب وتښتيد، خو ده پټو له مخه نه لرې کاوه.

د اوبو شرهاری شو لکه ناوې چې چوړېږي، مومن سر هسک کړ، د درونټې په بند موټرتيرشو، له تونله پورې غاړه موټروان پرماشين اوبه اچولې، سوړ بوی ته، لکه کبان چې وراسته شوي وي. مومن د سړک غاړې ته د سيند ژی ته ورغی.

هلته د کبانو دوکانونه وو. يو دوکاندار يې وپوښت:

- تروتازه ماهيان لرې ؟

دوکاندار پر ځټ لاس تيرکړ، د سترګو د کاسو ګونځې يې سره ټولې شوې:

- راشه چې درويې ښيم.

دوکاندارمخته مومن ورپسې د دوکان له شا د سيند ژی ته ورښکته شول، اوبو ته څو بوری کتارپه پړيو تړلې ورغځيدلې وې دوکاندار يو پړی ورکش کړ، د چادري په رنګ شنه ګونی يې له سينده راوايسته دهغې په منځ کې ژوندي کبان وو، بيا يې مومن ته وويل، په کلدارو که افغانيو ؟

- کلدارو

- کيلو يونيم سل

مومن سترګې پورته کاږلې ، لاسونه يې په ورنو تم کړل، د دوکان خواته وخوت.

دوکاندار دوه کبان ورسره واخيستل، ژوندي يې وتلل. کبان په ژيړه تله کې لکه تازه سرپرې کړې چرګان يوخوا بل خوا لټ په لټ اوښتل. دوکاندار پنځه کيلويي کانی ورواخيست کبان يې په سرو باندې ووهل ، په څنګ ته ورسره ايښې ډبره يې چاړه تيره بيره کړه، د کب پوست ته يې ونيوله پاک کړي ماهيان يې په سرکه کې کېښودل. يوسړي چې غټ پکول يې پرسر وو له دوکاندراه پوښتنه وکړه :

- کبان دې راته تيارکړو؟

- « بس لږ وارکوه دا دی اخته کیږی» بیا یې مومن ته وویل:
« څو کیلو تا ته »
مومن چې لا یوه پښه پورته د دوکان په ژی ایښې وه ، ورو یې وویل « راځم ».
دی د تونل خواته یوې غرفې ته ورتیر شو، ایراني بسکیټ یې واخیستل.
موټروان سر پر سر څو هارنه وکړل:
- « څو له خیره »
مومن په ږیره لاس تیرکړ دعا یې وکړه، موټروان موټر دوهم ګیرته کړ.
د لغمان دو راهي ته څیرمه موټر ودرید. د مومن څنګلوري ورته وویل:
- مول ووهه مخکې سخته تلاشي ده
تلاشي ته د دوی ترموټرمخته څوموټر کتار ولاړ وو. مومن قول هوالله پر ځان چوف کړه. یوه وسله وال موټروان ته وویل « ماما څه دې رابارکړې دي ؟»
- طالب ګله د پوستې موټر دی
درب دروب شو، څادر د مومن له مخه ولوید. طالبانو د موټر بانټ وهلی و، د تګ اجازه یې ورکړې وه. موټر تیز شو، د موټر مینځ له دوړو ډک شو. مومن خپل څنګلوري ته وویل:
- بل ځای هم سخته تلاشي شته
- په سروبي کې کله ناکله تلاشي سخته وي بیا د کابل په پلچرخي کې
د سروبي له بازاره چې موټر تیریده، په یوه بل اړخ کوږ ووږ شو، بیا ودرید. مومن ساعت ته وکتل، د پاکستان په وخت له پنځو دیرش دقیقې تیرې وې. ده د خپل نوي سیکو پنج ساعت ستن د کابل په وخت برابره کړه.
موټروان غږ کړل:
- ښکته شئ ایماندارو موټر پنچر شوی
سورلی د سیند غاړې ته د ناجو د دنګو ونو لور ته ورغلې، د سیند غاړې ته یې اودسونه وکړل. ترڅو چې یې ټیر بدلاوه د لمانځه وخت شو، د ماښام لمانځه ته سره ودریدل.
یوه وویل:

- مسافر یوو سنت مه کوئ

د بل غبر شو:

- ژر کوئ ناوخته شو

دریم په لوړ غږ کلیمه تیره کړه:

- اوس مو لمانځه ته نه پریږدئ

څو تنو غږ لوړ کړ:

- استغفر الله

تر دې وروسته چا څه ونه ویل. بیا ورو ورو موټر ته سره وختل. سړک تر یو ځایه سم و، موټر تیز روان و، لږ وړاندې موټروان د سیند غاړې ته یوه رسټورانټ ته موټر وګرځاوه.

د هوټل په برنډه کې د ایلیکین تر شیشې ماشي چورلیدل. د برنډې ولاړو ستنو ته اسمان څکالي تلل راتلل، باد چلیده. د ایلیکین رڼا ته خاورې نه ښکاریدې خو پر مځکه د پلاستیکي کڅوړو له کرشیدا او په برنډه کې د خاورو له بویه ښکاریده چې شمال خاورې په سراخیستې دي.

مومن د سیند غاړې ته ورغی. د اوبو پشهارې و، د ماهیپر غرونو ته یې وکتل، پر یوه کاڼي کښیناست، کومې څپې چې پر ډبرو لګیدې ده ته یې ځاځکي وربادیدل. اوبو ته یې لاس ورټیټ کړ لکه مار چې کلچه وهلې وي، یو نرۍ شي یې په اوبو کې ترسترګو شو، اوچت راپاځید. له څو ګامه لرې ورته ځیر شو، په لښته یې وخوځاوه، ورپام یې شو چې خځلي راغونډې شوې دي. پر بیره یې لاس تیر کړ، وړه کرې بیره یې ځیره احساس کړه. د تورو لونګیو او اوږدو کمیسونو خلک یې سترګو ته ودریدل چې لښتې یې په لاس کې دي.

بیرې ته یې چرت وواهه، چې د موټر هارنونه شول.

سورلی موټر ته ورپورته شوې، د خیر که دعا وشوه او د کابل پر لور روان شول.

د کابل د ښار په خوله کې طالبانو موټر ودراوه، سرېې موټر ته ننویست. موټروان ورته وویل چې د پوستې موټر دی. طالبانو بانټ په څپیړه وواهه، موټر روان شو.

بیا د محمود خان تر پله موټر ته چا لاس ورنه کړ. هلته چې مومن له موټره ښکته

کيده ږيره يې وګريده ،لاس يې وروړ ، قول هو الله يې پرځان چف کړه، شاوخوا يې وکتل ، په تياره کې څو ګامه لرې په پټوانو کې نغښتي څو کسه لونګي پرسرونو لکه طالبان ورته ښکاره شول، ده د موټر له ډالي خپل بيګ ورواخيست، د موټر له څراغه لرې اړخ ته شو چې ږيرې ته يې د چا ورپام نه شي بيا د سړک بلې غاړې ته واوښت. د واسکټ د بغل جيب زنځيريې ښکته کړ، د امربالمعروف په خط يې ګوتې ووهلې، له ځان سره يې وويل « خداى راتيرکړم ... دې نفرځه اوتې بوتې ويلې ..پا م.. پام کوه ږيره... جان محمد هم د کابل ضمانت نه کاوه... »
پټو يې په اوږه سم کړ، ژنه يې پکې پټه کړه . د اې اې ... له غږسره يې غوني زيږه شول چې ويې کتل د ټکسي ډرايبور د موټر له کړکۍ سر راايستى دى، ورته وايي:
- نه ميري اې توره ميګوم ؟
پوشکي يې شو، د ټکسي په خوا ورغى:
- تاسفارت شوروي چند؟
- هيچ نه تې، امې هرقدر که دلت است.. بالاشو.
مخته کښيناست، غاړې يې تازه کړې، ستوني يې د لارې دوړو نيولي و. موټروان چې سګريټ يې په خوله کې و د زاړه ماسکويچ ايشترينګ په غبرګو لاسونو تاواوو، څو د موټر مخه وګرځوي. د مومن پټو له مخه وښويده. موټروان چې موټريې لانه و ګرځولى بريک يې ونيو، پرله پسې دوه درې دوده سګريټ يې کش کړ:
- پشت سر بيشي، اې ريشت براي اينا بيخکيست.
مومن پرته له دې چې څه ووايي، شاته کښيناست. موټروان د موټر شيشه ښکته کړه د سګريټ بيخ يې له کړکۍ واچاوه . د مومن يخ وشو، په پټو کې يې ځان کلک ونغښت. موټروان چې شيشه پورته کوله د هغې غرچې شو سمه نه پورته کيده ، ويې ويل:
- اې خاک پدرلعنت موتره تکه تکه کد

مومن پټو ژنې ته ونیو. چلوونکي پوښتنه وکړه :
- خانه یې کې میري ؟
- کاکا
- مه توره د ایتو پس کوچا ببرم که سیل کو ..راستي فیته میټه خو د بکس نه داري ؟
- نی بابا
- خوده بسیار گول نه زن آگه باشه بیتې زیرسیت می مانم، که د بلای جان نه مانې.
د دهمزنگ په چوک کې څو تنو وسله والو موټر ته ځراغ ورواچاوه، یو رامخته شو په لاس یې موټروان ته اشاره وکړه چې ټول بکس خلاص کړي، موټروان چې یوه پښه په مځکه اېښوده بله یې لا نه وه ښکته کړې ورته وې ویل:
- ملاصاحب چیزي نیست
طالب پرته له دې چې څه ووایي د ټول بکس خواته تیر شو هغه یې ولید او غږ یې کړل :
- څه له خیره .
چلوونکي موټر گیر ته واچاوه ، دعقب نما اینې د تش چوکاټ پرسر یې په راځوړند چهار قل گوتې ووهلې، هغه یې ښکل کړ او له شیشې سره یې پورته په پوشونو کې پر نغښتي اینبي کتاب لاس وتپاوه، خپل لاس یې په سترگو تیرکړ:
- ازبرکت اي وظیفات شریف است اگه کسي ریشه چپه تراش بزنه باز هم چشم طالب سرش کور میشه
- استاد یک خطه سر امربالمعروف دارم
- خط مط نه مې چله بیادر گل هرقسم مردم اس ای تو بد مذهب داره که والله گه ازغوث اعظمه بشنوه.
د شوروي د سفارت مخې ته له تلاشي سره مومن سلام واچاوه یوه طالب ورغږ کړل :
- اجانه مومنه داسې مول دې وهلی ته یې؟

مومن هو کړل، سر يې ښکته واچاوه، په سفارت ننوت. د جومات بمبې ته ودريد، لاس او مخ ته يې اوبه واچولې، مخ يې ښه وموښه. ورو ورو په زينو وخوت، د پاچا غږ يې واوريد ، په زينو کې وچ ودريد. د دوی د پخواني کور په وره پرده راځړېدله، ورو يې جګه کړه، دننه تياره وه او کوټه لوڅه ، ورننوت، بيک يې کېښود، له يخه ريږد واخيست، پټو يې ترځان تاو کړ پکې تود نه شو له ورسی سوړ باد راننوت. د کړکۍ اړخ ته يې ديوال ته ډډه ووهله، سر ته يې لاس ونيو چورت يې وواهه چې څه وکړي « که کور ته ځم دا وخت ښاري بسونه کوم دي .... په لاره مې طالبان و نه نيسي...که پاتېږم له يخه به ترسهاره کرخت شم ...که د پاچا دوی کورته ورځم هغه به څه وايي ...» ځان ورته لوده معلوم شو چې ولې يې بې فکره کار کړی، خو بيرته يې ځان ډاډه کړچې پلان خو يې دا و، چې د ماسختن د لمانځه په وخت چې پاچا جماعت ته ولاړ شي دی به له فاطمې سره ويني هغه به د دوی په پخواني کورکې ځای ورته برابروي خو چې په لاره موټر ناوخته شوی دی دا د ده بد بخت دی.
په جګو ښو ناست و، ښې يې وچې شوې پرلتۍ يې ووهله د پخې کوټې غولی يخ و. بيک يې ترځان لاندې کړ بيا بيا يې له ځان سره فکر کاوه چې څه وکړي، اخر يې په دې خبرې امنا کړه چې د پاچا دوی کور ته ورشي او ورته ووايي چې پلار ورسره رااخيستې ده، ځکه له پېښوره سيخ دلته راغی. ولتيد، بيرته يې زړه ونه کړ، ووېريده چې سبا ته به دا خبره سپينه شي بيا به څه کوي . کښيناست، پټو يې پر سر واچاوه، دا انديښنه ورلويدلې وه که ژر پريکړه ونه کړي د خپل کور له تګه به هم ووځي او د پاچا دوی د کور له ورتګه به هم پاتې شي. راپاڅيده چې په کوټه سنګي کې په هوټل کې شپه وکړي، سهاربه دفتر ته ورشي له هغه ځايه به د رييس صاحب د ميرمنې په مرسته نامزاد بازي وکړي، خو د دروازې له تلاشي ووېريده چې طالب به يې په لنډه ږيره خبر شي. دې وېرې بيرته پښيمانه کړ، چې اوس سرويسونه هم نه شته نو د نيولو امکانات يې ډير دي. کښيناست بيا ولتيد، له کوټې راووت توکل يې کړل چې د پاچا دوی کورته ورشي. دهغوی په کورکې تياره وه ، د وره پرده يې لږ چوله

کړه، هغه ورځ ور په زړه شوه چې د پاچا کورته ورغلی و او فاطمې له ډاره چیغه کړې وه. بیرته خپل ځای ته راغی په وره راځوړند ترپال یې خلاص کړ دوه استوی و نیم یې ترځان لاندې کړ، پتو یې په ځان واچاوه، د هغه پر سر یې ترپال ورکش کړ او سترګې یې پټې کړې.
د الله اکبر ناره شوه، مومن نیغ کښیناست. ریږد اخیستی و، یخ یې شوی و. هی یې کړل له دې ویرې چې پاچا ویش شوی نه وي په منډه له زینو ښکته شو.
یخ و، مخ یې پټ کړی و. د سفارت دباندې د سړک غاړې ته روان و. یو موټر له لرې راښکاره شو. دی د ړنګو کورونو خواته تیر شو. ډاټسنه وه، داسې ښکاریده لکه د امربالمعرف ډاټسنه. د ړنګ دیوال شاته بوی ته. زړه یې بد شو خو خوا یې ونه ګرځیده. یو څو ګامه شاته شو وویریده چې مانیونه نه وي. ژر ژر یې ساه واخیسته. هلته کښیناست. سترګې یې پټې ونیولې. له سهارنی ورډمې سره د متیازو بوی زیات شو، سپږمې یې ټینګې ونیولې، ځان ته یې غصه راغله چې ولې د شپې خپل کور ته نه ته. سترګې یې پرانیستې، مخامخ سپین دیوال روښانه ښکاره شو ساعت ته یې وکتل:
«لمونځونه شوي»
«که ژر ولاړ نه شم رڼا به ډیره شي»
د سړک پورې غاړه بس ته ورروخوت. کوټې سنګي ته روان شو، هلته رڼا وه، خو د کمپنۍ موټر تیار ولاړ و، پکې بیروبار و. ورروخوت، د خپل رییس کورته ورغی.
د رییس میرمنې هګۍ ورته پخې کړې او کوچ یې ورته راواخیستل. د چای په وخت د رییس میرمنې پوښتنه ترې وکړه چې څه دې فاطمې ته راوړي دي ؟
- یوه ګوتې ده
- ته یې ښکاره کړه.
مومن له بیکه د سروزرو ګوتې راوایسته ، د رییس میرمن غمي ته ځیره شوه بیا یې ګوته په رغوي کې وتلله:

- ښه ده خدای دې ښه کړي، اول ځل ورځې لږ سپکه ده که پیسې وي یوبنګړی به ورته واخلو.

مومن ورو هو کړل، رییس ورته وخندل:

- دښځو په جنجالونو پسې څوک نه شي رسیدلی... له دې پرته هم نه کیږي .

د رییس میرمنې وویل:

- د ښځو څه جنجال دی هغه ښکلي زامن چې زیږوي درته ، کور درته جوړوي لږ سره به نه ورته اخلئ

رییس سر وخوځاوه. ښځې یې مومن ته هګۍ ورنژدې کړې:

- لاس تیتوه... داسې څه به ورته واخلم چې سر دې پرې جګ شي په کور کې ورته لږ خواږه پاخه کړئ

مومن لاړې تیرې کړې:

- زموږ رواج خو داسې نه دی چې تر واده مخکې ورشو...نو

د رییس ښځې سر وخوځاوه:

- چې دغسې ده هغه خواږه به هم زه تیار کړم، له دې ځایه به ورشو

مومن چې د هګیو غټه مړۍ یې په خوله کې وه، په ډکه خوله پوښتنه وکړه:

- لږ درنه ګوتې به ترڅو وشي ؟

- ګرانه دي په کلدارو دي

- دا راته ووایه چې څو روپۍ درکړم

- هغسې نه پوهیږم، نن به زه ورشم پوښتنه به وکړم سبا ته به یې بیا واخلو

مومن پټو ورنژدې کړ:

- اوس به دفتر ته ولاړشم هسې هم ناوخته شو

رییس ورته وویل:

- نن څه خاص کار نه شته د میدان ښار لاره دا دوې ورځې وشوه چې بنده ده، عبدالباقي هم غرمي ته راځي ساعت به مو تیر شي پاتې شه

- استاد عبدالباقي چې مې په اوله ورځ ولید خوښ مې شو تکړه سړی دی

- عبدالباقي داسې دی ...

د رییس ښځې د خپل میړه خبره غوځه کړه، مومن ته یې وویل:

- دغه خبرې به بیا وکړئ، ترڅو چې دا میلمه راځي زه به په تشناب کې بخاری ولګوم داسې خاورو دوړو نه سپیره شوی یې وبه لامبې.

مومن له بیکه جامې وړواخیستې تشناب ته ولاړ. چې له تشنابه راووت عبدالباقي راغلی و. هغه پر ډیره لاس تیر کړ مومن ته یې وویل:

- له دې مبارکې سره دې پام کوه که پرې برابرشوې خدای دې ترې ساته

رییس د سګریټو لوګی پوف کړ بیا یې وویل:

- اوس دغه ډیره کله ثابته ده چې څومره وي شیعه ګان وایي چې یوه ورځ دې خریلې نه وي هم سمه ده

عبدالباقي له خپل غوړ سره لاس تیر کړ:

- شیعه خو دا طالبان نه مني مالکیان خو مني د هغوی په حساب کې دې دا شقیقې هم لرې اوږدې وي سنت په ځای کیږي

رییس سروخوځاوه. مومن پوښتنه وکړه:

- دا په یوه حدیث کې یو رنګ په بل کې بل رنګ خبره ولې شوې؟

عبدالباقي ورته وویل:

- احادیث د پیغمر له رحلته ډیر وروسته راټول شوې دي دغه اوس په دې پرمختللي وخت کې چې هر رنګ وسایل شته دا معلومه نه ده چې هغه بله ورځ ډاکټر نجیب چا د ملګرو ملتو له دفتره راویست نو څوارلس سوه کاله مخکې احادیث خو ډیر وروسته راټول شوې دي

مومن خپله ډیره وګیروله. عبدالباقي د چایو غوړپ وکړ بیا یې وویل: «د سنیانو د احادیثو تر ټولو ثقه سرچینه امام بخاری دی چې په اته سوه اویایم میلادي کال کې وفات شوی او حضرت محمد ص په شپږ سوه دوه دیرشم میلادي کال کې رحلت کړی دا فاصله څو کاله شوه؟»

رییس ورته وویل:

- نژدې دوه نیم سوه کاله

د چایو د پیالې کړنګ شو چې عبدالباقي پر ریکابۍ کیښوده. مومن ورته وویل:

- په دې حساب که پر احادیثو تکیه ونه کړو، د خدای پاک امر ساقط نه شو چې اطیعو الله او اطیعو الرسول

عبدالباقي چې پر بالښت تکیه کړې وه رانیغ شو:

- دغه قرانکریم چې منې دغه د دې لپاره چې رسول الله درته ویلي دي خو همدا د پیغمبر اطاعت دی کنه، د همدې ایت شریف بله برخه یې هم ولوله، و اولی الامر منکم د اولی الامر هم همدا خبره باید ومنې چې فرمان یې ورکړی مومن شونډې بوڅې کړې. عبدالباقي وخندل مومن ته یې وکتل « ډیرې نورې خبرې هم شته، له عباسیانو راوروسته اجتهاد کمزوری شوی دی او مسلمانان پر همهغو متونو استناد کوي، په دې حساب د څو پیړیو فاصلې له امله هغه متون موثره نه دي ».

رییس د عبدالباقي مخې ته وچه ډوډۍ کیښوده، بیا یې وویل:

- که دغه بحث څوک علني وکړي ملایان یې په کفر نیسي

عبدالباقي یوه مړۍ خولې ته کړه، بیا یې وویل:

- تر هغو چې د نظر د تبادلې مخه نیول کیږي ټولنه په پښو نه شي دریدای او اصلاح نه شي راتلی...

عبدالباقي سابه ورواخیستل بیا یې وویل:

- دغه د دفتر له یوه سړي سره مې یوه ورځ خبرې کولی هغه راته ویل چې ستا خبرې کفر دي نه یې اورم، ماورته وویل، ته زما خبرې واوره زه به ستا واورم نتیجه به واخلو که ستا سمه وه زه به یې ومنم که زما سمه وه ته یې ومنه، حاضر نه شو.

له ډوډۍ وروسته مومن له عبدالباقي سره یوځای د رییس له کوره راووت.

مومن غاړې تازه کړې:

- استاده تر کوټه سنګي سره یوځای یوو

- ته بیا کومې خواته ځې؟

- شاه دوشمشیره ته

- له کوټه سنګي ورپورته دا امربالمعرف ګرځي راګرځي زه خو وایم یو دوه ورځي ځان مه ورښکاروه چې دا بږیره دې لږ ورسیږي
-نو څه وکړم؟
-له ماسره یو دوه شپې وکړه بږیره ژر ببریږي
په کوټه سنګي کې چې له بسه ښکته شول، مومن عبدالباقي ته وویل:
- زړه مې نه و چې کوژده وکړم خو وشو
- چې زړه دې نه و نه به دې کوله د هغو فردي ازادیو اختیار بل ته مه ورکوه چې واک یې له تاسره دی
- چاره نه وه
عبدالباقي په خندا ورته وویل:
- چې دومره دې زړه کیده صیغه به دې کوله
- اې ریښتا دا صیغه جواز لري
- شیعه په دې ایت استدلال کوي ( فمااستمتعتم به منهن فاتوهن اجورهن فریضة ) شیعه وایي چې دلته د صیغې خبره ده او خدای پاک وایي چې مهر یې ورکړئ.
- سنیان یې ولې نه مني؟
- شیعه وایي چې حضرت عمر ویلي دي چې ( متعتان کانتا في عهد الرسول الله حلالا و انا احرمهما ) یعني د رسول الله په وخت حلاله وه زه یې منع کوم.
- نو صیغه روا ده؟!
- دا بیل بحث دی خو که مسلمانان غواړي چې خپله ټولنه له اوسنی زمانې سره سمه کړي باید ټولو مذاهبو ته مخه کړي او مثبت شیان یې راواخلي.
مومن له دې ډاره چې په بږیره یې امربالمعروف ونه نیسي له عبدالباقي سره د هغه کورته چې دفتر ته څېرمه په سیلو کې و، روان شو. د مومن له لرې پر یوه ډاټسن موټر سترګې ولګیدې، عبدالباقي یې له لاسه ونیو:
- ودریږه شا ورواړومه لکه چې امربالمعرف دی
عبدالباقي موټر ته وکتل، مومن ته یې وویل:

- په دغو طالبانو کې اخلاقي خلک هم شته خو په دین حکومت نه کیږي په خپله د پیغمبر حدیث دی چې یوه بزګر ته یې ویلي و« انتم اعلم بامر دنیاکم» یعني تاسو د دنیا په کارونو ښه پوهیږئ

مومن پرولې اچولی پټو پر سر واچاوه:

- دا خلک په اسلام نه پوهیږي، په اسلام کې خو قوانین واضح دي؟!

- هغه قوانین چې په اسلام کې واضح دي هغه هم ثابت نه دي د اسلام په صدر کې لا بدل شوې دي، حضرت عمر یو کال د غلو لاسونه پرې نه کړل ویلې لوږه راغلې نو له شرایطو سره ژوند تغییر کوي

- نو حضرت عمر څرنګه له صریح حکمه سرغړونه کوله

- سرغړونه یې نه ده کړې هغه د لاس پرې کولو د ایت ظاهري مانا پرې کول دي، خدای پاک فرمایي، فقطعوا ایدیهم، پوه شوې؟!

- یعني قطع یې کړئ

- نه نه، موږ چې وایو لاس به دې لنډ کړم، مانا یې دا هم کیدای شي چې لاسونه به دې ونیسم

- په دې حساب باید اسلامي قوانین بدل شي نو

- هو حضرت پیغمر ته منسوبه وینا ده، انتم اعلم بشوون دنیاکم او داسې ښکارې چې دا سم حدیث دی..په مانا یې پوه شوې؟

- «هو یعني تاسو د دنیا په چارو ښه پوهیږئ»

مومن پټو له سره لرې کړ، بیا یې وویل:

- موټر لکه چې د امر بالمعرف نه و

عبدالباقي په خندا وویل:

-پرې لیکلي یې وو د ملا جانان د انډیوالانو موټر.

د کوچنیانو نارې شوې. یوه ډله په یوه سپي پسې وو، کاڼي یې په لاسو کې وو سپي یې ویشته. سپی د یوه کور پر کناراب ننوت. هلکان د کناراب مخې ته ودریدل سپی یې په کاڼو ویشت، د سپي کوړنچا وه. عبدالباقي پرې چیغه کړه:

- نه زنن

هلکانو د کوځې برسر منډې کړې. عبدالباقي مومن ته وویل:
- دغه خوارکی سپی که یوه ورځ نه وي بله ورځ دغو هلکانو پسې اخیستی وي بیا دلته په کناراب کې پټیږي او دلته نو فاصله لنډه ده هره تیږه پرې لګیږي...
هغه ورځ مې یو لرګی ورته پیدا کړ چې پرې راوړي ناسم، کوږنچیده له ډاره نه راوت...اوس زموږ په ټولنه کې څوک دغه هلکانو ته نه وایي چې دا کار مه کوئ
- ګناه لري
- دغه ماشومان چې نن پر دې ښپي وره وته سوځولي سبا چې غټ شي بیا هغسې کوي لکه په دې تیرو کلونو کې چې یې په دې وطن کې وکړل او لا یې کوي، دا وژنه هغه وژنه
- دا ملایان ولې کوچنیان نه منع کوي؟
- ملا د کوچنیانو په روحیاتو څه خبر دی هغه کله نوي کتابونه لولی، هغه بس دغه زاړه کتابونه لولي چې د پیښور په قصه خوانی کې د سیاسي هدف لپاره بیا بیا له سره چاپیږي او ته ودریږه......
عبدالباقي د کور ور خلاص کړ وار له واره الماری ته ودرید له الماري څخه یې دوه کتابونه راواخیستل، مومن ته یې د کتاب پوښ ونیو:
-ګوره دا جامع الترمذي د احادیثو یوه ډیره معتبره منبع ده او دا هم ابن ماجه بله معتبره منبع په دې دواړو کې دغه حدیث راغلی
عبدالباقي پر ژبه ګوته لمده کړه د ابن ماجه یو مخ یې راواړاوه پر یوه حدیث یې ګوته کیښوده، عربي دې څرنګه ده ته دا ولوله: « حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم رَجَمَ يَهُودِيَّيْنِ أَنَا فِيمَنْ رَجَمَهُمَا فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ وَإِنَّهُ يَسْتُرُهَا مِنَ الْحِجَارَةِ».
مومن غلی شو. عبدالباقي د الترمذي پاڼې اړولې:
- دلته مې پیدا نه کړ خو پخوا مې همدغه حدیث په څه متفاوته کلماتو دلته هم لوستی و، په معنی یې پوه شوې؟

مومن سر د نه لپاره وخوځاوه، عبدالباقي ورته وویل:

- که مو زړه ته لویږي چې دا د رسول اله مبارک وي نو معنا یې دا ده چېعلي ابن محمد له عبدالله بن نمیر له عبید الله بن عمر، له نافع او بیا ابن عمره روایت کوي چې رسول الله دوه یهودان په کاڼو ویشتل او زه هم یو له کاڼو ویشتونکو څخه وم. ما ولیدل چې (یهود سړي) هڅه کوله چې (یهودۍ مېرمن) له کاڼو څخه ځان ته سپر وګرځوي.

عبدالباقي غلی شو، بیا یې وویل:

-زموږ ملایانو دغسې احادیث لوستي دي نو له خوشونته به څرنګه لاس اخلي

عبدالباقي په پیاله کې لږ چای واچاوه چې کنګال یې کړي، مومن ته یې وکتل:

- ریښتیا شخصي پوښتنه ښه نه وي، رییس صاحب ته دې قرض ورکړ...له..

- نه نه...

- که دې پیسې پکار شوې له هغه یې مه اخله هغه کور لري زه څوک نه لرم دا تنخواه راباندې ډیره ده

مومن وخندل:

- هغه تا د تنخواه راکړې پیسې مې رییس صاحب ته ورکړې، د واده لپاره د هغه ښځه خه راته اخلي

عبدالباقي سروخوځاوه:

- ښه ښه خبره واده ته رسیدلې

مومن په خندا وویل:

- که چا دوه درې ودونه کولی څه به یې کول

- دوه درې ودونه ملایانو روا کړي

- ولې څلور روا نه دي؟! ایت شریف دی چې، مثنی وثلاث و رباع....

- نه، که چیرته یوه ښځه وکړې او هغه د نکاح په وخت شرط دربانديې کیږدي چې بل واده به نه کوې، نو بله درته روا نه شوه

- ښځه کله داسې شرط ږدي او کله خبره وي

عبدالباقي سروخوځاوه:

- دغه خبره ده کنه موږ د ځان د شهوت لپاره په چل چلیږو کنه
مومن وخندل:
- دا خبرې مولوي صاحبان ولي نه کوي
- دوی کتاب نه لولي، چې لولي یې بس د قصه خوانۍ له کتابونو پرته څه نه ګوري او له عقله کار نه اخلي
- قرانکریم فصیح کلام دی نو عقل ..
عبدالباقي سروخوځاوه، د مومن خبره یې ورغوڅه کړه:
- زموږ مشکل همدا دی خدای پاک په قرانکریم کې څو ځایه فرمایلي دي، افلا تفکرون، افلا تعقلون، افلا تدبرون... له دې یوه هم استفاده نه کوو
- که له عقله کار واخلو نو ډیر شیان په عقل نه جوړیږي
- په دنیوي چارو کې عقل کار کوي، ما وراء الطبیعت شیانو کې که عقل عاجز شو نه به یې ستړی کوو، خو د قرانکریم په عادي فهم کې ولې له عقله کار نه اخلو، خدای پاک نه دې ویلي چې دا افصح کلام دی؟!
د مومن په غوږو کې د خپلو نورو همکارانو خبرو بیا بیا انګازه وکړه «له عبدالباقي سره ډیر مه ګرځه د هغه عقیده ضعیفه ده»
عبدالباقي بیا وویل «په دې یو شي باید ځان وپوهو چې قرانکریم سیمبولیک کتاب دی مفاهیم یې ډول ډول تعبیریدای شي نو هغه تعبیر یې پکار دی چې راواخلو چې له اوسنۍ زمانې سره سم وي، که داسې وکړو له دنیا سره سم حرکت کولی شو کنه دغه به حال وي چې وینې یې څو کاله د دې تورلونګیو وشول چې کابل یې په لاس کې دی یوه ښځه یې پربلې نه ده ایښې»
مومن ورته وویل:
- استاده دوی وایي چې جنګ دی پیسې نه شته
- دا هره ورځ د عشر په نوم مالیه نه ټولوي دغه یې بل دلیل چې په دین حکومت نه کیږي د عشر په پیسو چا بانک چلولی
مومن ورو وویل:
- البته دا خبرې ډیرې خطرناکه دي

- زه پوهيږم دوی افغانان نه پريږدي چې خبره وکړي خو اقبال ته د اسلامي فيلسوف په سترګه ګوري که کنځلې هم ورته کوي، هغه وايي:

« دين مومن دين تدبير و جهاد    دين ملا في سبيل الله فساد »

د مومن په ذهن کې بيا دا خبره راوګرځيده ( دا سړی سم مسلمان نه دی)

عبدالباقي ورته وويل، داسې ګنګس شوی يې ودريږه چې زه دې د خوب غم وکړم پرستن درته راوړم.

سهار هم د ميدان وردګ لاره بنده وه. رييس، عبدالباقي، مومن او يوازې درې تنه نور ماين پاکان دفتر ته راغلي وو. غرمه تر اذان مخکې سره ووتل او مومن له رييس سره په موټر کې د هغه کور ته ولاړ.

د رييس ښځې له يوه بخملي ډبې ګوتې راوايسته مومن ته يې ونيوله:

- طالع دې ښې دي شناخته زرګر ته ورغلم نو ارازنه يې راکړه دستي مې واخيسته ده ګوتې وازوله راواړوله.

- په خو وشوه ؟

- « په شپږ زره کلدارو او نيم من کلچې مې هم اخيستې دي اول ځل دی تش لاس خو به نه ورځې» د رييس ميرمنې غږ تيت کړ« داسې به وکړو درې واړه به د پاچا صاحب کور ته ورشو بيا د ماښام لمانځه په وخت چې پاچا صاحب جومات ته لاړ ته يې کور ته ورشه» د رييس ميرمنې خپل غوږ ته ګوتې وروړې « خور مې بيچاره ماين وهلې په هې ته اوري، خو په اشارو داسې ښه پوهيږي».

مازديګر سره رهي شول، مومن په لاره کې په خوله زيره داريده خو رييس تسلي کړ چې د امربالمعروف خلک هغه موټر دومره نه دروي چې ښځې پکې سپرې وي.

د ماښام اذان لا نه و شوی چې پاچا جومات ته رهي شو، مومن د صحرا ګشت خوانه له ونې سره ولاړ و، چې ځرنګه يې پر پاچا او رييس سترګې ولګيدې د ونې بل اړخ ته تاو شو او د بلاک د شا له خوا کور ته ولاړ.

د ماسختن له دوډی وروسته فاطمه وارخطا کوټې ته ورننوته په خوله يې لاس کيښود، مومن ته يې وويل:

- میلمانه لاړل دادا مې دې خوا رانه شي شابه د بسترو شا ته پټ شه.
مومن په تخت باندې د سرپر سر کالیو سرته وخوت، فاطمې یې پښه ورجگه کړه ، دی د بسترو شاته واوښت. هلته د موږکانو بوی ته. مومن خپل بیک ته پام شو چې هغه خو یې برسیره دی بیا یې له ځان سره وویل چې فاطمې به یې غم خوړلی وي. ساعت ته ځیرشو نه ښکاریده، یوځل یې ټک ټوک ترغوږو شو بیا ارامي شوه. له ځان سره یې یودوه ویل شروع کړل چې څو دقیقې کیږي. ترڅلورزرو یې حساب ورسید چې ورو د فاطمې غږ شو:
- راووځه
دی ورپورته شو، بکس یې په خپل ځای ایښی و، خو پړمخې شوی و. له فاطمې یې پوښتنه وکړه :
- ما ویل د بکس غم به تا خوړلی وي
هغې سر ته لاس ونیو:
- اخ! هیڅ مې پام نه شو، خو خیرشو دادا راغی بیرته ژر ووتو
مومن ورته وویل:
- زه له تا ډیر خپه یم، چې کله مو کیده تا زه بې عابه بې عابه کړم
فاطمې د مومن د لاس پر شا خپل لاس تیر کړ:
- که ما داسې نه وی کړي دا کار نه کیده
- ولې نه کیده تا بې صبري وکړه
- مور دې دا کار نه کاوه که ما داسې نه وی کړي په رب قسم که شوی وای
مومن سړه ساه وایسته. فاطمې پیرکی په خوله کې ورکړ. ده یې لاس ونیو:
- زړه ته مې نه کیږي
فاطمې پیرکی کړکی ته پورته ونیو:
- وی، ښه اې نه دی، ما جوړ کړی، ته خو ورته وگوره چې څنگه ښه نازک دی
مومن سروخوځاوه، فاطمې ته یې یوه کره ورښکاره کړه:
- هغې پرته له دې چې لاس وروړي پورې یې وهله په دې اوسپنې څه وکړم؟

مومن د سروزرو ګوتې له جيبه راوايسته، مړی يې تيره کړه:

- دا واخله

فاطمې ګوتې ته لاندې باندې وکتل بيرته يې ده ته ورواچوله :

- دا استعمالي ده

- که زړه ده که نوې ده تراوسه يې راته ويلي ول چې غږ مه کوه دا دې ترور راته خوښه کړه

فاطمې د مومن پر لاس غوټه کړه، بله ګوتې يې ورواخيسته، په خچه ګوته يې کړه:

- دا په دې ګوته ځي، د سرو زرو بنګړي راته واخله

- نورې پيسې نه لرم

- زه څه وکړم قرض واخله

مومن له ورسی لاندې وکتل، تر ډوډۍ مخکې د رييس د ميرمنې خبره يې په ذهن کې وروګرځيده چې ده ور ته غوږ نيولی و او هغې پاچا ته ويل « دا کلچې ما پخې کړې دي»

فاطمې مومن ته وويل:

- ته ډيرکنجوس يې

- له خپل ګيلم سره به پښې غځوو

- دادا مې ويل دوی ښې پيسې لري تر تا خو په پيښور کې زمونږ ګاونډی ښه و زه يې غوښتمه او ويلي يې و چې مونږ به په صدر کې سيټ ورته واخلو .

مومن له کړکۍ د سپوږمۍ رالويدلې رڼا ته فاطمې ته ځيرشو د مور خبره يې ورپه زړه شوه « دغسې چغرېته خو هرچيرته پيدا کيږي »

فاطمې ژر خپلې سترګې ورپولې، لاندې يې وکتل ويې ويل:

- ګوره پيښور ته لاړې، صدر ته به هم تللی اې، ماته دې سره رانه وړو

- دغه ګوتې څه ده

- دا خو ته وايې چې دا ترور اخيستې ده

- دا يوه خو ما اخيستې

فاطمې ګوتې له خپلې ګوتې راوايسته. مومن ساعت ته وکتل ويې ويل :
- وخت لاشته ته وګوره چې پلاردې ونه ګورې زه کورته ځم .
فاطمه ورنژدې شوه ورو يې په ناز په غوږ کې ورته وويل؛
- چيرته ځې ؟
مومن غلی شو، د مور خبرې يې ورپه زړه کيدې «چې واده ته دې زړه کيده راته ويلي به دې و نجونې خو کمې نه وې»
فاطمې ورته وويل:
- دغه زموږ د اول منزل هلک مې نژدې د پلار پښو ته لويدلې و چې فاطمه مونږ ته راکړئ بيا مې پلار ويلو خدای خبر د کوم ځای دی .
- بل چا غوښتې ؟
فاطمې وخندل :
- زموږ يو خپل و داسې ښکلې و بيا لاړ ايران ته
- بل چا؟
- د رييس د زوی هم زړه کيده خو ما نه به يو کال کشر وي
د مومن په زړه کې وروګرځيدل چې فاطمې به له نورو سره انډيوالي پاللې وي چې دا يې خوښه کړې وه ، ترشونډو لاندې يې ورو توبه وايسته. فاطمې وپوښت:
- څه شی؟
- هسې.
فاطمې د مومن غاړه وموښله، دی اوږد وغځيد، يو وخت يې ورته وويل:
- پاڅه سهار شو اوس به مې دادا جومات ته ځي
مومن اوچت پاڅيد، په منډه يې بکس راواخيست چې ووځي. فاطمې وخندل:
- ولې يريږې، هسې مې ويل صبر وکړه؟
- پاچا صاحب به تا پسې ګوري
- نه نه...ما په خپل ځای کې بالښت پټ کړی لرې نه داسې ښکارې چې زه ويده يم

مومن بکس بیرته کیښود. فاطمه یې څنګه ته کیښناسته. ورو ورو کوټه رڼیده.
لمرلانه و راختلی چې مومن خپل بیک په شا کړ.
مومن چې د خپل کور زنځیر په جوی شیر کې وګړنجاوه پلار یې راووت، ده لاس وراوږد کړ هغه ترې تیرشو دباندې ووت. مومن په زینو باندې سوکه سوکه زړه نازړه وخوت، مورته یې لاس ورکړ، لیلا خپله ورمخته شوه پوښتنه یې ورسره وکړه:
- شکر سترګې مې روښانه چې په خیر راغلې
مومن په ټیټ غږ ځواب ورکړ
- خیر یوسې
موریې ترې وپوښتل:
- د سلطان جان حال نه وراغلی؟
لیلا د ده خولې ته کتل، ده له جیبه خط راوایست:
- دغه خط یې راغلی.
لیلا خوله خلاصه کړه، خواښې یې مومن ته وویل:
- سړی اول د ښه زیری کوي، څه یې لیکلي
مومن خط سترګو ته ونیو، سلطان پکې لیکلي و، زه ښه یم خیرخیریت دی سږکال مې درتګ وځنډید که خیرو کال ته به درشم
لیلا په منډه له کوټې ووته، خواښې یې ترپلو لاندې لاسونه دعا ته پورته کړل :« شکر زویه چې روغ رمټ یې »
مومن په لوړ غږ وویل:
- هغه بیک مې راوړه.
لیلا بیک ورته کیښود ده خلاص کړ، کالي یې واړول راواړول، لیلا ورته وویل:
- خیر دی څه دې ورک شوي خو نه دي؟
مومن دبیک کالي سرچپه کړل، ترې لاندې تور رنګه موټر و، مجاهد ته یې ونیو، هغه پرې غوټه کړه
مومن ته یې مور وویل:

- دا شی مو مخې ته دی، له سلطان جانه مې هم اوس هیله وخته چې څه پیسې به راوړي خدای دې په لورې شي اوس یې نو غم خوره؟
- څه شی؟!
- ولې هغه بیشرمه به نه راخوندې کوو.
مومن سترګې ښکته واچولې. مور یې ورته وویل:
- « پلار یې د سلطان پلار ته ویلي و چې ښه ده ژر پرده خوندې کړو»
- دا خو نو زموږ خوښه ده چې څه وخت واده کوو د دوی یې څه
- نه داسې دې نه دې کرلې له کوچني سره خو یې نه شو راودولی
- له ماسره خوپیسې نه شته
مور یې یو لاس پر بل تیر کړ:
- پلار خو دې دغومره لرل چې غلو وختېل سرای شمالي ته یې پښې وختې اخریې یوه شناخته ته یو خط ورکړ، که حسینه ګله له زرمینې سره راغله چې څه ترې پور کړو.... خو واده ته واده ګی مه وایه یوازې په هغه پور نه کیږي او لا خدای شته هغوی پیسې لري که په څه حال کې دي، خدای دې په لورې شي
- د کندز لاره خو بنده ده
- پلار دې ویل چې خلک په غرونو ځي د شپو ورځو لاره ده خو له هغې خوا راتګ ډېر سخته نه دی
- څه وخت ته واده کوئ ؟
- ته یې څه وخت راخوندي کوې، موږ نه کړې ده نه یې کوو
مومن پټو په اوږه کړ چې پاڅي، لیلا چای ورته کیښود، ده په اوږه کړی پټو ورکش کړ، د چای پیاله یې په سر واړوله، ژبه یې وتروړله ، وسوځیده. مور یې چې سترګې یې ده ته نیولې وې سر یې وخوځاوه، سیلک یې په لاړو لوند کړ او لوند کړی تار یې د ستنې سپم ته وروړ، دې ګنډ په زنګانه واچاوه ځو واره یې ستن ترې وایسته بیا یې ګنډ لړ لرې ونیو لکه چې ښه نه شو ورته ښکاره له ځان سره وبونیده « میراث دې شه ، څه په شمر به مې راشې »

لیلا مومن ته اشاره وکړه چې دا ستا لپاره دی ، ده د چای پیاله په لاس کې تاو راتاو کړه مور یې ورته وویل:

- د پیسو غم ژر وخوره چې پلار دې تاته انتظار و هغه د پاچا بلا دې پرې وګرځي بار بې لاګوښی په هغې کېږې ایښی دی

مومن په ټیټ غږ وویل:

- چې پیسې نه وي صبر وکړئ

- ولې دې سر نه خلاصیږي درته وایم له ډهل نس سره خو یې نه شم راودولی

مومن په لاس کې سره ورټول کړی پټو له مځکې وواهه :

- دا چټیات دي

- هو هغه نور هم چټیات و چې ما به درته ویل او تا به نه منل.

پاچا د نغري اور ته ورټيټ شو. باد د اور لمبې داسې تمبولې لکه له يوه اړخه چې بې څوک زېبښي. اشپز چې د لونګی شمله يې په خوله کې نيولې وه، ورته وويل:

- پاچا صاحب ! بې غمه اوسه

- په تاخو مې اعتبار دی چې ان شا الله ډوډی به دې سمه وي خو وايم کمه نه شي د واده کار دی

اشپز د اوړې له سره خربخون غوړ صافی په لاس کې ونيو، د ديګي برغولی يې لرې کړ، د خامې غوښې د يخني بوی خپور شو. له ديګه راپورته شوي بخار د اشپز تنګې سترګې نورې هم سره ورروستې، پاچا ته يې وويل:

- د تاسې پاچايانو په دعا به د يونيم سل نفرو فرمايش ته وريجې پوره ورسيږي

پاچا د خپل تور واسکټ دښی خوا له جيبه سپين روميال ورواخيست، د جيب پر سر يې کښېنستې ايرې پرې پاکې کړې:

- هرڅه چې کمبود لرې سرې وخت غږ کوه

روزي خان پاچا ته ورناره کړه :

- صاحب څه کړې مو سره جوړ دی؟

- سودا مې شوه چې ډوډی کمه نه شي

اشپز صافي په اوږه واچاوه:

- پيازو ته لږهغه يم

روزي خان په تروه تنده ورته وويل:

- څه کوې چارک بالا دوه منه سپين پياز و او چارک کم من دې سره

پاچا وروڅې پورته کش کړې:

- څومره دې نور پکار دي؟

اشپزصافي لکه د اتڼ رومیال پورته غورځارکړ:
- بس دوه درې چارکه نور له سره تیر دي
پاچا دغوړشاته لاس ونیو د باجه زوی ته یې چې لرګي یې ماتول ورغږ کړل :
- زلمیه!
زلمي په تبر لکه امسا تکیه وکړه، سپینه خولی یې له سره لرې کړه، پاچا د ورتګ اشاره ورته وکړه :
-ته راشه درې څلورچارکه پیاز راوړه
روزي خان ورو وویل:
- دوه چارکه غواړي
- د واده مساله ده چا ته کم رانه شو
روزي خان زلمي ته یو لس زریز ونیو. پاچا ترې وغوښتل چې یو بل هم ورکړي، بیا یې د اشپز په اوږه لاس کیښود :
- خلیفه زما دې ونه منله، غوښه یې د پسه رانه وړه اوس دغوایي غوښه لږ سوړ بوی کوي، یوځو غوزه اوږه په وریجو کې دم کړه
- والله پاچا صاحب سخت په اشپزي کې تعلیم یافته اې
د پاچا شونډې مسکې شوې. زلمی لا ولاړ و . پاچا ورته وویل:
- څه ته ولاړ یې مه ناوخته کوه ژرکوه لږه اوږه هم درسره راوړه
زلمي افغانی له کونجه ونیولې :
- را کمې نه شي
پاچا جیب ته لاس کړ د تندی ګونځي یې سره ورغلې، دوه پنځه زریز یې هم ورته ونیول. زلمي د پاچا پیسې وانه خیستې. پلار یې د دروازې خواته روان و، پسې ورغی. پاچا له شاپسې ورمنډه کړه پیسې یې د زلمي د واسکټ په جیب کې ننویستې . زلمي د سودا لپاره ورسره اخیستې کڅوړه وخنډله، چټک شو.
رییس سروخوځاوه، پاچا ته یې وویل:
- هلک ښه هلک دی، خو له سختو کنجوسانو سره دې سرو کارشوی تا واده هم د دوی په کور کې ورته جوړ کړی

پاچا خپل باجه ته سا نیولې وویل:

- رییس صاحب! مخکې مې درته ویلي وو و... چې هلته له.... خپل کورسره خو.. مې.....شاوخوا داسې.. وړي ..خلک خو نه دي راټول شوي.. څو موږ خبریدو... په خدای به یې پاخه دیګي ..کورو ته وړي و ... دلته د دوی ګاونډیانو دا کورونه ورته خالي ...کړي..ي ي..

رییس وخندل:

- ساه دې سمه کړه بیا خبره کوه، نه پوهیږم څه وایې

پاچا په حویلۍ کې د خورو شویو ترپالونوخواته وګرځید، پر توشکوېې بالښت ته ډډه ووهله. روزي خان د ترپال اوښتې ژۍ سمه کړه. پاچا له بالښته سر ورپورته کړ:

- روزي خانه ! خلیفه مې پوه کړی دی چې یولس بجې شوې وریجې به دم وي او قورمه به هم تیاره، ان شا الله » پاچا ساعت ته وکتل « هغه د قبلې خوا نه په یوه یوه نیمه بجه خاورې را الوځي مه کوه چې ډوډۍ لمانځه نه مخکې پای پاک خلاصه شي »

- چې څرنګه مو خوښه وي

- د ډوډۍ په وخت به له دیګونو نه خوځې دلته په چا باور مه کوه غوښه ښکته پورته کوي.

پاچا خوله کبره کړه، یوه سترګه یې پټه کړه :« ښه ده چې غوښه دې نظر نه لاندې وي »

روزي خان نسوار خولې ته کړل، اشپز ته ورغی. هغه نغري ته څو دړې کیښودې، د اور سووکي باد شول ، روزي خان خپل څادر ټکواهه ورته ویې ویل:

- «څه کوې! څادر دې راوسوځاوه » د دې خبرې له کولو سره یې خپل څادر ته سترګې ونیولې، د شین بخون څادر قندهاري دوزي پیڅکه توره غونډې ورته ښکاره شوه، څادر یې د لمر وړانګو ته پورته ونیو، ګوته یې پرې تیره کړه ایرې پرې کښیناستې وې.

د ده شاته پاچا له یوې نجلۍ سره غږیده. شپږاووه کلنې نجلۍ چې تکي سرې یې شونډې سرې کړې وې ، سرخي یې پرمخ وهلې وه او زرغون شراره کمیس یې اغوستی و په ماته ماته ژبه پاچا ته وویل:

- په کور کې دې غواړي

- ته دې چا لور یې ؟

نجلۍ منډه کړه، روزي خان پسې غږ کړل:

- ای دوسې! خوله دې ماته ده خو ورته ووایه

پاچا پوښتنه وکړه:

- دغه د چا ده؟

- دغه مې لمسۍ ده

پاچا په نجلۍ پسې روان شو، په تلو تلو کې یې وویل:

- دا له کندز نه راغلې چې داسې شرمیږي؟!

روزي خان اشپز ته غوږ ورنژدې کړ:

- څه چې زه درته وایم هغسې به کوې، بې ځایه فرمایشونه به نور نه ورکوې

اشپز په لږ جګ غږ ورته وویل:

- صاحب یو پیازکمبود و

روزي خان په پوزه باندې لاس کیښود:

- زاتي له ډیرو فرمایشونو دلته ورسیدو

اشپز پوزه کش کړه :

- صاحب د واده کار دی

- له بوټو تر اورلګیده مې د یوه یوه شي حساب ورسره کړی و اوس دې بیا پیاز راباندې راوغوښتل

- صاحب دا د اشپزي کار دی دا اوس پوټی شانتي لرګي کمبود دي

روزي خان په لاس کې نیولې څادر، کلك پر اوږې واچاوه:

- بس که خدای که پاو نور راباندې راوړې.. پاو

اشپز یولرګی له مخکې ورواخیست:

- صاحب بلوط یې نه دې راوړي ارچه دي هغه بر بر یوه لمبه شي

روزي خان په تګ تګ کې ترژبې لاندې وزغونځیده :

- دا ټوله سودا یې په دغه زلمي سره غله اخیستې ده، چې دا لرګي ژر خوله اخلي.

اشپز یودوه لرګي چې په نغري کې یې ایښې ول لږ دباندې راکاږل .

پاچا د خپل ساعت شیشه ووهله، له لرې یې غږ کړل:

- خلیفه جان په لرګو به زړه نه سوځوې زه ډوډۍ په یولسو تا نه تیاره غواړم

اشپز په لاس له نغري د راایستلي لرګي لټیدلی لوګی له سترګو لرې کړ:

- لرګي کمبود کوي

-څومره پکار دي ؟

- یودوه منه

- زلمی لا نه دی راغلی .

اشپز د زلمي خواته لاس ونیو:

- هاغه دی

پاچا زلمي ته شاباسی ورکړ، ترې ویې غوښتل چې له روزي خانه د څلورمنو لرګیو پیسې واخلي

- څه ته مې بې ابه کوې

- چې ته بې ابه شې ښه دی که ټول خپل پردې په یوه پیسه شو؟!

زلمي سر ښکته واچاوه، د روزي خان خواته چې په حویلی کې له میلمنو سر ناست و ورغی، ورته ویې ویل:

- کاکا، هلته لږ پکار یې .

روزي خان خپلو زومانو ته سروخوځاوه، راولتید. هغوی یوځای ورناري کړې « پروا نه کوي صاحب که څه امرو خدمت وي راته وایه»

په حویلی کې د اکاسي ونې له ډډ سره زلمي د لرګیو خبره روزي خان ته وکړه ،هغه غاښونه وچیچل:

- پیسه ټکه ! په پیازو کې دې ووهلې اوس دې بیا چل جوړ کړی مخکې دې هم خراب لرګي راوړي

زلمي لاړې تیرې کړې :

- چې زور دې نه رسیده بیا به دې له خپل ګیلم سره برابر له یوه غریب بچه سره دوستي کوله .

روزي خان لاندې باندې ورته وکتل، لاحول یې کړل :

- د نن زمانې هلکان یاست چې نه مشر پیژنئ نه کشر.

زلمي ژر ژر سترګې ورپولې. چټک چټک د پاچا خواته ورغی، هغه ته یې کیسه وکړه، پاچا د روزي خان خواته ورغی. د روزي خان چې له لرې په ده سترګې ولګیدې راولتید، تر ونې لاندې ورسره ودرید . پاچا ورته وویل:

- بې ابي ته دې لاس اچولی

روزي خان د پاچا په اوږه لاس کیښود :

- غبږ دې لږ ټیټ کړه... ته واوروه

پاچا خپله اوږه د ده ترلاس لاندې کش کړه :

- نه یې اورم

- ګوره ځان خبر کړه سورغل دې هلته کښینولی

پاچا په یوه لاس خپل مټ ونیو، بل لاس یې وغځاوه:

- رییس صاحب دوی ته یې په واده کې دومره لست ورکړی و، په رب قسم که به یې اه خولې نه وتلې وي، ته هغوی څنګه یادوې

- پاچا صاحب ته ګوره هغوی نه یادوم ، دغه خلیفه دې یادوم

- د پیښور په غریب اباد کې چې چا ته د دې اشپز نوم واخلې ټول یې پیژني... زه دې د یو دوو منو لرګیو په پیسو کې نه یم »

پاچا بټه او منځوی ګوتې سره یوځای کړې ټک یې وایست « هغه رییس صاحب مومن دغه شان دفتر نه شړلی شي، هغوی مه خپه کوه»

روزي خان د پاچا پر ولي لاس کیښود، د واسکټ له جیبه یې یو بنډل پنځه زریز راوایستل، پاچا ته یې ونیول:

- پاچا صاحب و پاچا صاحب د تاسې پرده زما پرده ده وایه زوروره څه پکار دي؟
- دغه پیسې زلمي ته ورکړه مه یې خپه کوه.
روزي خان شاوخوا په زلمي پسې وکتل نه ښکاریده، له اشپزه یې پوښتنه وکړه، هغه په بیل د نغري له لاندې لږ سکروټې رابهر کړې، د دیگې پر سر یې کیښودې، بیا یې د دروازې خواته اشاره وکړه. د روزي خان زلمي ته ورپام شول چې له وره سره ولاړ دی. ده په خندا زلمي ته وویل:
- خپه نه شې څوانه د واده کار دی دې اشپز چرت راخراب کړی و
زلمي سترگې د کوڅې لور ته واړولې. روزي خان لس سریز نوټ ورته ونیو:
- یو څه بوټي راوړه
- په غله ولې لرگي راوړې
روزي خان څوان له لاسه ونیو، رغوی یې ورومو‌ښه، په رغوي کې یې یو لس زریز، بل پنځه زریز نوټ کیښود بیا یې پر ولیو وټپاوه:
- ورځه ورځه ما خو درته وویل چې دغه اشپز خدای خوار کړي چرت رادغه کړی و.
زلمي سر وخڅانده روان شو. روزي خان پاچا ته وویل چې هلک مې خوشاله کړ.
یوه ډله خلك راغلل. دوی نه پیژندل، روزي خان ورسره روان شو، د ونې لاندې پر گیلامانو ورسره کښیناست.
پاچا نارې کړې:
- شابه ورمنډه کړئ چې لرگي له زلمي سره ښکته کړئ
روزي خان له خپلو زومانو سره د وره خواته ورچټك شو. د روزي خان د اپارتمان له خوا د سندرې غږ راغی. پاچا په منډه ورغی. زنځیر یې وگړنجاوه چا ځواب نه ورکاوه، د روزي خان لمسی یې ورواستوله ورته ویې ویل « دغو بیشرمو ته ووایئ غږ ورو کړئ سندرې موشاه دوشمشیره نه تیرې شوې»
روزي خان پرې غږ کړل:

- پاچا صاحب بيا څه جنجال دی؟
- نه يې اوريځ کوڼ يې
- څه شی؟
پاچا له خپلې خولې سره يولاس ونيو، ورو يې وويل:
- سندرې
روزي خان اوف کړل:
- ښه دې وکړو اوس مو په طالبانو دغه نه کړي....
- د فاطمې دوی خاله ګانې پاکستان نه رانغلې سړي يې لنډې ډيري لري، که هغوی وې د زنانه و غړ به دوه برابره وو
- سړی په خپل خير او شر نه پوهيږي چې څه خير وي خدای دې هغه پيښ کړي، دا د ډوډی غم زاتي خوره
پاچا پرته له دې چې روزي خان ته څه ووايي د اشپز خواته ورغی. د سندرې غږ يې بيا تر غوږو شو. يو هلك يې ښځو ته ورولیږه چې د دايرې غږ ټيټ کړي.
د روزي خان زومان د ديګونو په سر ولاړ وو. د پاچا له غوښتنې سره سم زلمی په وره کې دريدلی و چې د کوڅې کوچنيان راپورې نه وځي . چې اشپز به په غوري کې دوه کفګيره وريجې واچولې انتظار به شو، څو د روزي خان زومان غوښه پرې کيږدي، له غوښې ايښودو وروسته به اشپز په غوري لاس تير کړ لږ نورې وريجې به يې په غوښه واچولې، ناره به يې کړه « برو بخير »
هلکانو سړيو ته وريجې چلولې، پاچا څپلی ايستلی له شنوجرابوسره د دسترخوان پرسر ولاړ و فرمايش يې ورکاوه چې غوری چيرته کيږدي، يونيم وار به يې غږ لوړ شو « دو قورمه »
د نارينه و ډوډی لا نه وه خوړل شوې چې د جمعې اذان شو . ځيني اوداسه ته سره ولټيدل، روزي خان هم له خپلوزومانو سره لمانځه ته ولاړ، چې راګرځيدل له پاچا يې د ښځو د ډوډی پوښتنه وکړه. پاچا په خندا ځواب ورکړ:
- غم يې وختي خوړل شوی

- ډوډۍ خو کمه نه شوه؟

- « د يو پنځه سوه ودونو سريښته به ما کړې وي ، نه مي ياديږي چې ډوډۍ به شکم سير نه وي رسيدلې» پاچا وټوخل، پسې ويې ويل « يو يو غوری به دغو ګاونډيانو ته وليږو، د ماسختن د پاره هم شته »

روزي خان ورته وويل:

- خير يوسې پاچا صاحب خدای پاک دې ستا او رييس صاحب سيوری له موږه نه کموي

اشپز روزي خان ته سروخوځاوه :

- ښه ځای دې دوستي کړې... قسمت دی

پاچا ورټيټ شو غوری يې اشپز ته ونيو :

- خليفه جان اوس نو دغه د زير ديګ وريجې روزي خان دوی ته وباسه ډير ستړي شو

چې وريجې يې ورته وايستې ، پاچا د نغري له شا له يوه ديګه دوه ماهيچې راواخيستې، په خندا يې د روزي خان دوی په غوري ورکيښودې .

اشپز پاچا ته وکتل بيا يې غوښې ته سترګې ونيولې، ويې ويل:

- پاچا صاحب دغه دې چيرته ايښې وه ؟

پاچا وخندل ، رييس ورغږ کړل چې موږ نور ځو

روزي خان ورمنډه کړه په تګ تګ کې يې لاسونه وڅنډل:

- خير صاحب! دستي چای تياريږي

- کمپنۍ خواته تيره اونۍ جګړه شوې وه، ناوخته تګ ښه نه دی، بس خدای دې دا دوستي بيا هم بختوره کړي

پاچا پوښتنه وکړه:

- مومن څه شو؟ رييس صاحب ځي کنه

چا ته نه و معلوم، اشپز وويل:

- زوم خو شاه دی، چيرته به پټ وي

روزي خان خپلو زومانو ته ورنارې کړې:

- هله مومن راولئ رییس صاحب ولاړ دی؟

په مومن پسې د روزي خان زومان پاڅېدل. رییس ساعت ته وکتل:

- خیر مومن جان خو به بیا وګورم زه ځم

روزي خان او پاچا ورسره روان شول، رییس د روزي خان لاس ونیو چې ونه وځي، خو روزي خان قسم وخوړ چې نه کیږي.

رییس د موټر له دننه لاس جګ کړ، روزي خان ورته ولاړ و. موټر تیز شو، ده د موټر دوړې له خپل واسکټه وڅنډلې. موټر لیکه دوړې په کوڅه کې پورته کړې، دغه دوړې لا نه وې کښیناستلې چې د مازدیګر د اذان غږ شو.

روزي خان او پاچا د جومات خواته روان شول. د شاه دوشمشیره له زیارت سره مومن له عبدالباقي سره ولاړ و. پاچا ګیله ورته وکړه، چې رییس صاحب تا ته انتظار وچې خدای پاماني وکړي .

پلار یې ورته وویل:

- واده دې وکړ لا سړی نه شوې، رییس کم درسره کړې دي

مومن څه ونه ویل. عبدالباقي دی له لاسه ونیو، دواړه د کور په خوا روان شول. مومن غلی و. عبدالباقي ورته وویل:

- په خبرو پسې سر مه ګرځوه موږ عادتا پرته له دې چې فکر وکړو څه وایو

- که ناسمه خبره څوک واوري غیر ارادي یې زړه تنګیږي

- که زړه تنګ کړو هغه خبره یا هغه کار چې خلق تنګي یې پیدا کړې هغه ورکیږي؟

مومن سر وخوځاوه:

- دې شرایطو ته ګورم دې ژوند ته ګورم دغه واده هم راباندې بار دی

- یو کار چې شوی وي هغه ته فکر مه کوه نوي اغاز ته یې چرت وهه

- په دې ټولنه کې دې واک په خپل لاس کې نه وي

عبدالباقي ودرید:

- دغه مهمه خبره ده فردي ازادي مهمه ده

مومن پر خپل واسکټ لاس تیر کړ:

- یو راته وايي چې دا دې ولې اغوستی بل راته وايي چې همدا ښه درسره ښکارې
- دغه کلتور باید بدل شي چې د خلکو په جامو، ډیرې او ویښتو کار لرو د هر چا یې خپل زړه که جامې دي هم زما دي که د اخرت غم دی هم زما خپل دی مومن ورمخته شو د کور دروازه یې پرانیسته، عبدالباقي پر وره ورننوت. نور جماعت ته تللي و، دوی دواړو ډوډۍ خوړه. مومن ته لا ډوډۍ ایښې وه چې د کور دننه ښځو ورغوښت.
عبدالباقي یوازې ناست و چې پاچا او روزي خان له جوماته راوګرځیدل. اشپز دوی ته چای ورولیږه. دوی چای څښنه چې د روزي خان لمسی راغله خپل پلار ته ورپه غوږشوه .
روزي خان ورته وویل:
- څه خو درته وايي ؟
د روزي خان زوم وخندل :
- فرمان راغلی چې ورشو
روزي خان ورته وویل: « تاسې درځئ دغه پیرې زما نه دې زده»
پاچا وویل:
« زه هم چای څښنم ستړی یم»
پورته فاطمه په سپین کمیس کې په یوه څوکۍ ناسته وه څنګ ته یې مومن په بله. د مومن خویندې او د رییس میرمن راوړاندې شوې ناوې او زوم یې سره ولټول. د ګاونډیو ښځو اهسته برو سندره شروع کړه پر ناوې او زوم یې نقل وشیندل. حسینې یې عکسونه واخیستل بیا یې کمره زرمینې ته ورکړه، مومن ته یې وویل ، په دې تور واسکټ او سپینو کالیو کې داسې ښه ښکارې ته ودریږه چې زه لږ سپیلني درته لوګی کړم . حسینې سپیلني تر مومن او ناوې جار کړل، مور یې د وره په خوله کې ناسته وه هغه یې دعکسونو لپاره راولټوله او خپلې لورته یې وویل:
- ورشه ابا ته ووایه راشه عکسونه اخلو

لاندې د جومات امام مبارکي ته راغلی و نجلۍ ورغله خپل پلار ته ورپه غوږ شوه هغه دورې هورې وکتل، امام پاڅېده ټول دوره ترخولې ورسره ولاړل د بیرته راګرځېدو په وخت پاچا روزي خان ته وویل:

- ملاصاحب مو سخت ایماندار سړی دی ته ګوره د جمعې ورځ ده غرمه نه شوای راتلای اوس په خپله مبارکي ته راغی ،کاشکي خو ډوډۍ ته اوس پاتې شوی وای.

د زرمینې مېړه وویل:

- ښه دی چې پاتې نه شو نجلۍ ته دې پام نه و چې څه یې ویل، ویل یې راځئ عکسونه واخلئ ، که ملا خبرشوی وای؟!

روزي خان تسبیح په سترګو وموښلې، ښکل یې کړې، د چای پیاله یې پر سر واړوله. ترموز ته یې لاس وروغځاوه تشه پیاله یې بیا ډکه کړه. نور یوځای د عکسونو لپاره پورته وختل.

روزي خان له اشپز سره حساب وکړ، د کراکري لوښې هم ده راوړې و. درې غورې ورک و. د هغو تاوان یې ورکړ. چې لوښې ټول شول، دی هم پورته وخوت. لونو یې دسترخوان وغوړاوه، د دسترخوان پر یوه سر یې لمپه په بل سر کې د پاچا دوی له کوره راوړی ایلکین کیښود.

کوټه رڼه شوه، وریجې لا تودې وې، خو نجونو ویل چې قورمه لږ سړه شوې ده. تر ډوډۍ وروسته پاچا له خپلې میرمنې او د رییس له ښځې سره خپل کورته ستون شو.

زرمینې کړکۍ پرانیسته، پلار یې وټوخل « لورې بنده یې ...کړه یخ مې کیږي »
هغې ورسی پورې کړه، خپلې خور حسینې ته په خندا ورپه غوږ شوه. مور یې
ورته وویل « بیا مو څه شیطانت په زړه کې دی اکونې درپسې ګرځي خو له دې
ټوکو ټکالو مو لاس وانخیست» دوی وخندل. زرمینې ورته وویل « د تاسې دا
خپله مو یادوله د رییس ښځه یوه میلمستیا خو به یې کوله»
مور یې د فاطمې کوټې ته ګوته ونیوله « له دغې سره مو دې خدای له دې
خپلوانو خلاص کړي»
زرمینې وئ کړل:
- ادې دغسې مه وایه
حسینې په ټیټ غږ ورته وویل:
- ادې وایې نه اوري که ناوې وشرمیږي څه و نه وایي هغه زوی به دې خپه شي
- لورې څه به درته ووایم
روزي خان له څنګ لورې کوټې پرې غږ کړل:
- حسینې ګلې ته راشه د کندز کیسې مو سمې ونه کړې
- ابا بس هرې خواته زور د زورورو دی دا د تاسې مځکه چې مو ګرووله له دې
قوماندانو سره دا سړي په جنجال اخته و، د کلي خلکو خو نه پرېښودو ویل یې
مه یې ګیرووئ بیا به یې نه خلاصوي
مور یې ورته وویل:« ښه ده نو لورې چې لږ مو ګیرو کړې ده...» ښځه وچې
غاړې واخیسته. لور یې اوبه ورته کېښودې. دې سر ورته وخوځاوه، ګیلاس یې
په سرواړاوه:
- خیر یوسئ په دې واده کې مو پرده وشوه د غم واده یې کړې
زرمینې غږ ټیټ کړ:

- ادې خدای ته وګورئ د کبر خبر مو راخیستې دي ابا هم دغسې غبرېږي او تا خو بیخي خوله خلاصه کړې، نام خدا داسې جراره ورېندار مو ده
مور یې یوه خوا بلې خوا وزنګیده:
- هغه خو ده خو..
مومن له کوټې راووت، سترګې یې وموښلې:
- خورې چای خو رادم کړه
مور یې ورته وویل:
- هغه وړاندینۍ به دې تر کله په ستر وي، خو هغې ته ووایه
زرمینه اوچته پاڅیده:
- وئ ادې څه کوې یو میاشت خو کار مه پرې کوئ
- بس دی به څټ یې نوره مه راکښینوئ
حسینې ورته وویل:
- چې میاشت یې پوره کیده بیا یې په چل په کار راولئ
مور یې ورته وویل:
- څرنګه چل؟
حسینې ټکري پر سر سم کړ:
- « لوښي کودي به یوه ورځ ککړ پرېږدو، جارو به هم نه کوو، ټوله به دغه نژدې زیارت ته ولاړشو، ورېندار به نه وړو چې راشو خپله به یې هرڅه سم کړي وي زاتي به روږدې شي»
ټولو وخندل، مومن ورته وویل:
- د تاسې د کندز تر تګ مخکې راځئ دا چل وکړو چې څه کیږي
حسینې ورته وویل:
- درې شپې مو نورې دي، بیا خو نو ځو
مومن ورته وویل:
-کاشکي نه تلی لارې ډېرې خرابې دي
- ښځو ته څوک څه نه وایي نارینه و ته تګ سخته دی

مور یې مومن ته وکتل:

- ته به دې هغه ږنګ دفتر ته کله ځې؟

مومن غزونې وکړې:

- یو اته ورځې مې لا رخصتي شته.

حسینې ورته وویل:

- کاشکي دې رخصتي اوږده کړې هغه سپین مخ دې له کاره داسې تک تور شوی

په دروازې کې د بایسکل د زنګ ګړنجا شوه. مومن له پورته ورته وکتل: «پاچا صاحب دی».

دروازه چې یې ورته خلاصه کړه پاچا غلی و. روزي خان ورته وویل، پاچا صاحب خیریت دی بې چرته ښکارې

- هغه د مومن ملګری نه دی استاد عبدالباقي، ماین وهلی

مومن اخ کړل:

- چیري ي ي...ژوندی دی؟؟

- هو، پیښور ته یې رسولی رییس صاحب خپله ورسره تللی، په میدان ښار کې ماین پرې چاودلی

مومن څه څه څه وکړل:

- هغه خو داسې تکړه و ټولو به ویل چې ماین په بوی پیژني

پاچا وویل:

- رییس صاحب هم دغه خبره کوله خو رییس صاحب په چرت کې دی چې دا کار چا کړی

روزي خان وټوخل:

- قصدا به نو د چا څه مخ تور و

مومن خپل ویښته په موټ کې ونیول:

- خلک ورسره ښه نه و، بدبخته ته مې ویل چې له خولې سره پام کوه دا خلک ستا په خبرو نه پوهیږي خو بس د خدای پاک کارونه دي چې نصیب دې څه وي نه بدلیږي.

د تینچرو بوي ته. د عبدالباقي شاته بستره وه، پر پښو یې څادر خپور و. رییس پرلتۍ وهلې وه، سګریټ یې څکاوه، یوه پښه یې ورو ورو خوځوله. عبدالباقي اخ کړل، رییس اوچت ورپاڅید بالښت یې ورته سم کړ. مومن یې پر غوڅه شوې پښه څادر سم کړ، راپه شا شو خپلې اوښکې یې پاکې کړې.

د عبدالباقي چې له درده سترګې سره ورغلې وې، وې ویل:

- غم کمال نه دی خوشالي پیدا کول کمال دی

رییس سګریټ کش کړ، مومن ورو وویل:

- غم ارادي نه دی

عبدالباقي سر وخوځاوه: « لیکن کمیدل یې ارادي دي، زه چې په اوله کې په پیښور کې په هوښ راغلم یوه لاس ته مې وکتل چې قطع دی... پښې ته مې وکتل... چې قطع ده نو حیرانه شوم....»

مومن او رییس څیر څیر عبدالباقي ته کتل، هغه لنډه لنډه ساه اخیسته بیا یې وویل « ښئ پښه مې هم بې حسه ...راته معلومه شوه...چرت مې ډیر خراب شو... ومې کتل دا بله پښه خو بیخي نه شته نو لکه ضعف چې راباندې راشي.... » عبدالباقي سترګې پټې کړې بیا یې وویل « لږ څنډ وروسته مې ځان قانع کړ چې ژوند دی.... دغه قناعت دا دی تر ننه له هغه ډیر خپګانه ایستلی یم»

رییس ورته وویل:

- دا کار همت غواړي موږ کاشکي ستا په رنګ همت لرلی

عبدالباقي وویل:

- که راتلونکې ته وګورو او په تیر کې ځان ایسار نه کړو.... په هغه تیر... کې چې.. هیڅ شي بدلون پکې نه شي راوستی... بیا دا همت ...هرڅوک لرلی شي

مومن سړه ساه وایسته، عبدالباقي پر خوله څادر لږ ورکش کړ، چت ته یې وکتل بیا یې ورو ورو وټوخل. مومن له جګه په ګیلاس کې اوبه واچولې، د عبدالباقي خولې ته یې ونیولې، هغه سر وخوځاوه، بیا یې ساه نیولې ساه نیولې وویل:« په غم پسې... موږ نه ورځو.... په خوشالي... پسې ځو... غم په خپله راځي....مرګی خپله راشي.... واده چې خوشالي ده موږ ورځو» عبدالباقي سترګې پټې کړې بیا یې وویل « یو...یو...یو ماین پاک دی.... چې غم ته... له...له مجبوریته ورځي»

په کوټه کې د مچ بنا شوه. دوی سترګې پسې واړولې، مچ نه ښکاریده. مومن له عبدالباقي پوښتنه وکړه:

- تا ته خو ټولو ویل چې تر خاورو لاندې دې سترګې ویني، څرنګه دې ماین ته نه پام کیدل؟ د ماین ساحه خو په میدان ښار کې...

رییس یې خبره ورپرې کړه:

- هغه بدبخته کسان چې دا ماینونه ږدي څرنګه زړونه لري؟!

عبدالباقي سړه ساه وایسته:

- د دین په نوم چې ته بل څوک وژنې څرنګه ځانته جواز ورکوي، څرنګه دا حق ورکوې چې زه تر تا په دین ښه پوهیږم دین خو په زړه یا ذهن کې وی ته د بل له دینه څه خبریږې

مومن ورته وویل:

- استاده البته له اعمالو خو ښکاري

- که څوک ظاهري هرڅه په دین برابروي نو بیا د ریا مساله څه شوه؟ رحمان بابا وایي:

« د ریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار ترلی قلندر دی »

رییس مومن ته اشاره وکړه چې د عبدالباقي شاته ډډه سمه کړي. مومن ورولټید، بالښت سم و، رییس ته یې وکتل. هغه د سګریټ بیخ په ورته ایښې ایروني کې ټنګ کړ. د مړه سګریټ لیکه لوګی پورته شو، عبدالباقي ته یې وکتل:

- بس خدای دې ښه کړه نور زه او مومن ځو ته ارام وکړه.

د وره له پورې کیدو سره رییس مومن ته وویل:

- دغه پوښتنه له عبدالباقي مه کوه چې ماین ته دې څرنګه نه و پام زه ډاډه یم چې دا دسیسه ده، خو دا خبره پولیس سپینولی شي چې شواهد وګوري، د ماین ډول تشخیص کړي او تحقیقات وکړي، خو غضب زموږ پولیسي هم ملایان کوي

د مومن سترګې رډې رډې راوختې، لاړې یې تیرې کړې:

- رییس صاحب بیا هم عریضه نه ده پکار

رییس سر وخوځاوه:

- د عبدالباقي ژوند خو تباه شو بس دومره به وکړم چې هند ته به یې د موسسې له خوا ولیږم څکه چې اوس یې هم د دوهمې پښې د قطع کیدو ویره شته، د ښې پښې زخم یې سم نه دی وچ شوی، خو که قضیه رابرسیره کړم موسسه خرابیږي.

فاطمې د تیکري پیڅکه تاووله، شونډې یې بوڅې نیولې وې. مومن ورپورې کړ، فاطمې ورته وویل:

- زه هم پیښور ته ځمه

- ادې اوابا به ناست وي ته به د لالا مخې ته ورځې ؟!

فاطمې سر ځوړند کړ، په ټیټ غږ یې وویل:

- ادې وايي که دې ماشوم و نه شو زوی مې په تا نه کینوم

- ادې سم وايي، واده د څه لپاره ځوک کوي؟!

- ته هم دغه وايې؟!

- ادې ته ما دغه د واده خبره کړې

فاطمې په ژړغوني غږ وویل:

- پیښور کې به ډاکټر ته ځان ښکاره کړم

- دلته چې ډاکټر ته ورغلې درته ویې ویل چې ته سمه یې نو پیښور ته څه کوې

- هلته که هم ډاکټر وايي زه سمه یم بیا به ستا علاج وکړم

مومن د شهادت ګوته پورته ونیوله :

- والله که خو به ځان ښکاره کړم

- نه زه ځم که پیسې نه وي پلار نه مې اخلم

- کراره کښینه خلکوته به څه وایم چې دا مې څه ته راپه مخه کړې

فاطمې ټینګار وکړ، مومن په تروه تنده ورته وویل :

- درته وایم چې شله کیږه مه

- کیږمه، له خبرو مې ځوک نه شي ګرځولی

- چې دغسې ده والله که قدم واخلې

د فاطمې په سترګو کې اوښکې ورغړیدې، مومن شا ورواړوله. بالښت یې پر خپل سر کیښود. فاطمې پر پلو اوښکې وچې کړې.

مومن ته خوب ورغی، خو د سلګیو په غږ راویښ شو. غوږ یې ونیو، بالښت یې لرې کړ. فاطمه یې څنګ ته ناسته وه دیوال ته یې ډډه وهلې وه، ژړل یې.

مومن ټیله کړه:

- ویده شه، له خوبه مې مه باسه؟

فاطمې څه ونه ویل، مومن پړمخ پریوت، خوب نه ورته، بیا یې سر تربالښت لاندې کړ یووخت چې یې سترګې پرانیستې رڼا شوې وه. له کوټې راووت.

پلار ورته وویل :

- یو دوه ورځې مخته لاپیښور ته ولاړ شه بې خیره خلک دي ، سلطان به راغلی وي خبر به یې لا څوک نه کړي چې موږخو راکډه شوي یوو» روزي خان وټوخل :«زړه مې کله ناکله راته وایي چې بیا به د تیرکال پیره وکړي خط به راولیږي رابه نه شي»

مومن خوبولې سترګې وموښلې:

- که مې نن رخصت واخیست سبا ته نه ګورم

مور یې غړی ورنژدې کړه :

- شنډې ناولې دې نن بیا لکه چې لمونځ و نه کړ

مومن لستوني وربروهل بدنی یې ډکه کړه ، لاس و مخ ته یې اوبه واچولې. چې کوټې ته ورغی. فاطمې بیا ترې وغوښتل چې پاکستان ته دې ورسره بوځي ، مومن نه منله. دې ویل چې دغسې ده زه په خپله ځم. مومن غاښونه ورته وچیچل، هغې چیغه کړه، خوابښې یې په منډه کوټې ته ورغله :

- څه ټکه مه شه ټکه پرې وته ؟

فاطمې ژړل، مومن څه نه ویل، موریې فاطمې ته وکتل سریې وخوځاوه، مومن یې ترلاس ونیو :

- راځه زویه راوځه

فاطمې له شا پسې وويل «تول ستا د لاس نه» مومن د مور لاس خوشي کړ، ورمنډه يې کړه، په لوړ غږ يې وويل:
-چوپ شه
مور يې مومن ورکش کړ، ليلا د فاطمې مخې ته ودريده، مومن هغه پورې وهله، سورکنده له کوټې ووت. په زينو کې پلار ورته وويل:
- خيريت ؟!
مومن شا ته وکتل پلاريې د فاطمې د ژړا له اوريدو سره پر زينو چټک شو.
د فاطمې په غاړه کې ټيکری پروت و، ليلا ورته ناسته وه، خوابنې يې فاطمې ته زغونځيده. فاطمې په سلګو سلګو کې ويل زه ناروغه يم خلک شيطانياني کوي.
د روزي خان له ورتګ سره ليلا پاځيده ټيکرى يې سم کړ، فاطمې په پلو پوزه پاکه کړه:
- دغه زما د پلار د برکت نه معاش خور ما نه منع کړئ
روزي خان خپلې ښځې ته وکتل بيا نږور ته ځيرشو:
- څه خبره ده ؟
فاطمې خپلې خوابنې ته لاس ونيو:
- دغه دغه زما د پلار ميراث خور له خوشې خوشې شيطاني کوي
خوابنې يې په غريو نيولي غږ وويل:
- وی ! دا تيرتيکه ژبه دې ودريږه، غلې شه، کوڅه دې راوغږوله
- «نوره نه غلې کيږمه» سوړتک يې شو «يو کال غلې کيناستم»
خسر يې ورته وويل :
- څه وايې څه وکړو ؟
- زه هم پيښور ته ځم ناروغه يم هغه بل ځلي هم نه لاړم
- ښه ته مه ژاړه زه دې پيښور ته ليږم
د روزي خان ميرمنې خپل سرته لاس ونيو:
- دغه هم په غوږکې ورکړه نور يې هم په سرراکښينوه

د فاطمې سونګټ شو. خوابښې یې په ژړغوني غږ وویل:
- چې ته پیښور ته ځې زه ولې نه ځم هلته مې ځوان زوی تر خاورو لاندې دی
میړه یې اف کړل، وتوخیده، لیلا ته یې وکتل:
- یوه پیاله چای رادم کړه
د لیلا خوابښې وپوړیده، دې دستي ګولی راواخیسته د خوابښې تر ژبې لاندې یې کیښوده. روزي خان د خپلې میرمنې پر سر ورکړوپ شو. لاس یې خولې ته ونیو چې ټول غلي شي.
« کاسه شکسته، پیاله شکسته دارن بیارن جور میکنیم، کاسه شکسته، پیاله شکسته...»
له کوځې نه دغه غږ د روزي خان د تسبیح د دانو تیریدو ماتاوه نور چا څه نه ویل، په کور کې غلې ورځ وه. فاطمه د خپل خسر مخې ته ودریده، هغه تسبیح د چای له پیالې سره کیښودې دې ته یې وکتل، چې چادري یې پرسروه. فاطمې ورته وویل :
- د دادا کورته مې ځم
- چې مومن راشي درسره ولاړ به شي
- هغه به ماښام بیا ناوخته راځي، هغه وخت کله تلی شوو
روزي خان په ستمي پتو ته لاس کړ:
- ته هغه د بایسکل ټیروګوره پنچچر خو نه دی ؟
له دالانه فاطمې ورغږ کړل:
- هوا یې لږه شانتې کمه ده
روزي خان بغور له هوا ډک کړل، سر یې وخوځاوه. پټو یې ورواخیست.
فاطمې ته یې په ټیټ غږ وویل:
- هغه د سلطان مور به راویښه شي
فاطمې پر خوله لاس کیښود وروځې یې کش کړې. روزي خان د بایسکل شاتنی ټیر په ګوتو ټینګ کړ :
- راځه اوس ته د پښوا غوندې پهلوانه نه یې چې کم هوا ټیر دې یونه سي.

فاطمه له روزي خان سره په بایسکل قنجوغه شوه. روزي خان لنډه لنډه ساه اخیسته، دې ته یې ویل:
- گوره چې د کور.. د نني جنگ کیسه.. پلار ته تیره نه کړي..خپله لمن په.. سروانه ړوي ..هغه به وايي دا ...هر وار ...د دوی په کور کې ...دغسې رسوایی وي..بیا به یې ...تا ته سودا وي...د پلار په زړه خو ...ته ..نه ...سمه ..به ....خبره نه یې..
- هر وخت ادې همداسې کوي ته وايې څه مه ورته وایه زه هم ستا سترگو ته گورم اوس ما په غوږ وهي، داسې پیغورونه راکوي چې زه یې ویلی نه شم
- چې هره ..خبر.. یې .. ماته یې کوه...مقصد د پلار کور دې مه خبروه پوه شوې لورې..
- دا اوس زه ناروغه یم وایم پیښور ته ځم پلارونیکه نه مې تیره شوه
- پیښور..ته ..ولاړه ...شه .
فاطمې ځان په قنجوغې کې سم کړ.
روزي خان په وارخطایي وویل:
- پام پام ..بایسکل دې غورځولی... و...څه کوې..
د پاچا دوی کورته نژدې روزي خان له دې وغوښتل چې له بایسکله ښکته شي:
- دوه شپې مو ورسره تیرې کړې دي بیا به داخلک وايي اوس دومره عصري شول چې ښځې په بایسکلو گرځوي
- ابا! وايي به ټیم ورکوي
روزي خان په ړیره باندې لاس تیرکړ:
- زوړ شوم خو په دې ټیم پوه نه شوم
فاطمې وخندل. روزي خان له بلاک سره بایسکل تم کړ، فاطمې ته یې وویل، ته وگوره چې پلار دې شته که نه. فاطمې چادري ورپورته کړه، چټکه چټکه وخته. له کړکۍ یې ورنارې کړې« ابا! دادا بهر تلی»
روزي خان لاس ورته وخوځاوه په بایسکل یې پښه واړوله. بایسکل کش نه کاوه، شاته یې وکتل، نژدې و چې وییل پر مځکه ولگیږي، نو راکوز شو.

ورو ورو یې بایسکل ورسره کرښاوه، د سړک غاړې ته باسیکل ساز ته ودرید.
هغه د یوه بل بایسکل ټیوب په اوبو کې نیولی و. ده ته یې ترکونې لاندې کړې
دړه ورټیله کړه چې پرې کښینې.
روزي خان نسوار خولې ته کړل. بایسکل ساز ورته وویل:
- کاکا په څه چورتونو کې یې؟
- په ایران کې مو څوک شته؟
- د ماما زوي مې..ډیر پخوا تللی و
روزي خان دړه رامخته کړه:
- حال یې لرئ؟
- تازه احوال یې نه لرم
- زوی مې... په ایران کې دی. ډیر وخت وشو چې حال احوال یې نه راځي،
ایران ته څوک تلی شي؟
- زما یو بایپار دی هر وخت سلام علیک ته راځي، دا څو وخته وشو چې نه
ښکاري هغه ډیر وخت په ایران کې تیر کړی، خپل خپلوان یې هلته دي
- ته والله که یې نه راسره مخامخوي. دغه شاه دوشمیره سره په جوي شیر کې
مې کور دی.
بایسکل ساز د روزي خان د بایسکل ټیوب په اوبو کې ونیو. په اوبو کې پوکنۍ
راپورته شوې. بایسکل ساز ټیوب واړاوه:
- کاکا سم دې پنچر کړی درې ځایه او دا یو ځای یې ټیوب لږ ډیر وهلی
روزي خان نسوار خولې ته کړل:
- دغه ستا د ایران بایپار به څه وخت راشي؟
بایسکل ساز د ټیوب پر بیلې کړې ټوټې سرښ ووهل، ورپو یې کړل، ویې ویل:
- کاکا دلته احوال اخله دا نفر د سهار له خوا راځي
- خامخا راځئ
بایسکل ساز د بایسکل پر زین لاس کیښود. ورځه له خیره. روزي خان بایسکل
ونیو، بیا یې پوښتنه وکړه:

- دغه د ایران سړی به سبا راشي
- دا څو ورځې نه دی راغلی کیدای شي چې سبا راښکاره شي
روزي خان پر بایسکل پښه واړوله. بایسکل لږ هسک ورته ښکاره شو، جمپونه یې کول. چې د اپارتمان پر زینو یې بایسکل خېژاوه ستمی یې شو. ښځې یې مول وهلی و جارو یې کاوه. ده پوښتنه پرې وکړه:
- ښه شوې؟
هغې څه ونیول. ده تسبیح ورواخیستې. له وظیفې سره زنګیده. میرمن یې ورته ودریده لکه څه چې ورته وایي. ده ورته وکتل بیرته یې تسبیح ته سترګې ونیولې، شونډې یې له وظیفې سره تیزې تیزې وخوځولې. ښځه یې لا ولاړه وه. ده خپلې تسبیح اړولې، د تسبیح دانې چې اخرته ورسیدې په سترګو یې وموښلې، ښکل یې کړې، میرمنې ته یې وویل:
- ښه شوې؟
- شنډه دې دحضرت صاحب کورته ورسوله ؟
- خدای ته وګوره دغه ایرغندې تیرغندې خبرې مه کوه
- زه نوره غلې نه کښینمه، بس ده ډیره دې په څټ راسپره کړه
- عقل خدای درباندې درولی، د شنډې پیغور ورکوی که یې سبا پلار ته وویل
- څه ټکه به راپریوځي؟!
روزي خان په ږیره لاس تیرکړ:
- دغه دې په سپي ولاړه وي که یې زوی بیکاره په کور درته نه کښیناوه
- خدای روزي رسانه دی چې هروخت دغه بیشرمي کوي ته دغه خبره کوې چې دا د تورو بنګړی پاچا دې نه و تردې مو ښه خوړه او ښه بسیا و.
روزي خان اوف وکړ، پاڅیده. څادر ته یې لاس وراوږد کړ. بهر ولاړ. په کوڅه کې ماشومانو لوبې کولې. دی پرې تیر شو. د شاه دوشمشیره له زیارت سره ودرید، دعا ته یې لاسونه پورته کړل.
د فاطمې خپل خسر ته ورپام شول د رییس کشری زوي یې ترچادري لاندې پټ کړ د هغه مور ته یې وویل:

- دی به د څه دعا ته راغلی وي؟!

د رییس ښځې یې چادري وروځنډله :

- غېږدې ورو کړه چې پام یې نه شي له پښو نه به دې وپیژني

- چادري ته مې نه ګورې ډېره اوږده ده پښې پکې نه ښکاري

روزي خان د کوترو خواته تیر شو د سیند پر ژی کښیناست، لاندې په سیند کې یوه ویاله اوبه کړې وړې بهیدې. ده دواړه سترګې ورته نیولې وې چې بر شو د شنو او سپینو کوترو سیل په هوا شو، روزي خان د سترګو پر سر لاس ونیو سیل ته یې وکتل. دی لا د زیارت د دیواله شاته نه و پناه شوی چې فاطمه او ترور بې د زیارت په خوا ورچتکې شوې. فاطمې د زیارت د احاطې پر دیواله لاس په منډه تیرکړ، دننه مینجور ناست و فاطمې چادري پورته کړه، پنځه سوه روپۍ یې د ملنګ خواته ورواچولې، ورته ویې ویل:

- خیرات زیارت یک دعای اولاد کوو

مینجور راووت یوخوا بل خوا یې وکتل:

- اې سی کو، طرفای پیشین امربالمعروف ایقه نیست خانه اغا صاحب برین که تعویذه برایتان نوشته کنم

د رییس ښځې ورته وویل:

- خانه کجاست؟

مینجور د زیارت شاته د جوي شیر خواته لاس ونیو:

- دی ای کوچه دروازه اهني سبز

روزي خان لنډ راوګرځید، د فاطمې سترګې پرې ولګیدې، ژر یې چادري ټیټه کړه. پوزه یې د چادري د جالی شاته نیغه ښکاره شوه. مینجور هم په شا شو. د رییس ښځې خپل زوی تر چادري لاندې کړ، هغه نارې کړې. روزي خان د دوی لور ته وکتل. بیرته یې مخ واړاوه د خپل کور په خوا روان شو.

د رییس ښځې خپل زوی له چادري رابهر کړ، هغه ژړل. فاطمې ورته وویل:

- لکه چې پوه شو

- نه څه پوهیږي

- خو راته ويې کتل د هلک غبر يې هم واوريدو
- هلک چې چيغه کړه پام دې نه و د طالبانو موټر تيز تير شو د هغه ترانې ته يې وکتل
فاطمې شکر وايست. د رييس ميرمنې خپل زوی له لاسه کش کړ. له سړکه واوښتل.

لیلا د لمپې شیشه پاکوله. مجاهد رامنډه کړه که نیکه لاس نه وای وراچولی پړ مخې به پر لمپې ورلویدلی و، خو بیا هم لمپه کړه شوه، لړ تیل یې وبهیدل. کوټه د خاور د تیلو بوی په سر واخیسته. د لیلا خواښې پوزې ته لاس ونیو. مجاهد غلی د کوټې په کونج کې ودرید. د دروازې ټکا شوه. روزي خان ورپرانیست. مومن و. په زینو کې یې مخ نه ښکاریده، خو لمپې ته یې لا مخ له دوړو داسې سپره و چې ورروځې یې لا سپینې شوې وې.

مور یې ورته وویل:

- والله که به مې څوک راغږوي، چې ته هم د خدای بنیادم یې که نه اې؟؟

مومن ورته وویل:

- ادې خیر دی څه شوي؟

- شنډې دې په خپل سر د پلار په کور دغه ده شپې ته هم پاتې شوه

- دغه دې لورې شي بلا مې ورپسې که دغسې ترې خلاص شوم خیرات به وکړم .

پلار یې دواړو ته وکتل، سریې وخوځاوه :

- واه واه ډیر ښه ښکاریږئ

مومن مور ته مخ ورواړاوه هغې په خپل سر ټیکری سم کړ، له کوټې ووته. مومن جرابې له پښو وایستې بوی یې کړې، پوزه یې سونګی کړه، غږ یې کړ« دا جرابې به راته پرې منځئ »

د مور یې په دالانه کې غږ شو:

- مجاهده!

هلک راډیو ټیله کړه، نیکه ته یې ورمنډه کړه. مومن پلار ته وویل:

- ابا نوې راډیو ده درخرابوي یې

روزي خان د اوداسه لپاره لستوني وربروهل:
- مې کوه داسې ښه پرې لګیا و
مومن ته یې مور وویل:
- زویه که دې دا پلار و شنډه به خدای په څټ درکښنوي عجبه ښه دې لږ راښکته کړې
- ادې لږ ورو
- پلار دې جومات ته ولاړ
- ابا مې د پاچا سترګو ته ګوري
- زویه دغه کوډګر خو دې د پلار سترګې داسې ورپټې کړې دي چې رڼولی یې نه شي
- ته ودریږه دا وار چې راغله سبق به ورکړم
- خدای دې درباندې ودروي، که به مې ورځ یادیږي چې دې به په زړه وینې نه وي رااړولي دغه سلطان ګل ته ګورم زه خو دې په دې شنډې ږیره نه درسپینوم .
- ادې ته هروخت وایې خو ډېره نه سره کوې؟
- د ښادی شې د څه شي ډېره؟!
مومن وخندل:
- ادې مورږ چې ښخ شوي ماینونه باسو اول یې شاوخوا ډېرې په رنګ سرې کوو، پوه شوې؟
- پلار دې نه دی، کوډګر یې سترګې ورپټې کړې دي، نه مې پریږدي .
دروازه کله کله وټکیده، مومن ورووت، پلار یې و ژامې یې پوړیدې. کمپله یې پرې واچوله. مومن ورته ویل:
- داسې تبه دې ده لکه ملریا
پلاریې په ریږدیدلې غږ ځواب ورکړ:
- په په په هاغه لمانځه پوه نه شوم ...چې چې چې څو رکعته مې وکړل.
سهارد چای په وخت مومن ته مور وویل:

- هغه ښځه دې راوله، پلار دې دغسې په غبرګو کنځړانو کې پټ دی ته په شنه خړه ووځې ماښام راځې، که یوشي له دې نژدې دوکانه پکار شي راخوبه یې وړي
- ادې خدای ته وګورئ په سودا پسې یې ژاتي مه لیږئ ، سبا به طالبانو په درو وهلې وي دغه یې لا بل شرم
مور یې غاښونه وچیچل په موټ یې د بل لاس رغوی وواهه:
- مې کوه..
روزي خان مخ لوڅ کړ ویې ټوخل :
- فاطمه ګله زښته ښه سودا راوړي
میرمنې یې سروښوراوه . دباندې دبایسکل د زنګ کړنګا شوه ، لیلا وویل:
- داسې زنګ شرنګیږي لکه د پاچا صاحب
مومن له ورسی وکتل، پاچا و، فاطمه یې راوستې وه .
پاچا چې روزي خان ته لاس ورکړ، ورته ویې ویل :
- اوهوهو داسې تبه دې ده
روزي خان وټوخل:
- ټوله شپه مې په زړه یخ راننوتی و او ټوخه ټوخه
پاچا فاطمې ته وویل:
- ته لږ هغه د ګوړې جوشانده ورته تیاره کړه ، کورکمن مورکمن شته ؟
- دادا تیاره جوشانده لرم
پاچا وخندل مومن ته یې وکتل :
- پریشانه ښکارې، دفتر ته لا نه یې تللی
- د ابا لپاره لږ ایسار شوم اوس ځم
- داسې تبه نه ده که مازدیګر ته ښه نه و زه به راشم ډاکټر ته به یې بوځم.
لیلا د روزي خان څټ ته لاس ونیو، په بل لاس یې د جوشاندې ګیلاس د هغه خولې ته ورنژدې کړ. روزي خان ټوخیده، خو په څو دمې یې جوشانده تیره کړه.

پاچا د خپلې لور پر سر لاس کیښود:
-که ښه شو تر لمانځه وروسته بله جوشانده ورته تیاره کړه
روزي خان سر پټ کړ. پاچا غلی روان شو. د هغه له تګ وروسته یې لور خپلې کوټې ته ولاړه، څادري بکس یې پرانیست. د بکس له کونجه یې د لس زرو دوه نوټه وروا خیستل په خپل واسکټ کې یې کیښودل. په دالانه کې یې مجاهد له لاسه ونیو. راځه چې سودا راوړو. هلک په ټوپونو شو. دې د خواښې د کوټې د پردې ژی جګه کړه، لیلا ته یې وویل:
- د جوشاندې لپاره له دې نژدې دوکانه لږ کورکمن راوړم
لیلا ورته وویل:
- پیاز هم نه شته که غوښه راوړې ښورا به یې کړو
خواښې یې پرته وه، ټیکری یې له مخه لرې کړ، دې ته یې وکتل، وکتل بیرته یې مخ پټ کړ.
مجاهد د فاطمې لاس کش کړ. دا کړه شوه، په شا یې ګام کیښود:
-اوف خو اوس لویدلې وم
په کوڅه کې یې یو خوا بل خوا کتل چې شنه دروازه پیدا کړي. د دوی له کوره شپږ کوره پورته د یوه کور ور شین رنګیدلی و، همهغسې شین و او څادري و لکه د زیارت ملنګ چې ورته ویلي و.
دروازې ته ودریده. لاس یې له چادري راوایست چې ویې ډبوي خو مجاهد کش کړه چې دوکان ته یې یوسي. دې هم ګامونه چټک کړل. له دوکانه یې لږ کورکمن او مجاهد ته یې پاړپړ واخیستل.
کورته د بیرته ګرځیدو په وخت یې پام شول چې شنه دروازه پرانیستې ده، دا هم ورننوته. یو ځوان ږیرور په برنډه کې لمر ته ناست و. دې ته یې سر وخوځاوه:
- بیا بخیر امدي
فاطمې، مجاهد ته وکتل هغه پاړپړ خولې ته نیولی و. دې په حویلی کې سرې چرګې ته ګوته ونیوله:
- ورشه هغه چرګه وګوره

مجاهد ورمنډه کړه. فاطمې دې سړي ته وویل:
- د زیارت ملنګ ستاسو ادرس راکړ چې تعویذ ورکوئ
ږیرور خپلې مخې ته ایښې زیړ کتاب پرانیست. پر کتاب یې خپړ کیښوده:
- که چاشت غواړي هم یې درکوم، که تعویذ غواړي هم
- زما اولاد نه کیږي
اغا صاحب مجاهد ته اشاره وکړه:
- دا د چا دی
- دی مې د لیوره زوی دی
- څو کلنه یې
فاطمې ورو وویل:
- شل
- زه به چاشتونه درکړم ته شکر څوانه جانه یې په دې چاشتو د اولیاو په برکت زړې ښځې امیدواره شوي
ځوان د فاطمې د چادري جالۍ ته ځیر شو. فاطمې مجاهد ته ورغږ کړل. تعویذ ګر د زیړ کتاب له لاندې اوږدې پاڼې راواخیستې، یو ځل یې غبرګې کړې، بیا یې ونغښتې، بل ځل یې بیا ژۍ ورواړولې:
- دا دوه چاشتونه د ورځې یو دا نه خپل میړه ته ورکړه که دې فکر وکړ چې کار کیږي بیا یو دوه نور همداسې چاشتونه درکوم که یې کار ونه کړ بیا سخت چاشتونه درکوم بیخي بیغمه اوسه
مجاهد دې ته رامنډه کړه. دې له لاسه ونیو. اغا صاحب ورته وویل:
- ګوره دا چاشتونه خلاص نه کړې چې سخته ګناه لري
فاطمې چادرې لږ پورته کړه، چاشتونه یې په پلو پورې غوټه کړو. اغا صاحب خپله ږیره په موټ کې ونیوله:
- بیا خامخا راشه که دې په یو دوو میاشتو کې کار ونه شو دغه ږیره دې په سپې ولاړه وي. فاطمې د کور د وره په خوله کې یو خوا بل خوا وکتل، څوک نه و، په منډه له دروازې ووته. له درملتونه یې د تبې ګولۍ واخیستې، د درملتون له

مخې یې د ترکاري له ولاړې کراچۍ لږ پیاز او کچالو رانیول او له قصابه یې یو کیلو غوښه وپیرله.
په کور کې یې روزي خان د سودا صفت وکړ، ویې ویل « دما غم خو یې لا خوړلی» خوابښې یې چې غوښه ټوټه کوله زغونځیده ، کاسه یې میړه ته ورنژدې کړه، د کاسې پرسر هډوکي او بړز یې پورته ونیول :
- په دغو ژبه ټکوې .
فاطمې کاسه ترې کش کړه ، د کاسې له لاندې یې غوښه رابرسیره کړه ورته ویې ویل:
- په دغومره سرخي کې خو دغه لږ هډوکي وي .
روزي خان سر وخوځاوه ، میرمن یې وزنګیده، له کوټې ووته. فاطمې خپل خسر ته اوبه راوړې چې د تبې ګولۍ وخوري. بیا خپلې کوټې ته ولاړه د توشک له لاندې یې چاشتونه راوایستل. بیرته یې ښه د دیوال لور ته ټیله کړل.
ماسختن چې مومن راغی فاطمې وار ته کتل چې ترڅه منځ په اوبو کې چاشت ورکړي ، هغه خبرې نه ورسره کولې. د ویدیدو په وخت دې لاړې تیرې کړې یو غوړپ اوبه یې وڅکلې، ګیلاس یې مومن ته ونیو :
- تږی نه یې ؟
مومن شا وروا ړوله. دې بیا ورو وویل:
- زه خو داسې تږې یم ته اوبه نه څښې ؟
مومن بړستن په سر ورکش کړه، فاطمې د اوبو ګیلاس سرته کیښود. په کوڅې کې چیغې شوې، د برقونو راتګ ته خوشالي وه، د کوټې څراغ بل شو مومن مخ لوڅ کړ ، فاطمه ولټیده ګروپ یې مړ کړ، مومن ته یې په تیاره کې ګیلاس ونیو:
- او ناخواسته مراد اس
- پرې مې ږده چې ویده شم ، تا ته خو زما کار نه معلومیږي .
فاطمې چې له خپل مخه بړستن لرې کړ، رڼا شوې وه ، ګیلاس ته یې وکتل ډک ایښی و. مومن وتلی و .
ماسپښین دې مجاهد ته ورو وویل:

- بم بم کیک درته واخلم

مجاهد منډه کړه بیرته د دې مخې ته ودرید، دې ورته وویل:

- ورشه ابا ته ووایه ځم

مجاهد منډه کړه، نیکه ته یې وویل :

- بازارکې بم بم خورم

- زویه زه خو ناجوړیم .

مجاهد په ژړا وویل:

- بم بم خورم

لیلا ورته وویل:

- کرار کښینه هره ورځ خو ځوک بازارته نه ځي .

مجاهد له کوټې ووت، فاطمې روزي خان ته وویل :

- ابا که ښه شوی نه یې نورې ګولۍ به درته راوړم

- خیریوسې هغه پاکټ لا راته ایښی دی

- مخکې راغلمه داسې دروند ویده وې

- « د تبې خوبونه دي ، کندز مې په خوب لید حسینه او زرمینه ګوره کابل ګوره هغه د حسینې لورکۍ به اوس لږ غټکۍ شوې وي هغه مې هم لیده چې چقماق لوبه کوي»

روزي خان په ځلمځي کې نسوار تو کړل:

-بیا مې پاچا صاحب په خوب لید له ما خپه وي

دې ورته وویل:

- ما هم دادا خوب کې لیده ، په ګرده تیاره کوټه کې ناست وي، داسې مې سودا شوه کاشکې هغه ورځ نه وای ورغلې نن به مې حال اخیستی و

روزي خان وټوخیده :

- پاچا صاحب به اوس راشي پرون خو یې ویل سبا ته به دې حال واخلم

په کوځه کې د بایسکل د زنګ شرنګې شو، فاطمې له ورسۍ سر ورهسک کړ :

- راغلو

روزي خان وخندل :
- عمر يې اوږد دی، هغه ورځ مو هم ياد کړ د زنګ يې ګړنجا شوه، هله ور ورخلاص کړئ.
پاچا د روزي خان نبض وليد :
- تبه دې شته راځه دې دواخانې ته لاړ شو ګولی به درکړي
د روزي خان زګيروی شو:
- فاطمې ګولۍ راته راوړې وې
- يو په خپل سر دارو دي يو هم چې د دواخانې والا تا په خپلو سترګو وګوري
- اوس ناوخته نه دی
- اوس ښه وخت دی د مازديګر د لمانځه په وخت تر ډيرو ډاکټر نه وي
روزي خان ته پاچا کلک شو چې په بايسکل يې ورسره دوه پښته کړي، خو هغه ونه منله په خپل بايسکل يې پښه واړوله. د دوی له وتلو سره فاطمې مجاهد ترلاس ونيو. پارېږ يې ورته واخيستل، بيا راغله شنې دروازې ته ودريده. ور بند و. ويې ډباوه. اغا صاحب په خپله راووت دې د چاشت کيسه وکړه چې تراوسه يې د هغه اوبه په مومن نه دې څښلې . تعويذ ګر ورته وويل:
-کوشش کوه چې اوبه ورکړې که بيا هم چاره نه و بيا مجبوره يې چې سخت چاشت واخلې خو کار يې اسانه نه دی
فاطمې دعذر په غاړه ورته وويل:
- چې هرڅه وايي زه يې پر ځای کولی شم خو چې خدای جان ماته اولاد راکړي کنه بن راباندې راځي
- يو رنګ چاشت دی چې د شپې په مخه يې ميږه ته ورکولی شي زه دې څرنګه پوه کړم
د فاطمې سر په چادري کې ځوړند شو. سړي ورته وويل:
- دومره هم سخت نه دی زه به له چاشت سره ستا د وروځو درې ويښتان يوځای کړم، ته دې وريځې راښکاره کړه. فاطمې مخ لوڅ کړ. سړي د دې له

وروڅو یو ویښته کش کړ، ګوته یې د فاطمې پر مخ ولګیده، فاطمې وخندل.
سړي د برنډې شاته کوټې ته اشاره وکړه:
- ته دغې دروازې ته ورننوځه له دې کړکۍ راووځه
فاطمې بیا وخندل. سړي ورته وویل:
- چې زه درته وایم هغسې کوه
فاطمه کوټې ته ننوته، هلته د بتۍ بوی و، د کوټې په مینځ کې صندلی وه. اغا صاحب هم پسې ورغی، فاطمې ته یې وویل:
- په صندلۍ کې دې پښې وغځوه
فاطمه وچه ودریده. سړي اوف کړل، فاطمه دستې کښیناسته پښې یې وغځولې.
اغا صاحب هم پښې وغځولې، په بړستن کې یې د فاطمې سر پټ کړ.
کله چې فاطمه کورته راغله، مومن هم راغلی و. خواښې یې ورته وویل:
- شنډې بیشرمې اوس په خپل سر چیرې تللې وې ؟
فاطمه تکه سره اوښتې وه، خپلې کوټې ته تیره شوه، د چاشت د اوبو په ګیلاس کې یې سترګې وټومبلې، د ګیلاس اوبه یې لږ پرلاس وڅڅولې، بیا یې ګیلاس ته وکتل پراوبو خاورې ناستې وې، له کړکۍ یې اوبه توی کړې، په خپل ځای کې وغځیده.
مومن د دې خواته رامنډه کړه، مور له لاسه ونیو، دا له ځایه ونه خوځیده، مومن غاښونه ورته وچیچل :
- اوس په خپل سر بازاروته ځې
فاطمې په ټیټ غږ ورته وویل:
- مجاهد راته ویلو ، هغه ته مې پارپړ واخیست
مومن د مور لاس ټیله کړ فاطمه یې له ویښتانو ونیوله، هغې چیغه کړه ، روزي خان بړستن پراوړو راغی :
- څه شوي دي، بیا څه شوي ته بیا له کومه سورکنده راپیدا شوې؟؟
مومن له کوټې ووت، فاطمې ورو ورو ژړل ، خواښې یې وویل:

- مومن په خپل سر د بازار د تګ خبره ورته وکړه، دې يې د خولې پيښې وکړې.
د فاطمې سوړتک شو:
- ابا.. په خدای قسم.. ماپيښې..نه دې کړي. ما ورته وويل...مجاهد ته مې کيک، پارېږ اخيست دغه د کوڅې دخولې تر..دوکانه لاړو...هغه د..سرويښته راوشکول.
روزي خان خپلې ښځې ته ځيرشو :
- دغه ټوله بيشرمه ته يې، يوه دې نه ده دوه دې نه دې زوي دې د نړور غاړې ته وراچولې او نړور د زوي ترمنځ يې کانې ټکوې .
د ښځې يې سونګټ شو. روزي خان خپلې کوټې ته ولاړ، مومن ته يې وويل:
- زه ښه نه يمه دغه پاچا صاحب ته يو وار ته هم ووايه چې په دې بايسکل سازسهار سهار احوال اخلي که هغه د ايران سړی پيدا شو ، دغسې لاس تر ژنې که ناست و خدای شته چې کله به د سلطان ګل حال راځی
- زه له دفتره وختې د دغه لپاره راغلم ماويل په پاچا صاحب به هم حال واخلم که يې په پيښورکې څه کار و، د پنجشنبې په ورځ نو له خيره د موسسې موټر تيار تر تورخمه ځي که يې حال نه و له هغې خوا به هم پوښتنه وکړم که لا څوک ايران ته تلل.
پلار يې نسوار خولې ته کړل، زګېروی يې شو، بړستن يې پرسر ورکش کړه، ټوخي پسې واخيست.

د اسمايي پر غره توره وریخ راټیټه شوې وه، ورو ورو باران ورېده. فاطمه ورسي ته دریدلې وه. د باران له څاڅکو سره د تېرې خاورې راپورته شوي بوي ته يې سپږمې کش کړې. په کوڅه کې يو کوچنی چاغ هلك لوڅ لپړ ولاړ و، نورڅوك نه ښکاریدل ښکته په يوه کور کې يوه نجلۍ او يوهلك ښکاريدل چې سره خواله کوي. مومن يې سترګو ته ودريد، له ځان سره يې وويل « ماته خو يې دا هم ونه ويل چې څو شپې کوي...مرور و...» فاطمه پخلنځي ته ورغله د لوښو په کارتن کې د اور لګید دوه ډبیه ایښې و هغه يې ورسره راواخيستل، په خپله کوټه کې يې تر ګیلم لاندې کړل. د وره په خوله کې ورته ودریده، بیرته يې ورلګید راواخیست له ورسۍ يې هیسته واچول.
نیم ساعت به نه و تیر شوی چې لیلا وویل، چای دموم د اورلګید يو خلی هم نه شته
روزي خان وټوخیده:
- زه خو واله که د پورته کیدو یم، له دې ډوډۍ سره خو بیخي ګنګس شوم، ولې فاطمې ته نه وایې
لیلا د وره خواته اشاره وکړه :
- خپه نه شي
خسريې په توکدانی کې لاړې توکړې :
« ورشه ورشه هغه دې خدای خوشاله کړي ترهغو يې له تاسره رااخیستې وه چې سلطان ولاړ اوس يې په دې بلې مخکه سره کړې ده»
روزي خان وټوخل بیا يې پسې وویل:« هاغه فاطمې ته ورغږ کړه»
لیلا چې مخ اړاوه فاطمې وویل:
- څه خبره ده؟

- اورلګید نه شته ورشه رایې وړه
فاطمې چادري راواخیسته، مجاهد یې ورسره په مخه کړ. د کوڅې د برسر له دوکانه یې مجاهد ته ژاولې، کور ته اورلګید واخیستل.
د راتګ په وخت شنې دروازې ته له لرې ودریده، بیرته تیزه شوه، خو ور پرانیستی و بیا تم شوه. لاندې یې کوڅې ته وکتل، مجاهد یې له لاسه کش کړ د اغا صاحب پر کور ورننوته.
اغا صاحب د کوټې په وره کې و راچټک شو، پښه یې په بوټ کې بنده شوه، د برنډې ستن یې تکیه کړه. مجاهد شاته زور واهه، اغا صاحب راغی د مجاهد پر سر یې لاس تیر کړ. ورته ویې ویل:
- دچرګې هګۍ غواړې
مجاهد چیغې کړې:
- هو هو
اغا صاحب کوډلې ته ورتیر شو، لمن یې ورغبرګه کړه لاس یې تیټې کوډلې ته ورتیر کړ، یوه سره بخونه هګۍ یې راوایسته، پر هګۍ نښتې بڼې ته یې ورپو کړل، مجاهد ته یې ونیوله. دی په خپله له لیلا سره کوټې ته ننوت.
اغا صاحب ورته وویل:
- هغه ورځ بیرته ولاړې بله چاره نه لرې اولاد د میړه مربوط کیږي
فاطمې بړستن پر سر ورکش کړه. د مجاهد ژړا شوه. دې ژر ژر جامې په تن کړې. راووته، له هلک څخه هګۍ لویدلې وه. اغا صاحب کوډلې ته سر ورهیسته کړ، بله هګۍ نه وه. فاطمې مجاهد له لاسه ونیو. د هلک سلګۍ وې. فاطمې ایراني بسکټ ورته واخیستل. هلک غلی شو، په ارامه کورته ورسره ولاړ.
ماسختن د ډوډۍ په وخت مجاهد لاسونه پرانیستل:
- چرګه دونه هګۍ لري
فاطمې په ډوډۍ وراخیستې د قورمې مړۍ مجاهد ته ورپه خوله کړه ، روزي خان یې وپوښت :

- ابا نن ښه یې ؟
- ټوله ورځ مې زړه راډکیدو ، دوا قوي ده که څه خبره ده
- دادا به مې سهار راشي یوځلي سم ډاکټر ته ځان نه ورښکاروې ؟
د روزي ځان خوړېی شو ، ټوخي پسې واخیست ، دې اوبه ورته ونیولې .هغه د
دې لاس پورې واهه سر یې پر بستره تکیه کړ. سترګې یې پټې کړې.

په کوڅه کې کاغذونه او پلاستيکي کڅوړې شمال په سراخيستي وو، د تير مني سوړباد چليده، د روزي خان لاس پاچا تکيه کړی و، ډاکټر ته روان و.
په پل باغ عمومي کې چې روزي خان تردوهم منزله وخوت ستمايې ډيره شوه، پر زينو کښيناست. پاچا يې سر تکيه کړ. د روزي خان ساه لنډه لنډه کيده، ټوخيده. د ډاکټر کتنځی په څلورم منزل کې و. د انتظار په خونه کې د تينچر بوی ته. د يوه بوډا زګيروی شو، دا زګيروی د زنانه و له خوا د يوه ماشوم ژړا ورک کړ، ماشوم څه غوښتل بيا غلی شو. د پردې له شا د ډاکټر خبرې اوريدل کيدې چې ناروغ ته يې ويل « شما ازخود تشخيص ميکنن نه ميفهمين که برای معاينات بازپيش ما چرا رجوع ميکنن، محرمه نه ميارين حالي باز برای ما مشکلات خلق ميشه »
پرده پورته شوه، يوې ښځې ژر چادري په مخ راښکته کړه. د ډاکټرپياده روزي خان ته اشاره وکړه چې نوبت يې دی.
پاچا هم پر وره ورننوت، خو پياده لاس ورته ونيو:
-کجا ميري
-ای مريض مه است
پياده وخندل، په ډنګر مخ کې يې بيره اوږده ښکاره شوه:
-بچه نيست برو د جايت بشي
پاچا راپه شا شو. روزي خان د ډاکټر پر ميز د هغو ګوليو تش پاکټ کيښود چې ده خوړلې وې. ډاکټر پرته له دې چې دې پاکټ ته وګوري ده ته اشاره وکړه چې پر بستر څملي. روزي خان ټوخي واخيست، ډاکټر د ده لمن ورټوله کړه، غوږی يې د ده پر ټټر کيښود:
- ساه بنده کره اوس ژوره ساه واخله

روزي خان ورته وويل:
- همدلته چې دې ګوشه کي ايښې همدا ځای درد کوي
- د شپې خولې کوې؟
- په دې سړه هوا کې د شپې له خولو لوند خيشت يم
- سړه تبه دې وي
- هو يخ مې کيږي
- چې ټوخيږې بلغم ورسره راوځي
- راوځي
- بلغم داسې د سينې له منځه راوځي
- هو په خدای
- کله کله په وينو لړلې وي
- هو
- کښينه
داکتر د روزي خان ملا ته هم غوږ ونيوله. د ده ستوني ته يې څراغ واچاوه، د سترګو کڅوړې يې په لاس راکش کړې بيا يې يو څه وليکل، کاغذ يې ده ته ونيو:
- د سږو عکس واخله
روزي خان پاچا ته وويل:
- ډير ښه ډاکتر دی داسې ټکي په ټکي چې څه په ماتيريږي هغه يې راته وويل خو دوا يې رانه کړه دا کاغذ يې راکړ چې لاندې په دوهم منزل کې عکس واخلم
- صاحبه داسې ځای خو دې زه نه راولم وبه نه منې له پينوره يو مريض ورته راغلی و
روزي خان وټوخل، پر ټټر يې لاس کيښود:
- چې ټوخيږم دغه ځای مې زه وايم...

یوه ښځه له یوه سړي سره د ایکس رې له ځایه راووته. پاچا د عکس اخیستو کس ته پاڼه ونیوله هغه لاس ورته ونیو چې مخکې شي. روزي خان هم ورسره شو. سړي روزي خان ته وویل:

- خیریت

- بیچاره ښه نه دی

- دا یو کس بس دی

- هغه نور دې ولې پریښودل

- ړوند وې خو زنانه وه د هغې عکس مې څرنګه یوازې اخیستی وای

پاچا په دهلیز کې پټو ترځان لاندې کړ، خپله ږیره به یې په موټ کې نیوله، پریښوده، نیوله پریښوده چې روزي خان له عکس سره راووت. دوی چې پورته ورروختل چې ډاکټر ته عکس ورښکاره کړي ، د کتنځي وربند و، روزي خان ور ټیله کړ نه خلاصیده، له وره سره کښیناست، ستما یې شوه، پاچا ته یې وویل:

- دې زومړي ته خو بیا نه شم راتلای، حوصله نه شته

پاچا ساعت ته وکتل:

- اوهو د لمانځه وخت دی زاتي اذانونه کیږي لمانځه ته به ورشو چې راځو ډاکټر به راغلی وي

پاچا وټوخل، خولې ته یې پټو ونیو:

- زه خو ګام نه شم اخیستلی.... په اوداسه یم دلته به یې وکړم

- د امربالمعروف وال رانه شي

روزي خان ټټر ته لاس ونیو، بیا یې وټوخل:

- خدای که ګام اخیستلی شم.... ته ورځه لمونځ دې... کوه

پر زینو د پاچا د پښو لا ټک ټک راته چې اذان شو. روزي خان د معاینه خانې مخې ته پټو وغوړاوه چې نیت یې تاړه ټوخي پسې واخست، بیا بیا یې وټوخل، اخ تو یې کړل، ویني راغلې. پټو یې بیرته راټول کړ، خولې ته یې لاس ونیو، سر یې پر دروازه کیښود، لنډه لنډه ساه یې اخیسته.

د ډاکټر د کتنځي ور خلاص شو، روزي خان ډډه ورته وهلې وه په شا ولوید.

ډاکټر ورو ورته وویل:

- لمانځه ته نه وې تللی

روزي خان وټوخل. ډاکټر په وارخطایي ورته وویل:

- ما هم همدلته لمونځ وکړ راځه چې اول تا معاینه کړم

روزي خان ایکس رې ورته ونیوله. ډاکټر ایکس رې د څراغ رڼا ته جګه کړه. د دروازې غنګا شوه، پاچا راننوت. ډاکټر د روزي خان سرو ته غوږ ونیوله. تر هغه وروسته یې ایکس رې له ژې پورته کړه، بیرته یې کیښوده. قلم یې راواخیست، د شپږو میاشتو نسخه یې ورکړه، روزي خان ته یې وویل:

- دا دوا به نه قضا کوې، د ډوډۍ او څښاک لوښي به دې هم بیلوې

په کور کې روزي خان د چای ترپیالې تسبیح اړولې، فاطمې یې پیاله له مخې واخیسته بیخ یې د نوکانو پر رنګ ور سور کړ، د روزي خان کاسه یې هم وربیله کړه. روزي خان خپلې ښځې ته وویل:

ـ د کافر نسخه دیرش لکه کیده نیمه مې اوس واخیسته

- سړې ښه نه یې پیسې په دوا مه سپموه

- ته ودریږه که ورسره ښه شوم بیا به یې واخلم ډاکټر خو لاویل چې دوا به شپږ میاشتې خورې

ښځې یې خپل تندی پر یوه تور دستمال وتاړه:

-کاشکې یو وار پاکستان ته تللی وای هلته دې سم ډاکټر ته ځان ورښکاره کړی وای

- دا ډیر تکړه ډاکټر و داسې ټکی په ټکی زما له مرضه خبرو دغه خو یې لا راته وویل چې د شپې خولې کوم

فاطمې چیغه کړه :

- زیری مې درباندې، زیری ...

ټولو زینو ته ورمنډه کړه ، سلطان له مومن سره راغی ، روزي خان غیږ ورکړه .

موریې تندی تریو کړ، سلطان یې ورکش کړ ورپه غوږ شوه:

- واخ له دغه خوړپن سره پام کوه .

روزي خان سلطان ته وویل:

- په دې لنډه ډیره یې په لاره څه درته ونه ویل؟

- مومن له مرزه تر دې ځایه راسره راه بلد و

مومن، مجاهد ښکل کړ:

- ابا له قونسلګري مې خط ورته اخیستی و نور نو د خدای په توکل راورسیدو

روزي خان وټوخيده، په څلمځي کې يې لاړې تو کړې:

- وه مجاهده ! ته ورشه... پلار... ته دې

مجاهد دالانه ته منډه کړه ، ټولو وخندل. فاطمې په پتناسه کې د چای پيالې راوړې. سلطان ورته څيرشو، هغې پتنوس له وره سره کيښود ، ټکری يې پرسرسم کړ، ووته . سلطان روزي خان ته وويل:

- ماشا الله ښه ګلالی بيداره نجلی مو کړې

روزي خان بيا ټوخي پسې واخيست ، مومن پاڅيده فاطمې ته يې وويل:

- کوټه سره ټوله کړه لالا ته پکې ځای واچوه ستړی دی

فاطمې د خوابڼې کوټې ته د ځان او مومن بستره وايسته. مومن ورته وويل چې له ابا سره ويديږي.

فاطمې خپله غاړه وموښله:

- هغه خو ښه نه دی..

- چې څه وايم تر دې وروسته بايد هغسې وشي

فاطمې د مومن بستره د خسر ځای ته نژدې کيښوده. سلطان د ګروپ رڼا ته وکتل، مور يې ورته وويل:

- زويه په څه چورت کې يې؟

- داسې تياره څراغونه دي

- وی! داخو نن د تا له برکته خدای روښنايي کړې دوې شپې درې شپې وروسته يووار برق راخوشي کړي

- په اصفهان کې د شپې پس کوچې تردې رڼې وي

- زويه هغه پيښور هم ښه و دلته خو يې هاغه د برق سيمان لا شکولي دي

مومن ورته وويل:

- لالا د دې جوي شير برق يوفاز دی وزير اکبرخان دغسې نه دی، هلته ټوله ورځ برق وي او روښن

- اصفهان بيست وچهار ساعته سه فازدی، ټول ايران سه فازدی

- پاکستان هم کلي کلي ته برق لري

روزي خان پرې غبر کړل:

- تاسي دغه د پردو ملکو خبرې پرې پرېدئ ، سلطانه ته دې دغه جرابې وباسه پکې تنګ به يې

فاطمې پلاستيکي دسترخوان ته ټوکر ونيو، خواښې يې فاطمې ته وکتل:

- سلطانه پيسې شته که نه، لوی خرڅ مو مخکې دی

- هو ادې راحواله کړې مې دي سبا بله ورځ به راورسيږي

- لږ ډيرې پکار دي

- خدای مهربانه دی دغومره به وي چې چاره مو پرې وشي

فاطمې پر ټوکر لاس ونيو، خپلي خواښې ته ځيره شوه. هغې ورته وويل:

- لاس و پښې درباندې دريدلې دي، يو ساعت دې په صافي تير کړ

فاطمه اوچته پاځيده. دسترخوان يې تر تخرګ لاندې ونيو.

ليلا په پخلنځي کې پرخښته ناسته وه چای يې څښه. فاطمې ناولي لوښې د وينځلو لپاره ورته کوټه کړل، هغې ورته وويل:

-نن خو يې ته ووينځه

دې بد بد ورته وکتل. ليلا وخندل. د دې شاته سلطان و، فاطمه اړخ ته ودريده.

سلطان خپلې سپينې جرابې ليلا ته ونيولې چې اوبه پرې تيرې کړي

موريې هم پسې ورغله، سلطان ته يې غوږ ورنژدې کړ:

- له ابا دې لرې ګرځه سل دی دغه لغړ اخيستونی دی.

فاطمې دوی ته وکتل چې څه سره وايي. مجاهد پلاستيکي موټر په لاس رامنډه کړه، انا يې ليلا ته وويل:

- دغه ترې خوندي کړه ترسهاره به يې ټوکر ټوکر کړي وي

سلطان ورته وويل:

- مه يې کوه د دغه لپاره مې راوړی چې ساعت يې پرې تيروي

موريې سر وخوځاوه:

- « زويه ته خو په دغه خپل تخم داسې بنيرې » ټيکری يې پرسر سم کړ« دغه سپين بوټان دې څه کول په دې رنګ له خاورو ډک وطن کې؟»

- «ادې دغه رواج دي» بیا یې لیلا ته وویل:
- ته مې بیک راواخله په هغه کې مې سرپایانې شته
لیلا بیک ورته کیښود او دواړه کوټې ته ننوتل. د لیلا خواښې ځراغونه مړه کړل.
له لرې د سپیو غپا راتله، کله به رانژدې شوه، کله به بیرته لرې شوه.
فاطمه یوځل تشناب ته ولاړه بل ځل چې لتیده خواښې یې ورته وویل:
- پرې وخه نیمه شپه ده دا څوم وار دی چې له خوبه مې باسې
- سلطان ته دې ویل چې لوی خرڅ مو په مخ کې دی د څه شی خرڅ؟
- تر ما ته ښه پوهیږې پوښتنه ولې له ما کوې
- زما خو ماشوم کیږي
خواښې یې په اړخ واوښته مخ یې د دیوال خواته کړ:
- درواغځنې له خوبه مې مه باسه
سهار چې مومن دفتر ته ولاړ، سلطان له پلارو مور سره ناست و، مجاهد نه ورته، روزي خان ورته وویل:
- ته ورشه موټرک یې نه دی درته راړوی
سلطان وخندل. هلک په منډه له کوټې ووت، نژدې له لیلا سره ټکر شوی و، لیلا غږ لوړ کړ:
- پام پام چای راسره دی
مجاهد بوف بوف نارې کړې بلې کوټې ته ننوت. لیلا پیالې کنګال کړې، یوه پیاله یې ډکه کړه، سلطان هغه د خپل پلار مخې ته کیښوده، لیلا پیاله پورته کړه لاندې یې ورته وکتل:
- دغه د ابا نه ده دغه ستا ده
- اول یې ده ته ډکه کړه
لیلا د بلې تشې ناشکن پیالې بیخ ولید چې د نوکانو په رنګ سور و هغه یې روزي خان ته کیښوده. سلطان بالښت د خپلې میرمنې خواته لږ ورنژدې کړ، اشاره یې وکړه چې دده ورته ووهي. فاطمه چې د وره په خوله کې ناسته وه، لیلا

ته يې ځير ځير وکتل، هغې وخندل، سترګې يې ښکته واچولې. روزي خان له
پيالې غوړپ وکړ:
- هغه هلک ته ګوره چې نه راځي فاطمه هم دلته ده دغه يوه ګړۍ له فاطمې
دورې دورې کيږي نه خو نن په دې پسې هم نه ګوري
سلطان پاځيد، خپلې کوټې ته ولاړ.ليلا هم پسې ورغله. روزي خان لاس پر
تندي کيښود. ميرمنې يې د خامو وريجو دانې پر لاس يوې خواته کړې، يوه
لوټه يې ترې ايسته کړه، فاطمې ته يې وکتل:
- څه ته ناسته يې اوبه وايشوه دا دی وريجې درته پاکوم
فاطمه پخلنځي ته ولاړه. له څنګلورې کوټې د ليلا د خندا اوچت غږ راته.
فاطمې ايشتوب ته اورلګيد ونيو. خوابښې يې وريجې راوړې، ګيلاس يې پکې
ننويست، وريجې يې پيمانه کړې، يو ګيلاس يې ترې بيلې کړې، له ځان سره
يې وويل:
«اوف غلطه شوې ومه»
فاطمې ورته وکتل. خوابښې يې ورته وويل:
- کار دې کوه تا نه ښيم وريجې مې ډيرې رااخيستې وې.
فاطمې پياز ولړل. د پيازو جززا شوه. يو رومي بانجان يې په ولاړه پکې ټوټه
ټوټه کړ، ديګ ته يې ورواچاوه. بيا د ليلا خندا شوه.
خوابښې يې په لوړ غږ وويل:
- سلطان جانه څه شوې، زاتې غرمه ده هغه پلار دې هم يوازې پاتې شو
فاطمې دسترخوان کوټې ته ورسره يووړ. سلطان خپلې سترګې پر رغوي
وموښلې:
- ادې داسې ګنګس غوندې يم خوب مې نه پوره کيږي
روزي خان ساعت ته وکتل:
- دا ورځ داسې په منډه تيره شوه بيا د اذان وخت شو
سلطان د دروازې پر سر د ميوند عکس ته وکتل. مور يې ورته وويل:
- هديرې ته يې ورغلې

- دغه خبره دې کولو ده، مابښام کچه ګړی ته ورسیدم سهار اول هدیرې ته ورغلم دعا مې ورته وکړه دغه هدیره څومره لویه شوې په خدای د میوند خاک مې په سختي پیدا کړ
مور یې پر سترګو ټیکری تیر کړ:
- مومن راته ویلي چې دا وار دې خامخا بیاییم
- مومن کله څې ماته خو یې نه دې ویلي
- ما ورته ویلي دي چې دا وار به یوځای څو
فاطمې دسترخوان خپور کړ، خپلې خوابنې ته یې په اړخ وروکتل. هغې سلطان ته وویل:
- دغه اوس چې راتلې هسې په هسې د نورو له بیشرمي پاتې شوم خو دا وار شکر د مومن سترګې خلاصي شوې دي
فاطمه له کوټې ووته، لیلا په خندا ورته وویل:
- د سلطان شاته هغه غټ بالښت کیږده
فاطمې څه ونه ویل، کوټې ته تیره شوه، لیلا له شاپسې مخ واړاوه. فاطمې په کوټه کې
مجاهد ته وویل:
-ژاولې درته واخلم
مجاهد نارې کړې:
« ژاولې ې ې»
فاطمې یې پر خوله لاس کیښود. خو هلک مخ وخوځاوه، بیا یې نارې کړې:
« ژاولې»
روزي خان له کوټې نارې کړې:
- دغه هلک څه غواړي خو وریې کړئ
میرمن یې سر وخوځاوه:
- دغې بلې په بازاري ژاولو روږدی کړی
روزي خان غږ جګ کړ:

- راشه زویه ډوډی دې وخوره بیا ژاولې واخله
فاطمه له هلك سره راغله د دسترخوان څنډې ته کښیناسته. روزي خان سلطان او لیلا ته چې څنګ پر څنګ ناست وو، وکتل:
- نام خدا داسې زوی خدای درکړی چې یوه پاچاهي ارزي
مجاهد د فاطمې زنګون وخوځاوه:
- ژاولي ژاولي
روزي خان له جیبه زرګون راوایست. سلطان پورته شو، هلك یې له لاسه ونیو. فاطمې ورته وویل:
- لالا ته یې مه بیایه دلته له جومات سره د امر بالمعروف موټر هره دقیقه تیریږي
خواښې یې ورته وویل:
- زویه رښتیا دغه لغړ لکه لیچنه ګوته ګرځي راګرځي مه وروځه
سلطان پر خپله ډیره لاس تیر کړ:
- نو تر کله به دغسې بندي یم
لیلا وخندل، مجاهد چیغې کړې:
- ژاولي
نیکه یې فاطمې ته مخ ورواړاوه، خو ژاولې ته ورته واخله هلك له ژړا مړ شو.
فاطمې مجاهد له لاسه ونیو. مجاهد نارې کړې:
- هګۍ هم غواړم
فاطمې ژر له کوټې وایست. خواښې یې پسې غږ کړ:
- مخ دې د بلا په مخه شه چې نازونه دې نه خلاصیږي
فاطمې شاته وکتل، خواښې یې پسې وویل:
- خو روږدی کړی دې دی هلك څه پوهیږي
فاطمه په منډه منډه له مجاهد سره پر زینو ښکته شوه. هلك ټوپونه وهل، فاطمې یې لاس ټینګ کړ. د شنې دروازې مخې ته چې تیریدل، فاطمې ور لږ پورې واهه. دروازه خلاصه وه، خو بهر یې له لرې پر یوه تورپټکي سترګې ولګیدې. دې مجاهد ورپسې کش کړ، هلك د شنې دروازې خواته زور واهه:

- هگی غواړم هگی غواړم
لیلا لږ کړوپه شوه:
- ژاولې درته اخلم
هلك چیغې کړې:
- مور ته مې وایم هگی نه اخلي
- چې ژاولې واخلم بیا هگي هم درکوم
هلك په ژړا شو. فاطمې په ځان پسې راکاږه. مجاهد رینگه وکړه:
- مور ته مې وایم مور ته مې
فاطمې پټکه پرې وکړه:
- په خدای کې هیڅ شی درته واخلم
مجاهد چیغې کړې د فاطمې لاس یې خوشي کړ، پرمخکه کښیناست. په خاور کې یې پښې ژر ژر ووهلې. هغه د تور پټکي سړي دوی ته کتل. فاطمې هلك راپاڅاوه، په غوږ کې یې ورته وویل:
- بم بم کیك او ژاولي درته اخلم
- هگی
- بیا خو هگی درکوم
هلك غلی شو. لیلا ژاولې ورته واخیستې هلك یې لاس پورې واهه نه یې اخیستې:
- بم بم
فاطمې کیك هم ورته واخیست. هلك نه غلی کیده، هگی یې غوښته، فاطمې له لاسه ونیو راځه اوس هگی درکوم. د شنې دروازې څنگ ته مجاهد بیا زور وواهه، فاطمې شاته وکتل هغه د تور پټکي پر سړي یې سترگې ونه لگیدې، نو چادري یې له مخه پورته کړه، ژر پر کور ورننوته. مجاهد کوډلې ته ورمنډه کړه، د چرگانو کغا شوه. فاطمه کوټې ته ورتیره شوه، اغا صاحب ورته وخندل:
- دروازه دې پورې کړه
- لکه چې

اغا صاحب ایستلي واسکټ ته لاس وراوږد کړ:
- زه به دروازه وګورم
فاطمې د سړي لاس کلک کړ:
- پورې مې کړه
سړي بړستن پر سر راکش کړه.
بهر مجاهد په خاورو سپیره له کوډلې راووت. دوې هګۍ یې په لاس کې وې.
د کوټې خواته راغی فاطمه یې ونه لیده. د کوځې خواته روان شو، دروازه یې پرانیسته. شونډې یې بوخې شوې. د تور پټکي سړي یې پر سر لاس تیر کړ:
- دا مو کور دی
هلک په ژړغوني غږ وویل:
- نه
د تور پټکي سړي مخابره خولې ته ونیوله. ډاټسنه راغله، طالبان د اغا صاحب کور ته ورننوتل.
نارې شوې امربالمعروف « له ها خوا ..اې اې ..ها خوا ..خوا هغه ده دورې دورې ...صندلی کې ...»
یوه طالب اغا صاحب په خټ کې پر سوک وواهه، بل وویل:
- خپله سیاسره یې پاکستان ته لیږلې
مجاهد چیغې وهلې. د فاطمې چادري په لاس کې وه. ویښته یې ببر ښکاریدل.
طالب پرې چیغه کړه:
- مخ دې پټ کړه.......
روزي خان غبرګ لاسونه پر دروازې ایښي وو. له وینو ډک بلغم یې پر شنې دروازې څڅیدل. تش غولي ته یې کتل
- څرنګه به شي ؟؟؟
- سنګسار...سنګسار ...سنګسار ...سنګسار......